د پښتو اشتقاقونه
او
ترکیبونه

مؤلف

صدیق الله رښتین

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم چاپ 1383 ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پ تو ولن د خپرون لمبر (81)

دې کتاب په 1324 ک د
اقتصاد اوله درجه جایزه وؤې ده.

د پښتو
اشتقاقونه او ترکیبونه

لیکونکی:

صدیق الله "رښتین"

لومړی چاپ 1326 ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم چاپ 1383 ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ټولنې له خوا

پښتو ټولنه د خپلو خپرونو په سلسله کې د ښاغلي فاضل پښتون صديق الله خان رښتين دا ګټور او علمي اثر په ډېره مينه لوستونکو ته وړاندې کوي او ښاغلي رښتين ته پر تبريك ويلو برسېره د پښتو ژبې او پښتون قوم د نور زيات خدمت توفيق غواړي.

عبدالروف بېنوا
د پښتو ټولنې عمومي مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب پېژندنه :

د کتاب نوم :-	د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه
ليکوال :-	لوی استاد پوهاند صديق الله رشتين
مهتمم :-	پوهندوی ډاکټر زرغونه
	(د لوی استاد علامه پوهاند رشتين د څېړنو ادبي ټولنه)
چاپ او خپرونکی :-	د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز
کمپوز او ډيزائن :-	د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز
	فليټ نمبر 314، دريم پوړ، ګل حاجي پلازه يونيورسټي روډ پېښور
لومړی چاپ :-	1326 ل (پښتو ټولنه)
دويم چاپ :-	1383 ل، 2004م

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دي کتاب د مضمونونو فهرست

مخ	مضمون	شماره
الف	د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه (دويم چاپ)	1
بي	د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه	2
تي	اعتذاز	3
ثي	تقريظونه	4
1	لومړنۍ خبري	5
5	د ژبو رغونه	6
6	د کلماتو ډولونه	7
8	د کلمو لفظي قسمونه	8
9	د لغاتو معنوي قسمونه	9
12	د لغاتو او معنا ترمنځ مناسبت	10
15	د لغاتو لفظي تغيرونه	11
18	د کلماتو په جوړونه کښي د نومونو درجه	12
20	د کلماتو د جوړولو صورتونه او قسمونه	13
27	اشتقاق او ترکيب	14
29	د کلماتو په اشتقاق کښي ځيني قاعدي	15
31	د پښتو د کلماتو جوړونه	16
31	لومړی برخه - اشتقاقونه	17

(c) ketabton.com: The Digital Library

33	د نومونو اشتقاق او جوړونه	**18**
33	فاعلي او نسبتي لاحقې	**19**
44	ظرفي لاحقې	**20**
48	د ښارونو او ځايو د نومونو لاحقې	**21**
49	تصغيري لاحقې	**22**
52	د اسم صوت لاحقې	**23**
مخ	مضمون	شماره
53	مصدري لاحقې	**24**
60	د حاصل مصدر پسينه توري	**25**
65	د آلې د نوم لاحقې	**26**
66	د صفاتو جوړونه	**27**
68	د نسبتي صفاتو لاحقې	**28**
83	د فعلي صفاتو لاحقې	**29**
88	د مجردو وصفونو لاحقې	**30**
94	د افعالو اشتقاق	**31**
96	د افعالو د ا شتقاق پسينه او سرينه	**32**
99	دوهمه برخه – ترکيبونه	**33**
99	د سرينه علامو په واسطه د کلمو جوړونه	**34**
104	د مصدر او فعل جوړولو سابقې	**35**
105	له مستقلو الفاظو څخه د کلمو جوړونه	**36**
106	مرکب نومونه	**37**
106	غير فعلي نومونه	**38**
112	د فعلي نومونو ترکيب	**39**
114	مرکب حاصل مصدرونه	**40**
115	مرکب صفتونه	**41**

(c) ketabton.com: The Digital Library

118	مرکب فعلونه	42
118	حاليه افعال	43
121	ماضيه افعال	44
124	مرکب قيود او ادوات	45
126	مرکب عددونه او ضميرونه	46
127	د الفاظو تکرار	27
127	د الفاظو تکرار د تاکيد دپاره	28
129	د الفاظو تکرار د يوې معنا دپاره	29
مخ	مضمون	شماره
130	د کلماتو د ترکيب لفظي او معنوي حالتونه	30
136	د مؤلف نور آثار	31

يادونه : په دې کتاب کښې تقريباً تولې (**217**) لاحقې او (**35**) سابقې راغلې دي. د نومونو لاحقې (**106**) او په دې ډول دي.
فاعلي او نسبتي **32**، ظرفي لاحقې **26**، تصغيري **14**، د اسم صوت **4**، مصدري- حاصل مصدر **24**، د اسم آلې **3**، د صفاتو لاحقې **104** او دا دي :
د نسبتي صفاتو لاحقې **70**، د فعلي صفاتو **9**، د مجردو اوصافو لاحقې **25**، د افعالو لاحقې **7** دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د پښتو اشتقاقونه ا و ترکيبونه"

دويم ځل چاپ

پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه د پښتو ژبې د زده کړې په برخه کې هغه علمي او غني اثر دی، چې ارواښاد پوهاند صديق الله رښتين ليکلی او د وخت د پښتو ټولنې د خپرونو په لړ کې په 1326 هـ.ش کال د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شويدی.

څنګه، چې دغه ګټور اثر له يوې خوا د پښتو ژبې له مينه والو او څېړونکو سره د خپلې ملي ژبې په څېړنه او زده کولو کې زياته مرسته کولی شي او له بلې خوا دا کتاب ډېر پخوا چاپ شوی دی او اوس ناياب دی، نو له دې امله د پښتو ژبې او ادب د پوهنځيو محصلين او محققين له زياتو ستونزو سره مخامخ دي.

"د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز" د دغه مرکز د موسس او د پښتو او پښتونولۍ د خدمتګار محترم امام الدين ساپي په لارښوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ګټور کتاب د ستر پښتون محمد ګل مومند بابا د ځلوېښتم تلین په ویاړ، چې د نړیوال سیمینار په ترڅ کې د روان کال د اسد په (27) نېټه د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز له خوا لمانځل کېږي. د پوهنتون محصلینو، څېړونکو او مستشرقینو د استفادې لپاره خپروو.

مونږ دا خپل ویاړ بولو، چې د لوی استاد پوهاند رښتین دغه ګټور علمي اثر په داسې وخت کې خپروو، چې د لوی پښتون مومند بابا د سیمینار د لمانځلو په درشل کې یو. هیله من یو، چې د دغه ستر پښتون او د پښتو د لوی خدمتګار د نړیوال سیمینار په مناسبت نور کتابونه هم خپاره او د ده سپېڅلي روح ته یې ډالۍ کړو.

عبدالروف "قتیل" خوږیانی
د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز مشرکتونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه

دا ګټور او علمي اثر په ژبپوهنه کې د لغت پوهنې په برخه کې خورا ارزښت ناك اثر بلل کېږي، په خاصه توګه په پښتو ژبه کې لومړنی ابتکاري ژبنی اثر دی، چې د کورنیو او بهرنیو ختیځپوهانو، ژبپوهانو او څېړونکو پاملرنه یې ځانته رااړولې ده او د پښتو ژبې د لغاتو د جوړښت او رغاونې په باب یو قوي او معتبر ماخذ ګڼل کېږي.

معلومه خبره ده، چې د یوې ژبې د لغاتو پلټنې او څېړل او د هغې د جوړښتونو معنوي او لفظي ځانګړتیا او ښیګڼو رابرسېره کول ډېر کړاوون او ماغزه ویلي کول غواړي، خو سره د دې ټولو ستونزو، د دې کار تاداو ایښودل او په دې لاره کې لومړی ګام اخېستل د قدر او ستاینې وړ کار دی.

د دغه علمي کار په ارزښت هغه څوك پوهېږي، چې د دې لیارې له لوړو ژورو څخه خبر وي. د دې کتاب د اهمیت او ارزښت په برخه کې ډېرو ژبپوهانو، ادیبانو ځانګړې نظریې څرګندې کړې دي او د دې اثر علمي ارزښت یې ښودلی دی.

ارواښاد پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د ژبپوهنې غښتلی استاد، د ارواښاد لوی استاد علامه پوهاند رشتین د درېم تلین په یاد غونډه کې د نومورې د نورو آثارو د یادولو په ترڅ کې دغه اثر یو شهکار بللی او د بیا چاپولو سپارښتنه او ټینګار یې کړی و، ځکه دغه کتاب اوس نه پیدا کېږي، ولې چې دا کتاب ډېر پخوا لیکل شوی او اوه پنځوس کاله مخکې چاپ شوی و. چاپي نسخې یې نه میندل کېږي. د څېړونکو اړتیا ورته ډېره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلـه د يـادولو وړ خبـره دا ده، چـې (پښتـو اشـتقاقونه او ترکيبونـه) د کابل پوهنتـون د ژبـو او ادبيـاتو د پـوهنځي پښتـو څانګـه کـې د تعليمي نصاب په کريکولم کې شامل و يعنې د لغت پوهنې درسي کتاب و، چې لـوی استـاد اروابـاد پوهاند رشـتين پخپلـه د دغـه مـضمون تـدريس هـم کاوه.

بل اساسي ټکی چې دلته يې يادونه ضروري ده، هغه د نـوي عـصر د غوښتنـو او ايجـاداتو لـه بهيـر سـره سـم پـه ژبـه کـې هـم د نويـو لغـاتو (نيولوګيزمونو) اړتيا ده، چې په دې توګه دا کتاب لـه ښاغليو ليکوالـو او څېړونکو سره د پښتو ژبې د نويو لغاتو پـه جوړونـه رغاونـه او کارونـه کې د بنيادي ماخذ په توګه مرسته کوي.

څنګـه چـې اوس د دغـه علمـي اثـر بيـا چاپـېدلو تـه اړتيـا ډېـره ليدلـه کېږي، نو د لوی استاد علامه پوهاند رشتين د څېړنو ادبي ټولنې په دې موقع وغوښتل چې د اروابـاد لوی استاد علامه پوهاند رشـتين د پـنځم تلين په مناسبت دغه قيمتي اثر بيا چاپ او پـه يـاد غونـډه کـې يـې مينـه والو ته ډالۍ کړي.

همدارنګه په دويم ځل چاپ کې د مينه والو او څېړونکـو د استفادې له پاره د لوی استاد د نـورو نويـو آثـارو فهرسـت هـم پـه پـای کـې وړانـدې شوی دی.

د دې کتـاب د چـاپولو پـه پروسـه کـې "د سـاپي د پښتـو څېړنـو او پراختيا مرکز" د خپلې ملي پاليسۍ له مخې پوره پوره مرسته کړې ده او کتاب د دې مرکز په مالي لګښت چاپ شو.

پـه دې توګـه دوی تـه کـورودانی وايـو او پـه دغـه لاره کـې د لازيـاتو برياليتوبونو په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهندوی ډاکټر زرغونه – رشتین. زیور
د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي
د پښتو څانګې د ژبپوهنې استاده
1383 ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتذار

لکه څنګه چې هر یو کار په اول کښې نیمګړی او ناقص وي، زما دا کتاب به هم نیمګړتیا او تېرو تنو څخه خالي نه وي.
تول ژبنی او په تېره د کلماتو د راویستنې او نښلونې بحثونه زیاته پلټنه، څېړنه او پوره پوهه غواړي. زه په خپله بې وسۍ او کمزورۍ داده یم، او کوم شی چې زما دا بې وسي او کمزوري زیاتوي؛ هغه د پښتو ژبې اصلي نیمګړتیا او د کتابونو او آثارونشتوالی دی. مګر سره د دې، د دې کار لومړی تادو اېښوول او په دې برخه کښې ړومبی ګام اخیستل د ویاړنې او خوښۍ سبب بولم.
دا کتاب هر څه چې وي ښه وي که نا ښه، نیمګړی وی که پوره، لاکن، بیا هم کېدی شي چې د پښتو ژبې د اشتقاق او ترکیب په برخه کښې د نورو څلمیانو او پلټونکو د پاره یوه لارښوونه شي، او په ځینو وختو کښې ورځنې د شونتیې او لیت کار واخلي.
باور وکړئ چې په دې کتاب کښې ما دومره کړاو او زحمت ویستلی دی چې د سر ماغزه یې را لـه خوټکولي دي. د دې زیار او کړاو اندازه یوازې هغه چا ته معلومیدای شي، چې د دې لیارې لـه لوړو ژورو او کندو کپرو څخه خبر وي.
دا کتاب تقریباً زما د نهولسو کالو د پلټنو او څېړنې محصول دی چې نن د کتاب په شکل د پښتو مینانو ته وړاندې کېږي.
که څه هم اصل کتاب په 1324 کال کښې کښل شوی و ، مګر وروسته پکښې ان د چاپېدو تر وخته پورې نور معلومات زیات شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د دې هم امید لرم چې پښتانه پوهان بـه زمـا تېروتنو تـه پـه ښـې سترګه وګوري او د خپلې پوهې په مرستـه بـه زماخطا وې سمې کاندي.
په دې کتـاب کښې چې لـه کوم ځایـه اخیـستنه شوې ده پـه دننـه کتـاب کښې ځای په ځای حواله ورکړ شوې ده، له دې کبله مو ماخذونه جلا ونه ښودل.

صدیق الله رشتین
د مطبوعاتو په ریاست کښې
د نشریاتو د لومړۍ څانګې مدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظونه

دا کتاب چې ځينو پښتنو پوهانو د جايزې د ټاکلو په وخت کښې ليدلی و. نو خپلې نظر يې په وروسته ډول ښکاره کړي دي. مونږ دا تقريظونه خالي د دې د پاره خپروو چې دا را ته يو نوی شی ښکاري او په حقيقت کښې د يو نوې ور پرانيتنه ده:

1- دا کتاب ما وليد ، د مؤلف زحمت د قدر وړدی. په دې سلسله کښې يې ښه او کافي معلومات ټول کړي او په يو ښه ترتيب يې تدوين کړي دي. البته چې په جزئياتو کښې مې زيات غورو نکړی شو چې صحت او نه صحت يې پوره معلوم شي.

(شمس الدين مجروح)

2- دا کتاب د پښتو په ګرامري مسايلو بحث کوي او د ژبې په باب کښې ښه مفيد معلومات لري. کتاب مفيد او د چاپولو وړ دی، که څه هم ځينی مسايل به يې اتفاقي نه وي او هر څوك به پکښې بېله رايه ولري مګر دا د ښاغلي موءلف ګناه نه ده بلکې د موضوع اقتضا ده چې د يوې ژبې ګرامر ليکل په لومړيو مرحلو کښې همدغسې وي او تقريباً ظنی بلل کيږي.

د پښتو په ګرامري حصه کښې ښاغلي رشتين ډېره موده غور او فکر کړی دی او په دې باب کښې دښه صلاحيت خاوند دی.

)

ګ

ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پ
ا
چ
ا

ا
ل
ف
ت
(
.

3- د پښتو اشتقاقونو کتاب مې ولید، یو ښه کتاب دی. د ښاغلي رشتین د څو کالو د تتبع او پلټنې نتیجه ده چې په دې لار کښې یې کړی دی.

(عبدالرؤف بېنوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنۍ خبرې

کله چې د قدرت اراده په دې وشي چې يو قام ويښ او د لوړتيا په لاره روان کاندي نو ړومبی په هغو کښې د بيدارۍ يو غير شعوري حرکت پيدا کړي چې دا حرکت وروسته بيا قوي او مخ په زياتېدو شي.

د يو قام د ويښېدو مثال هم لکه د يو ويده سړي دی چې لومړی پکښې لږ لږ حرکت پيدا شي او بيا وروسته پوره بيدار او ويښ شي.

مګر د يو قام بيداري او ويښتوب هله قوي او پوخ وي چې پر ادبي بيدارۍ باندې بناوي– ادبي نهضت او ويښتوب د ټولو نهضتونو تادو او اساس دی – دا نهضت داسې مثال لري لکه د روح چې په يو کالبوت کښې وپوکلی شي او هغه ته نوی ژوند ورکاندي. هر ملت او هره جامعه چې بيداريږي نو لومړی پکښې د ادب او ژبې نهضت را پيدا کيږي.

که چېرې دغه نهضت يې قوي او په صحيحو اصولو وي نو نورې سياسي او اجتماعي بيدارۍ يې هم په برخه کيږي او که نه – نو دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرکت او بيداري بيا په خوب او چوپتيا بدليږي. دغه د ادبي نهضت دورې ته د ويښتوب او رنساس دوره وايي.

دا دوره په هر چا راځي او هر څوك ترينه ګټه اخستلای شي، مګر هله چې بيدار او ويښ وي او د ژوندانه په ډګر کښې په همت، مړانه، عزم او اراده پښې او لاس وخوځوي. د يورپ دا موجوده ترقۍ او لويې کاميابۍ لکه چې ګورو د "رنساس" د دورې له وخته شروع شوي دي. د دغې دورې لومړی تادو او اساس هم ادبي نهضت او بيداري وه. ولې تر څو چې د يو قام ادب نوی او ژوندی نشي نو تر هغې پورې په هغه قام کښې نوی روح را پيدا کېدل ګران او مشکل دی. دلته زه د نورو قامونو د بيدارۍ تاريخ نه بيا نوم بلکې غواړم چې د پښتنو بيدارۍ ته څه نه څه اشاره وکړم.

دا معلومه ده چې پښتانه له ډېر پخوا څخه د بيدارۍ په لارو روان شوي دي او له قديم څخه يې په مرکزي آسيا کښې د خپلې پادشاهۍ "واکمنۍ" توري او حکومت نامه ځرګنده ساتلې ده، زما نه به هيڅکله د غياث الدين غوري، شهاب الدين غوري، سلطان بهلول لودي، شير شاه سوري، حاجي ميرويس، احمد شاه بابا، تيمور شاه او داسې نورو پښتنو بادشاهانو نومونه او کار نامې هېرې نکړای شي، مګر دومره خبره ده چې د دې سياسي بيدار يو په نسبت يې ادبي بيداري کمزورې وه، يعنی څومره چې لازم وو په هغه اندازه يې دې خواته فکر نه دی راګرځولی، همدا وجه ده چې کله نا کله يې په سياسي ژوندون کښې هم کمزوري راغلې ده او د واکمنۍ واګې ترې د نورو لاس ته ورغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې د مخه مو وویل د ژبې او ادب بیداري د هر قام د لوړتیا د پاره یو ضروري او لازمي رکن ګڼل کیږي. دا منو چې د پخوانو سوریانو او بیا د غوریانو پښتنو په وخت کښې لږو ډېر ادبي نهضت پیدا شوی وُ. او بیا وروسته د هوتکو او سدو زو د پاچاهانو په عصر کښې هم د پښتو د ژوندانه رڼا موجوده وه مګر خبره دا ده چې دا رڼا په قوي او پرله پسې صورت هیڅکله نه ده پاته شوې؛ نو ځکه تر اوسه د پښتنو په علمي او ادبي خوا کښې ډېرې نیمګړتیاوې موجودې وې.

مګر له ښه مرغه چې دغه نیمګړتیاوې هم اوس پوره کیدونکې دي ځکه چې له څو کالو څخه په پښتنو کښې یو قوي علمي او ادبي نهضت پیدا شوی دی. د دې ادبي نهضت تاریخ غالباً له (1300ه) را په دې خوا دی مګر زیات قوت یې د (1350ه) نه وروسته موندلی دی. په دې وخت کښې د افغانستان یو تدبیري او پوه پاچا اعلیحضرت محمد نادر شاه دغې نیمګړې تیا ته متوجه شو او د پښتو ژبې د ژوندانه او نوي نهضت تیره یې کیښوده چې دغه نهضت تر اوسه پورې په ښه صورت جاري او روان دی.

دا ښکاره ده چې د ژبې او ادب لوړتیا د یو قام او ملت په لوړوالي کښې پوره تاثیر او اغیزه لري او د یو ملت د سیاسي ژوند د پاره علمي او ادبي ژوند هم حتمي او لازمي شی دی. د ژبې ژوند او لوړتیا دا ده چې هغه ژبه یوه علمي او ادبي ژبه شي، په ټولو خلکو کښې عاموالی پیدا کړي او د خپل قام ټول احتیاجات پوره کاندي. اکثرا پوهان وایي چې د ژبې یووالی او لوړتیا د ملت د لوړتیا او یووالي د پاره یوه لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسیله ده. نو څوك چې د ملت د لوړوالي او درناوي آرزو من وي، باید چې د خپلې ژبې د لوړتیا او ترقۍ په لار کښې هم پوره زیار وباسي او خپله ژبه د هر قسم مطالبو د ځایېدلو او بیا نولو د پاره تیاره او لایقه کاندي.

دا یقینی ده چې د چا ژبه ناقصه او نیمګړې وي هغه له علم څخه هم فایده نشي اخستلای او نه هغه په خپله ژبه کښې علمي موضوعات بیانولای شي ځکه چې الفاظ او عبارات د معانیو او مطالبو لوښی او ظرفونه دي. لومړی باید لوښی وسیع اوارت کړای شي او وروسته پکښې بیا یو شی واچولی شي. دا وجه ده چې زه د پښتو ژبې د خدمت په لار کښې د پښتو ګرامري، لغوي، اشتقاقي او داسې نور خدمتونه وړاندې بولم او همیشه غواړم چې په دې برخه کښې یو څه خدمت وکړم.

له دې نه مخکښې مې هم په دې لړۍ کښې ځینی ګرامري کتابونه او نور لیکلي دي او اوس غواړم چې د پښتو د اشتقاقاتو او ترکیباتو په باره کښې یو څه ولیکم خو لومړی غواړم چې د ژبو عمومي تشکیل او رغاونې په خو او شا کښې لړو ډېرو غږیږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژبو رغونه

د ژبو پوهان د يوې ژبې د تشکيل، ساختمان او رغاونې د معلومولو او ښودلو د پاره د دې وروسته شيانو څېړنه ضرور بولي:

1- هغه آوازونه چې الفاظ او کلمات ور څخه جوړ شوی وي چې هغه بيا پر اصلي او امدادي آوازونو وېشل کيږي، اصلي آوازونه ته په پښتو کښې "بی غږه توري" او امدادي آوازونو ته "غږيز توري" وايو. اصلي توري په پښتو کښې دا دي: (ب، پ، ت، ټ، ج، چ، خ، ځ[1]، څ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ك، ګ، ل، م، ن، ڼ).

او امدادي توري دادي : (ا، و، ه، ی) نو په دغه حساب د پښتو ټول مفرد آوازونه (**30**) دي، په بل عبارت د پښتو الفبا له (**30**) تورو څخه مرکبه ده او د پښتو ټول الفاظ او کلمات هم له دغو غږونو او تورو څخه جوړ شوي دي.

2- هغه شکلونه دي چې دغه آوازونه په ليك کښی وښيي، يعنی د تورو او غږونو تحريري اشکال لکه چې وړاندې مو وليکل.

3- د مخصوصو اصولو لاندې د حروفو تبديل او تغير.

---

(1) **د دې توري آواز پخوانی او نسبت (ز) ته ثقيل دی، ليکن دا شکل نوی پيدا شوی دی. پخوا (څ) وء د (ځ) په صورت هم ليکل شوی دی. م ر دا موجوده شکل غوره او بی التباسه دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

4- د کلمو او الفاظو تشکیل او جوړول.

په مجمل طور سره د یوې ژبې د رغاونې او تشکیل په بحث کښې غټې، غټې ټکې دغه وو چې بیان شول، مګر د جزئیاتو په لحاظ د دې بحث لمن ډېره اوږده او لویه ده. مونږ په دې کتاب کښې غواړو چې په (4) ماده یعنی د پښتو ژبې د کلماتو په تشکیل کښې څېړنه وکړو، ځکه چې همدا برخه یې مهمه او ضروري ده. لکه چې ښکاره او ثابته ده په هره ژبه کښې له مفردو آوازونو څخه کلمات جوړېږي او د کلماتو له یو ځای کولو او ترکیب څخه عبارات او جملې لاس ته راځي. جملې او عبارتونه د یو بل د پوهولو راپوهولو ذریعه او وسیله ده چې په دې واسطه خلک یو بل ته خپل فکرونه او مقصدونه ښکاره کوي. دغه جملې او عبارات که چېرې په تلفظ او وینا کښې استعمال شي تقریري ژبه او که چېرې ولیکل شي تحریري ژبه بلل کیږي. مقصد دا دی چې ژبه د عباراتو او جملو د استعمال نوم دی او عبارات او جملې د کلمو او الفاظو له ترکیب څخه جوړېږي نو په دې لحاظ د کلماتو د جوړښت او پېژندنې بحث د ژبې په بحثونو کښې یو ضروري او حتمي بحث دی.

د کلماتو ډولونه

هغه لفظ چې د یوې معنا د ښکاره کولو د پاره له خولې څخه وځي کلمه بلل کیږي چې په پښتو کښې ورته "ویی" وایو. مونږ د یو بل د پوهولو را پوهولو او مطلب ښکاره کولو د پاره د کلمو او الفاظو له یو ځای کولو څخه کار اخلو نو ځکه زمونږ په خبرو او جملو کښې ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلمې استعمالیږي، دغو کلمو ته د ګرامر په اصطلاح د کلام اجزاء یا د کلمو قسمونه وایي. په پښتو کښې د کلمو قسمونه دا دي:

اسم – ضمیر – صفت – **فعل**- قیود – ادات

1- اسم هغه کلمه ده چې پر یوه پوره او ځانله معنا دلالت کوي او زمانه ترې نه معلومیږي. په بل عبارت اسم هغه کلمه ده چې د یو شي، یا یو کیفیت نوم وي لکه سړی، لرګی، وېره او داسې نور.

2- ضمیر: هغه کلمه چې د اسم په عوض استعمالیږي ضمیر باله شي لکه "زه، ته، دی" او داسې نور مثلاً په دې جمله کښې (دی راغی) " دی" د سلیم پر ځای استعمال شوی دی.

3- صفت : صفت هغې کلمې ته وایي چې د یو اسم حالت او څه رنګوالی بیانوي. په بل عبارت د یو ذات پر یو وصف باندې دلالت کوي لکه "تور، پوه" چې په دې جملو کښې (دا تور قلم زما دی- سلیم پوه سړی دی_ د قلم او سړی یو حالت او وصف بیانوي.

4- **فعل**: **فعل** هغه کلمه ده چې پر یوه کار او کړو دلالت کوي او زمانه او وخت ترې هم معلومیږي لکه (ځي، ځي به، ولاړ) اوله کلمه په موجوده زمانه او دوهمه کلمه په آینده زمانه دریمه کلمه په تېره زمانه کښې د تللو په فعل دلالت کوي.

5- قید: هغه کلمه چې دا سم، **فعل** او صفت سره د معنا د مقیدولو د پاره استعمالیږي قید بلل کیږي. لکه چې په دې جملو کښې (نا څاپه راغی – بیا ژر ولاړ) " ناڅاپه او ژر" د **فعل** قیود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6- ادات : هغې کلمې ته وايي چې ځانله پوره معنا نه لري مګر د نومو او افعالو سره يوه معنا ورکوي لکه "له، ته" چې په دې جملو کښې يې " زه کور ته ځم – سليم له کوره راغی" د ارتباط معنا ورکړې ده.

دا شپږ واړه قسمونه بيا په خپل منځ کښې هم د معنا او هم د لفظ په لحاظ نور نور اقسام لري چې د ټولو بيان د دې ځای کار نه دی، خالي ځينی قسمونه يې چې زموږ د وروسته بحث سره، ارتباط لري په لنډ ډول بيانيږي.

د کلمو لفظي قسمونه

ټولې کلمې د لفظ او ظاهر په لحاظ اول پر بسيطو او مرکبو او بيا پر جامدو او مشتقو کلمو وېشل کيږي او په دې وروسته ډول دي:

1- بسيطې کلمې هغه دي چې له يوه جز څخه زيات اجزا نه لري لکه (لرګی – زه – پوه – وليد – ژر – له) او داسې نور.

2- مرکبې کلمې. هغو ته وايي چې دوه ياله دوو څخه زيات مستقل اجزا لري لکه (کټمل – سر تور- وليدلی شو- ژر تر ژره) او داسې نور.

3- جامدې کلمې هغه دي چې له بلې کلمې څخه نه وي راوتلې يعنی د اشتقاق [1] عمل پرې نه وي جاري شوی لکه په عربی کښې (شجر،

(1) **د صرف کتابونه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

رجل، حجر) او په پښتو کښي (ونه، تيږه) يا داسي نوري کلمې. ځينو کسانو د جامدو کلمو تعريف داسي کړی دی :[2] چي نه په خپله کوم ماخذ لري اونه د نورو کلمو د پاره مأخذوي. د دي تعريف له مخه په پښتو کښي جامدي کلمي لږي دي.

4- مشتقي کلمي هغو ته وايي چي له يوي بلي کلمي څخه جوړې شوي او راوتلي وي لکه (زړه ور – زړه ورتيا ، زړه وري) چي له زړه، څخه مشتقي شوي دي.

او په عربی کښي (سما، دنيا) چي له (سمو = علو) او (دو = قرب) څخه ماء خوذې او مشتقي دي. د پښتو په ټولو اقسامو کښي مرکبي او بسيطي کلمي شته چي وروسته به په خپل خپل ځای بيان کړی شي. دا رنګك مشتقي کلمي هم په پښتو کښي ډېري دي ځکه چي افعال خو ټول مشتقي ګڼل کيږي او په صفاتو او اسماو کښي هم مشتق کلمات زيات دي او جامدي کلمي هم په پښتو کښي موجودي دي.

د لغاتو معنوي قسمونه

لغت هغه کلمه ده چي د يوي معنا د پاره وضع شوی وي او درستو خلکو پري اتفاق کړی وي، نو په دي لحاظ لغت او اصطلاح سره فرق

---

(2) **مخزن القواعد فارسی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري ځکه چې اصطلاح هغه ده چې يوې خاصې ډلې پرې اتفاق کړی وي.
کوم لغات چې په پښتو کښې استعماليږي هغه د معنا په لحاظ دا وروسته قسمونه لري:

الف – اصلي لغتونه : هغه دي چې د ژبې واضعانو ايښی وي او له کومې بلې ژبې څخه نه وي راغلی. د پښتو اکثر لغات له دې قسم څخه دي او د پښتو خپل اصلي مال ګڼل کيږي، دا لغتونه هم بيا په خپل منځ کښې نور ډېر قسمونه لري او هغه دا دي:

1- مشترك : هغه لغت دی چې لـه يوې معنا څخه زياتې معنا ګانې ولري لکه (ډنګر) چې هم خوار او هم څاروي ته وايي. يا (کټې) چې هـم د ميښې د بچي او هم د موټو دوښو په معنا دی. په دې ډول (لـور = طرفه، داس) (کوټه = خانه ، ناچل) هم مشترك نومونه دي. مګر مـشترك لغـات په پښتو کښې نسبت نورو ژبو ته کم دي.

2- مترادف : هغو لغاتو ته وايي چې تقريباً معنا يې يوه وي، يعنی دوه يا له دوو څخه زيات لغات چې په يوه معنا راشي مترادف لغات بلل کيږي. لکه (تندی، وچولی، ټنده) چې دا دري واړه د پيشاني په معنا دي. يا (ليـو، اخيږ) چې دواړه د کاګل معنا ورکوي يا (باړخو، اننګی) په دې ډول نور مثالونه هم په پښتو کښې ډېر دي. [1]

3- مصنوعي : (جوړ شوي) هغه لغات دي چې له پخوا څخه په ژبه کښې نه وي او وروسته د ضرورت له مخه جوړ شوی وي. مثلاً اور ګاډی

---

(1) يني خلك له مرادفو لغاتو خه منکر دي او وايي چ هر لغت يوه مخصوصه باريکي لري چ له بل خه ي جلا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ریل)، الوتکه (طیاره،) اوبتله (تحت البحری)، ډوب ماکو (تارپیډو)، ټپټپی (موټر سایکل)، جولاګاډی (بایسکل)

په مصنوعي نوموکښې د ادیبانو او عوامو وضع یو برابره ده او دواړو ته اهمیت ورکول کیږي مګر هله چې د ټولو اتفاق پرې راشي.

ب – <u>مستعار لغتونه</u>: مستعار لغتونه هغه دي چې له بلې ژبې څخه را داخل شوی وي. مستعار لغتونه په پښتو کښې هم شته، او له دې قسم لغاتو څخه یوه ژبه هم نشي خلاصیدی. د قومونو تر منځ ارتباط، تګ وراتګ تجارتي او نور نزدېوالی د مستعارو لغاتو د راتلو سبب او دلیل دی.

مستعار لغتونه بیا په خپل منځ کښې ځینې قسمونه لري چې دا دي وروسته ښودل کیږي:

1- دخیل: دخیل هغه لغات دي چې بې له څه معنوي او لفظي تغیر څخه په یوه ژبه کښې له بلې ژبې څخه را ننوتی وي. یعنی هغه بېګانه الفاظ چې بې له لفظي او معنوي تغیر څخه په یوه ژبه کښې را داخل شي؛ د خیل لغات بلل کیږي لکه (صابون، تنور، ظلم، صبر) چې له عربی څخه په پښتو کښې را داخل شوي دي. یا مثلاً (پنسل، کوټ) چې له انګریزی څخه پښتو ته راغلي دي. په دې ډول نور هم ډېر مثالونه شته.

2- مفغن: هغه لغات دي چې سره له تغیره په پښتو کښې را داخل شوی وي دا بیا په دري قسمه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول هغه دي چي کوم لفظي تغير پکښې نه وي راغلی بلکي يوازې معنا يې بدله شوی وي لکه (عنوان) چي په عربۍ کښی (سر ليك) ته وايی او په پښتو کښي د تکبر او لويۍ په معنا دی. مثلاً وايي ((فلانی په څه عنوان روان دی)).

دا رنګګ (کسر، منت) چي په عربۍ کښي د ماتولو او احسان او په پښتو کښي د عيب او زجر معنا ورکوي. دي قسم ته معنوي مغفن وايي.

دوهم هغه دي چي په معنا کښي يې تغير نه وي راغلی مګر په لفظ کښي يې بدلون راغلی او شکل يې اوښتی وي لکه (سبا، ميرات، اودس، ښار) چي له (صباح، ميراث، آبدست، شهر) څخه مغفن شوي دي . دي قسم ته لفظي مغفن ويل کيږي.

دريم قسم مغفن هغه ته وايي چي هم يې په معنا او هم يې په لفظ کښي تغير او بدلون پيښ شوی وي لکه (اورته) چي د عربۍ له (عورت) څخه مغفن شوی دی. په عربۍ کښي عورت هغه اندامونه وايي چي ستريې لازم وي، مګر په پښتو کښي (اورته) نکاح ښکلی ښځې ته وايي.

دي قسم ته لفظي او معنوي مغفن ويل کيږي[1] مګر دا قسم مغفنات په پښتو کښي ډېر کم او لږ دي.

دغه تغير او تبديل چي په مغفنو کلمو کښي راځي دا نو بيا ډېر صورتونه لري لکه تقديم او تاخير، تبديل، زياتوالی، کموالی او داسې نور چي د ټولو بيان اوس دلته نشو کولای.

---

(1) سپيـ لی پ تو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج- مختلط لغتونه: دريم قسم لغات چې په يوه ژبه کښې استعماليږي هغه مختلط لغتونه دي. مختلط لغتونه هغو ته وايي چې په هغو کښې د بلې ژبې يو مستعار جزء هم وي يعنى يو عاريتي عنصر هم ولري که څه هم ټول لغت پردی او دبلې ژبې نه وي لکه (قارجن، کبر جن، دولت من) چې په دې کلمو کښې (قار، کبر، دولت) مستعار الفاظ دي.

دا رنګ (صبرول، قهرول) هم دغه ډول کلمې دي. په دې قسم نور هم ډېر مثالونه په پښتو کښې شته.

تبصره : دا ټول انواع او اقسام چې بيان شول د يوې ژبې د تشکيل اجزا ګڼل کيږي او درست په ژبه کښى د استعمال اوويلو حق لري. له دې کبله ښايي چې دغسې لغات ټول د پښتو مال وبولو او په بد نظر ورته ونه ګورو.

د لغاتو او معنا ترمنځ مناسبت

د لفظ او معنا تر منځ مناسبت په حقيقت کښې يو ښه شی دی. او بايد چې د هرې کلمې له خپلې معنا سره يو تناسب موجود وي. د لفظ او معنا تر منځ ارتباط د لغت د پوهېدو سره هم ډېر کومك کوي. کوم وخت چې سړي ته د يو لغت اصل او نيله معلومه شي او په معنوي مناسبت يې پوه شي نو هغه لغت د سړي زړه ته پوره لويږي او په ذهن کښې يې ښه ځای نيسي. يو وخت چې ما په پښتو کښې د "ترله" نوم واورېد نو ښه پرې نه پوهېدم او نا آشنا را ته ايسېده، بيا مې يوه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر شو چې دا خو (د تره لور) مخففه کلمه ده نو پس له هغه را باندې خوږ ولګید او زړه ته مې پرېووت.

د لغت او معنا تر منځ مناسبت پیدا کول یو عجیبه خوند او کیف لري او دا خوند هغه چا ته معلومیږي چې د لغاتو په څېړنه او څېله معلومولو کښې پلټنه کوي. مثلاً کوم وخت چې سړي ته معلومه شي چې د " کسل" مصدر له (کسی = مردمك) او د نغوړل مصدر له (غوړ) څخه اخیستل شوی دی نو بې له شکه پرې قانع کیږي او خوږ او ښه ورته برېښي. همدا وجه ده چې د لغاتو تحقیق او د هغو څیله او اصل معلومول د ژبې په بحثونو کښې یو خوږ او مهم فن ګرځېدلی دی. اوس ګورو چې د دې مناسبت مراعات تر کومې اندازې په ژبو کښې شوی دی.

لکه چې ښکاره ده د دې اصل مراعات له سامي ژبو څخه په آریایي ژبو کښې زیات لیدل کیږي ځکه چې په آریایي ژبو کښې مشتقات او مرکبات ډېر دي او په دې قسم لغاتو کښې ضرور تناسب او نزدیوالی موجود وي. په عربی کښې هم داسی مناسبتونو مثالونه پیدا کیږي. مثلاً د عربی په (سماء) کښې چې د آسمان په معنا یو بسیط لغت دی مناسبت موجود دی، ولی چې (سماء) له سر نه هر پورته شي ته وایي او آسمان هم له سر نه پورته او جګ دی. دا رنګ د دغې مادې فعل هم د پورته والي په معنا مستعمل دی لکه :

(سما سمواً ای ارتفع) – په پښتو کښې هم د دغه مناسبت په وجه آسمان ته "هسك" ویل شوی دی ځکه چې (هسك) جګ او پورته شي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي. سربېره پر دي لکه چي ګورو په پښتو کښې د دغه اصل مراعات تر ډېري اندازي شته مثلاً دا نومونه: (چوغکه، چڼچڼه، ټيغکه، ټك ټکی (شيطانك آسيا)، بغبغی (هارن) يو معنوي مناسبت لري او چي ځوك يې واو ري نو ضرور ورته معلومېږي چي دا نومونه له طبعي او اصلي آوازونو څخه جوړ شوي دي. ولې چي دغه شيان هر يو دغسې آوازونه باسی. مثلاً چوغکه " چغ چغ" ټکټکی " ټك ټك" او بغبغی " بغبغ" ټيغکه "ټغ ټغ" کوي.

لاکن په بسيطو لغاتو کښې بې تناسبه لغات هم پيدا کيدی شي چي مناسبت يې چاته معلوم شوی نه وي. دا نقص تقريباً د دنيا په هره ژبه کښې شته. د مثال په ډول په عربی ِ کښې د (شجر) لفظ د خپلي معنا سره څه مناسبت نه لري يا په فارسی کښې (درخت ، چوب) او داسي نور له دي کبله عرب وايي چي اسما معلول په علت نه دي. د فرهنګ نظام مؤلف ليکي:[1] چي په سنسکريت کښی چي يوه ډېره علمي ژبه ده هم دا نقص موجود دی او د لفظ او معنا تر منځ د تناسب رعايت پکښې نه دی شوی[2]. مګر دا احتمال هم شته چي هر لفظ دي په ابتدا کښې د يو تناسب له مخه ايښودول شوی وي خو وروسته به يې د زماني په تېريدو هغه مناسبت له منځه وتلی وي او اوس به پري سړی ښه نه پوهيږي. په دغسې لغاتو کښې وضع معتبره ده او څنګه چي پخوانو واضعينو ايښی دی، هغسې به يې مونږ هم استعمالوو، که څه هم په مناسبت يې پوه

---

(1) فرهنګ نظام 3 جلد

(2) اغلی مير سيد قاسم خان وايی چ دا خبره صحيح نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشو. دا هم يقين دی چې د پښتو ډېر بسيط لغات د خپلې معنا سره مناسبت لري او مونږته يې هم دغه تناسب او ارتباط معلوميدای شي. لکه: تله (ترازو) هغه آله ده چې تول پرې کيږي. يا مخو که (نول) چې د يو شي مخې ته وتلي وی او داسې نور. نور وريپسې د فقه اللغی کار دی چې ټول لغات سرې وڅيړي او ډېر مثالونه پيدا کړي.

زمونږ دلته يوه لنډه اشاره غرض وه او بس.

له دې بيان څخه زمونږ مقصد دا دی چې بايد د پښتو په نويو لغاتو کښې تروسه پورې د مناسبت خيال وساتل شي او ښايي چې په آينده کښې مونږ په دې اساس د پښتو نوي لغات وټاکو. هر وخت ځانله احتياجات او ضروريات لري، ژبه هم د دغسې اجتماعي او نورو ضرورياتو له مخه پوره کيږي. مونږ دې ته اړيو چې پس له دې ډېر علمي نومونه او اصطلاحات وضع کړو او د ژبې له اصلي ريشو او د الفاظو جوړ ولو له اصولو څخه کار واخلو. دا کار به په دوه ډوله کيږي. يو دا چې مونږ د نوې معنا او لفظ تر منځ د مناسبت خيال وساتو او بل دا چې د پښتو کلماتو او الفاظو د جوړولو او تشکيل اصول وپېژنو چې زمونږ د بحث اصلي موضوع هم دا شی دی. نو په دې صورت کيدای شي چې زمونږ نوي نومونه او علمي اصطلاحات څه قدر معقول خوند ور او په زړه پورې راشي او که نه نو هسې بې فايدې خوارې به وي.

د لغاتو لفظي تغيرونه

د کلماتو لفظي تغيرونه او اوښتنې په هره ژبه کښې يو طبعي او ضروري شی دی. دغه کلمې چې په خبرو اترو کښې استعماليږي ضرور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکښې د ځايو د اختلاف او د زماني د تېرېدو په وجه ځينی تغيرونه او تبديلونه پيښيږي[1] دا تغيرونه په خپل منځ کښی زيات صورتونه لري – مګر څومره چې تراوسه په پښتو کښی مونږ ته معلوم شوي دي هغه وروسته په لنډ صورت ښوول کيږي:

1- زياتوالی : د يو حرف يا زياتو حروفو په زياتوالي سره د يوې کلمې صورت بدليږي او دې ته تغير او شکل بدلېدنه وايي. لکه :

د خندل له مصدر څخه (خاندي) چې په اصلي ماده کښی يې الف زيات شوی دی. يا کرهنه چې د کرل له مصدر څخه ماخوذ او (ه) پکښې زياتي ښکاري. په يوه کلمه کښی د يوه حرف زياتوالی يا له ماخذ او ياله نورو مشتقاتو څخه معلوميږي. په نومونو کښې د زياتوالي مثال لکه غوړی چې د (غوړ) څخه د (ی) په زياتوالي جوړه شوي ده.

2- حذف او تخفيف : د حذف او تخفيف په واسطه هم ديوې کلمې شکل بدليږي او بل لغت ترې جوړيږي. لکه د نښتل له مصدر څخه (نښلي) چې (ت) يې لويدلي او حذف شوي ده. دارنګ ممکنه ده چې (غړ) له غوړ څخه د واو په حذف اختستل شوی وي.

---

(1) د عربی صرف او نحو په کتابو ک ی د تغير او تصريف اقسام دا وروسته ـودل شوي دي: 1. زياتوالی 2. حذف 3. ابدال 4. د حرف نقلول 5. د حرکت نقلول 6. د يو حرف ساکنول 7. د يو حرکت بدلول. د عربی کلماتو اعلالونه او تغيرونه هم د دغو صورتو له مخه کيإي. مثلاً په (قايل، قل، قال، يقول) ک ی چ له (قول) خه شتقاق شوی دی ب له حرفی نقل خه نور ول تغيرونه راغلي دي او د حرفي نقل مثال (ايس) دی چ اصل ي (يئس) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله حذف او تخفیف په یوه کلمه کښې راځي او په معنا کښې څه توپیر نه راولي لکه : پوزه، پزه– وویل، ووې.

3- ابدال: د یو حرف اوړېدل هم په بل حرف باندې په یوه کلمه کښې تغیر پیښوي چې دا تغیر کله د معنا په بدلون هم اثر اچوي لکه : له وتل څخه (وځي) او کله په معنا کښې فرق نه راولي او دواړه یو لغت ګڼل کیږي، لکه نمر، لمر – نښتل، منښتل او داسې نور.

4- تقدیم او تاخیر: یعنی د یو حرف مخکښې وروسته کېدل هم د کلمې په شکل او صورت کښې تغیر راولي چې دې قسم ته د یو حرف ځای بدلول هم وایي. لکه پسرلی، سپرلی - څمکه ، مځکه – غړوندی، وړغندی.

5- د حرکت بدلول: د حرکت بدلول هم په وړاندې ډول د کلمې شکل او صورت بدلوي چې کله یې معنا هم ورسره اوړي. لکه ګډ چې د ګاف په زور شریك، مخلوط او د ګاف په زورکي (پسه) ته وایي، او کله یې معنا نه اړوي لکه شپږ چې ښوك یې د (پ) زور او ښوك یې په زورکي وایي.

د یو حرف ساکنول او د حرکت نقلول هم د تغیر اقسام دي او په یوه کلمه کښې تغیر پیدا کوي لکه (مین، مینه) مګر مثالونه یې په پښتو کښې ډېر نه پیدا کیږي.

له دې وړاندې بیان څخه ثابته شوه چې د پښتو اکثرا تغیرات او تصریفات د مادې یعنی حروفو په زیاتوالي، حذف، ابدال او تقدیم او تاخیر سره عملي کیږي او د حرکاتو یعنی د هئیت د تغیر مثالونه پکښې کم دي او همدا ممکنه ده چې د آریایي ژبو یو خصوصیت وي- پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاف له عربی چې هلته د حرکاتو په بدلولو، نقلولو او ساکنولو ډېر تغیرونه راځي او نوې کلمې جوړېږي. لکه (ضرب) چې د (ض) په پیښ او د (ر) په زیر ترینه مجهوله صیغه لاس ته راځي.

د پښتو د کلماتو تغیرونه نور هم ډېر صورتونه لري، دلته مونږ اکثراً د مفردو کلمو تغیرونو ته اشاره وکړه – د مرکبو کلمو او نورو تغیراتو بیان به وروسته په خپل خپل ځای کښې راشي.

د کلماتو په جوړونه کښې د نومونو درجه

د ژبې په تشکیل کښې تر هر څه ړومبی نومونه زیاته برخه لري.ګویا نومونه د ژبې اصلي مواد دي چې بې له دې څخه د ژبې عمارت نشي جوړیدای. نه یوازې فعل کار کولای شي، نه صفت او نه څه بل څه څو چې اسم نه وي. مثلاً که سړی درسته ورځ (راغی یا سپین) وایي پوره مطلب ترې نه ولاړېږی څو چې فاعل یا موصوف ور سره رانه وړي. بالعکس له نومونو څخه یوازې هم کار اخیستل کیږي. مثلاً که څوک چا ته د یو شي تش نوم واخلي نو هغه پوهیږي چې دغه شی غواړي لکه چې کوچنیان او د ژبې نو آموزان د شیانو په نومونو اخستلو خپل مطلب حاصلوي. دغسې د کلماتو په جوړونه کښې هم د کلام له نورو اجزاو څخه نومونه زیاته حصه لري په عربۍ کښې ټول افعال له مصدر څخه جوړېږي. دارنګ ډېر اسما او صفات هم له مصدر څخه لاس ته راځي او مصدر خو د اسم له اقسامو څخه بلل کیږي. سر بیره پر دې په عربۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې له يو جامد نوم څخه هم ځيني فعلي اشتقاقونه کيږي. لکه : له (قوس) څخه "قوس الشيخ ای انحنى ظهره فصارقوسا و استقوس ای انحنى"[1] .

همدا وجه ده چې د عربۍ صرف نحو د پوهانو يوه مهمه ډله يعنى بصريان وايي چې اصل په اشتقاق کښې اسم دی نه فعل – په آريايي ژبو کښې هم هر کله چې کلمات اکثراً. د لاحقو او يا سابقو په راوړلو او يا د دوو کلمو په ترکيب سره جوړيږي نو ويلای شو چې د دې ژبو په ترکيباتو او اشتقاقاتو کښې به هم اسم اصلي عنصر وي.

طبيعت او فطرت ته هم دا نزدې ده چې اول دې يو نوم پيدا شي بيا دې د هغه د شان وړ يو صفت او فعل موجود شي.

په پښتو کښې لکه چې ګورو نومونه د کلماتو په تشکيل کښې لوړ مقام لري ځکه چې اکثر مصادر له اسم او صفت او افعال بيا له مصدر (فعلي نوم) څخه جوړيږي. دا رنګګ فعلي صفات او نور هم له مصدر څخه لاس ته راځي. سر بېره په دې ډېر لام والا مصدرونه هم د نورو ذاتي نومونو څخه جوړ شوي دي. لکه (کسل، داړل) چې له (کسي او داړې) څخه ماخوذ دي. دلته اوس مونږ د مثال په ډول د يو نوم څخه جوړې شوې کلمې ښيو مثلاً د (غوږ) له کلمې نه دا وروسته کلمې را وتلې دي:

نغوږل – غوږو – غوږور – غوږين – غوږی[1]، غوږی (يو ګوټ ته پروت پتی) سپر غوږی – غوږوالی – غوږيچنه (پس ګوش)

---

(1) **جار بردی د شافي شرح.**

(1) **د کار کولو يوه ره ده چ کاري ي مخ ته اچوي او غوإونه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کښې له طبعی اصواتو څخه هم ډېر کلمات جوړېږي لکه له ټك څخه ټکټکی او نور.

په پښتو کښې پس له نومو څخه صفات د کلماتو په جوړولو کښې زیاته حصه لري او په دریمه او څلورمه درجه کښې بیا قیود او ادات دي که څه هم د اداتو استعمال زیات دی مگر زمونږ مقصد په مستقلو او اساسي اجزاو کښې دی. هر کله چې ځینې پوهانو د یوې ژبې په تشکیل کښې د جامدونومو، افعالو او مصادرو د موقعیت ښودل هم ضرور بللي دي؛ نو ځکه مو په دې ځای کښې دغه مقصد ته یوه لنډه غوندې اشاره وکړه.

د کلماتو د جوړولو صورتونه او قسمونه

لکه چې د مخه مو هم ویلي دي،د کلماتو د تشکیل بحث په هره ژبه کښې یو مهم او ضروري بحث دی. نوي ضروریات او احتیاجات د هرې ژبې پوهان دې ته اړباسي چې نوي لغات او کلمات جوړ او تیار کاندي. د لغاتو د تشکیل او جوړېدو سلسله باید چې همیشه په یوه ژبه کښې جاري وي، ځکه چې همدا د یوې ژبې د ژوند او لوړتیا ذریعه ده.

مگر د نویو کلماتو جوړونه ضرور ځینې اصول او قواعد غواړي چې بې له دغو اصولو څخه د کلماتو تشکیل یو طبعي او اصولي جریان نشي پیدا کولای. نو د دې د پاره لازمه ده چې د ژبې په اصلي او پخوانو کلماتو کښې څېړنه او پلټنه وشي او د هغو د تشکیل او جوړېدو صورتونه اولیاري معلومې کړی شي. په دې صورت کېدای شي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلمو د تشکیل قاعدې او اصول منځ ته راشي او په آینده کښې ور نه د نورو کلمو په جوړولو کښې کار واخستل شي.

هر کله چې پښتو په عمومي شیانو کښې د نورو آریایي ژبو د اصولو او قواعدو سره شریکه ده نو ځکه غواړو چې ړومبی د آریایي ژبو د کلماتو د تشکیل صورتونه وښیو او پس له هغه د پښتو د کلماتو د جوړوني صورتونه او لیارې بیان کړو.

1- "لاریمر"[1] چې یو انګریز مستشرق دی په خپل پښتو ګرامر کښې لیکلي دي، چې په هندو جرمنی ژبو کښې الفاظ په دې وروسته درې طریقو سره جوړیږي :

الف : د لاحقو په زیاتولو او علاوه کولو سره لکه: پاړو ګر، غمجن او داسې نور.

ب : د سابقو په یو ځای کولو او لګولو سره لکه: هم زولی، هم غاړی، بې لاری.

ج: د دوو مستقلو الفاظو په یوځای کولو او پیوستولو سره لکه: سپین سترګی، سرتور، بوډی ټال (قوس قزح)، نمرګل او داسې نور.

2- ((پرتو علوی)) د الماني ژبې په ګرامر کښې وایي[2]: چې د کلماتو په جوړونه او تشکیل کښې دوه صورته لیدل کیږي چې یو اشتقاق دی او بل ترکیب – له یوې کلمې نه د بلې کلمې اشتقاق په پنځو لارو ممکن دی:

(1) **د لاریمر د پ تو رامر له فارسي قلمي ترجمه خه چ په پ تو ولنه ک ده.**

(2) **دستور زبان ّالمانی د تهران چاپ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- د اصلي کلمې د خاتمو په غورځولو سره (هغه کلمې چې له هغو څخه نورې کلمې راوځي) اصلي کلمې بلل کيږي په اصلي کلمو کښې اسم ، مصدر، صفت، فعل راتلی شي)

2- د اصلي کلمې د يو اصلي حرف په تغير سره.

3- په اصلي کلمه کې د يو امدادي حرف په زياتولو سره.

4- په اصلي کلمه باندې د لاحقو په زياتولو سره.

5- په اصلي کلمه باندې د سابقو په علاوه کولو سره.

په دغو طريقو سره خالی اسما ، صفات او افعال جوړيږي.

<u>ترکيب</u>: هغه کلمه چې يو جزء لري اصلي کلمه او که له دوه يا زياتو اصلي کلمو څخه جوړه شوې وي نو ترکيبي کلمه بلل کيږي. هره ترکيبی کلمه له دوو برخو څخه جوړيږي.

الف :- ريشه او اصل چې مقصودي او مهم جزء وي :

ب:- متمم چې د کلمې ټوله معنا د هغه په واسطه پوره کيږي، مګر کله ترکيبي کلمه يو بل مفهوم لري چې هغه يې له اجزاو څخه هيڅ نه معلوميږي. [1] مطلب دا چې په مرکبو کلمو کښې يو جزء اصلي او بل جزء مکمل او متمم وي.

په الماني ژبه کښې د کلمو د ترکيب صورتونه دا دي:

1- چې اصلي جزء يې مرکب او متمم جزء يې ساده او مفردوي.

2- چې اصلي جزء يې ساده او متمم جزء يې مرکب وي.

---

(1) لکه په پ توک (پرې ودل) چ د ترك معنا ي له اجزاو نه معلوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3- چې اصلي جزء او متمم جزئ دواړه مرکب وي.

دا ترکیبونه به یا بې د ارتباطي کلمو څخه وي او یا به د ارتباطي کلمو په واسطه جوړ شوی وي. په آلماني ژبه کښې د کلماتو له ترکیب او یو ځای کولو څخه د وروسته مرکبې کلمې جوړیږي :

1- مرکب نومونه
2- مرکب صفتونه
3- مرکب عددونه
4- مرکب فعلونه
5- مرکب قیود.
6- مرکب ادات.

3- "کلو د اوژه" په خپل فرانسوي ګرامر کښې د کلماتو د تشکیل په باب داسې لیکي[1] لکه څنګه چې د یوې ونې څخه څانګې او ښاخونه پیدا کیږي دغسې له یوې کلمې څخه نورې کلمې پیدا کیږي چې د ټولو تر منځ یو ارتباط او شریك فکر موجود وي. دغسې کلمې ته اصل او رینبه وایي. د کلماتو تشکیل د "افیکسونو"(Affixes) په واسطه کیږي. دا هغه اجزا دي چې د یوې کلمې د مخه او یا وروسته راځي او معنا ته يې تغیر ورکوي. دا بیا پر دوه رازه دی (پریفکسونه) (Prefixs) – " سفکسونه" (Sufixes) چې لومړی د کلماتو په سر کښې او دوهم د کلمو په پای کښی راځي. په فرانسوي کښې د کلمو تشکیل په دوه ډوله کیږي. یو د ترکیب په ذریعه او بل د اشتقاق په ذریعه.

---

(1) د اغلي ر تیا له ترجمه خه چ د کابل په مجلو ک ی خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترکیب بیا پر دوه قسمه دی یو د پریفکس د زیاتولو په واسطه او بل د بسیطو کلمو د یو ځای کولو په واسطهٔ او اشتقاق د سفکس په علاوه کولو حاصلیږي، د بسیطو کلمو په واسطه ترکیب دا لاندې صورتونه لري:

- له دوو نومو څخه.
- له یو نوم او یو صفت څخه.
- له دوو صفتونو څخه.
- د یو نوم او یو فعل په واسطه.
- ددوو فعلونو په واسطه.
- د یو فعل او یو صفت په واسطه.

په مرکبه کلمه کښې معمولاً څو اجزاء لیدل کیږي. لومړی اساسی جزء چې اصل او مونډ دی بل هغه جزء چې کلمه پرې تمامیږي یا شروع کیږي. د کلمو یو له بله یو ځای کول بیا دوه لارې لري یوه دا چې د اصلي کلمو په ترتیب کښی څه تغیر را نشي او بله دا چې تغیر او بدلون پکښې پیښ شي.

4- "ډاکتر عبدالحق) په خپل ګرامر قواعد اردو کښی داسې وایي:[1]
په اردو کښی چې دوه مختلف لفظونه سره یو ځای کیږي هغه دوه حالته لري چې یو لفظي حالت دی او بل معنوي حالت. د لفظي حالت بیان په دې ډول دی:

---

(1) **فواعد اردو د أیلی چاپ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دوه لفظه چې سره یو ځای شي او هیڅ تغیر پکښې را نشي.
- دوه لفظه چې سره یو ځای شي او حروف پکښې حذف شي.
- دوه لفظه سره یو ځای او کوم امدادي حرف پکښې زیات شي.
- د اول لفظ وروستی او د دوهم لفظ ړومبی حرف چې سره یو وي نو یو يې غورځيږي.

5- کله د دوو لفظونو تر منځ د ارتباط راوستلو د پاره (او) زیاتیږي.

د معنوی حالت په بیان کښې وایي چې په سنسکریت کښی هم د معنا په لحاظ د مرکباتو تقسیم پردې وروسته ډول دی:

- تابع مرکب: چې یو جزء د بل ظرفي، یا مفعولي تابع وي.
- ربطي مرکب : چې د الفاظو تعلق پکښې د ارتباط د تورو په واسطه وي.
- توصیفي مرکب: چې صفت او موصوف سره راغلی وي.
- عددي مرکب: چې اول جزء پکښې عدد وي.
- تمیزي مرکب: چې په هغه کښې اول جزء تمیز (قید) وي. [1]

داکتر عبد الحق په یو بل ځای کښې مرکب پر دوه قسمه بللی دی: اول هغه دی چې یو خاص حرف یا علامه له بل لفظه سره یو ځای شي او یوه خاصه معنا پیدا کړي او بل هغه دی چې دوه جلا نومونه، یا یو نوم

---

(1) **دغه مرکبات په اردو ک ی نور تفصیل او صورتونه هم لري چ تر أ ړې اندازې د پ تو سره برابر دي او وروسته به بیان کؤی شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او يو صفت، يا يو اسم او فعل يا يو صفت اوفعل سره يو ځای شي او يوه مرکبه کلمه ترې جوړه شي.

5- سيد محمد علی د فرهنګ نظام په مقدمه کښی ليکي.[2] چې مرکب پر دوه قسمه دی:

الف :- هغه دی چې دربمه معنا ترې پيدا نشي او اجزا يې په خپله اصلي معنا دلالت کوي لکه په فارسي کښې (آب چاه).

ب :- دويم مرکب هغه دی چې پر دربمه معنا دلالت وکړي يعنی بله دربمه معنا ترې مطلب وي لکه په فارسی کښې (آئينه آسمان) چې د لمر په معنا ده. وايي چې د کلماتو او اسماو ترکيب په سانسکريت کښی هم زيات او ډېر دی او د دوو کلمو له ترکيب څخه پکښی يوه کلمه جوړيږي.

6- "مرزا علی رضا شيرازی په (مخزن القواعد) کښی ليکلی دي [3] چې په فارسی کښې مرکب نومونه په دې وروسته صورتو سره جوړيږي.

1- کله دوه مختلف المعنا نومونه سره يو ځای کيږي لکه شبنم، خارپشت او نور.

2- کله له دووهم معنا نومو څخه جوړيږي لکه:

مرز و بوم – زيب و زينت.

3- کله دوه جلا نومونه د عطف په واسطه يو ځای کيږي لکه :

آب و هوا

---

(2) **فرهنګ نظام اول جلد د حيدرآباد چاپ.**

(3) **مخزن القواعد د حيدرآبادی چاپ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

4- کله دا سم څخه وړاندي عدد راوړل کيږي لکه: هزار پا ، چار پا .
په دې ډول د فارسی په نورو ګرامرو کښې هم د مرکبو کلمو بيان راغلی دی، او معلوميږي چې په فارسي کښې هم د کلماتو تشکيل ډېر صورتونه لري، دا رنګ مشتقات هم پکښی ډېرې دی.

اشتقاق او ترکيب

اشتقاق:

لومړی شی د کلماتو په تشکيل کښی اشتقاق دی. اشتقاق په ټولو سامي او آريايي ژبو کښې شته او د هغه په واسطه ډېرې کلمې او الفاظ جوړيږي، په عربی کښې زيات نومونه له مصدر څخه راوځي او کله پکښی له جامدو نومو څخه هم اشتقاق کيږي. لکه (استنوق) چې له (ناقی) څخه مشتق شوی دی. د اشتقاق تعريف د هرې ژبې په ګرامر کښی په بېل بېل ډول راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عربی صرف و نحو کښې اشتقاق دې ته وايي، چې يو لفظ لـه بل لفظ څخه چې د دواړو تـر مـنځ لفظي او معنـوي مناسـبت موجـود وي استخراج شي [1]

ځينې کسان وايي: اشتقاق دا دي، چې يو لفظ له بل څخه په څه قدر تغير سره راووځي.[1] ځينې نور وايي: لـه هرې کلمې نـه چې يـو شـمېر کلمې په جلا جلا معنا ګانو جوړې شي هغه اشتقاق دی.[2] ځينو خلکـو د اشتقاق تعريف په دې ډول کړی دی: کـه چېرې مونـږ د لفظي او معنـوي تناسب او نزدېوالي په لحاظ يوه کلمه لـه بلې څخه جوړه کړو او لـه يـوه لغت څخـه ډېرې صيغې راوباسـو نـو دې تـه اشـتقاق وايـي، بنـاپر دې د اشتقاق علم هغـه علـم دی چې د هغـه پـه واسـطه د کلمـاتو مبـدأ او اصـل لټول کيږي. د دې وړاندې تعريفونو لـه مخه معلومه شـوه چې د اشـتقاق تعريف تقريباً په ټولو ژبو کښې سره نزدې او يـو شـان دی چې مهم رکن

---

(1) اشتقاق په عربي کښې په درې ډوله دی: اول هغه دی چې د دوو لفظو تر منځ په حروفو او ترتيب دواړو کښې تناسب موجود وي. لکه ضارب له ضرب څخه. دوهم هغه دی چې په حروفو کې يې تناسب وي او په ترتيب کښې يې نه وي لکه جبذ له جذب څخه ، دريم هغه دی چې يو حرف پکښې مغاير مګر قريب المخرج وي. لکه: نعق له نهق څخه. په عربي اصطلاح کښې اول قسم ته صغير ، دوهم قسم ته کبير او دريم قسم ته اکبر اشتقاق وايي. دغه شان په عربي کښې اشتقاق په محقق او شبيه هم وېشل شوی دی. محقق هغه دی چې ثابت او يقيني وي لکه دغه پورته مثالونه او شبيه هغه دی چې شك او شبه پکښې وي لکه د انسان اشتقاق له (نسيان) څخه ولې چې ځينې خلك يې له (انس) څخه مشتق بولي.

(1) قواعد اردو

(2) ترکی ګرامر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د مشتق او مشتق منه تر منځ د لفظي او معنوي مناسبت موجود والی دی. په آريايي ژبو کښې ځينې حروف او ادوات هم شته چې د اشتقاق ادوات يې بولي او د هغو په واسطه د کلمو قسمونه بدليږي او معنا ګاني يې اوړي. لکه په پښتو کښې (ور- ين) چې د (غوړور- غوړين) کلمې د هغو په واسطه له (غوړ) څخه جوړې شوې دي.

هغه ټولې کلمې چې له يوه ماخذ څخه را وتلې او مشتق شوې وي عايلوي او هم ريښه کلمې بلل کيږي. او اصل يې آره او مونډ بولي. د مثال په ډول په پښتو کښې د (غويی، غوا) د کلمې هم ريښه او عايلوي کلمې دا دي: غوبل - غوجل - غويمنډ - غويمه - غوباړی (خر مګس) غالوشه (ظرف ګاودوشی)- غوبون = غوبه = غاوچې - غوڅکی - غوشايه - او ممکن چې (غوښه - غوړي - غولاڅه) هم د دې آرې او ريښې سره ارتباط ولري چې وروسته به يې عموميت موندلی وي.

ترکيب: ترکيب دې ته وايي چې دوه يا له دوو څخه زياتې کلمې سره ونښلي او يوه کلمه ترې جوړه شي او ځانله مفهوم او معنا وښندي. لکه: پی مخی، رون مخی، غوړوالی، نمر ګل او نور.

د کلماتو په اشتقاق کښې ځينې قاعدې

د پښتو اشتقاقونه غالباً د آهنګ او د ژبې د صوتي اصولو تابع دي. يعني ديوې کلمې سره چې کومه لاحقه لګيږي نو د آهنګ د سمون د پاره پکښې ځينې تغيرونه راځي. دا تغيرونه که څه هم په منظم ډول نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیانیدای مګر تر یوې اندازې چې ښکاره او څرګند دي په وروسته ډول ښودل کیږي:

1- کله د کلمې او لاحقې د نښلو لو د پار (ا، و، ی) راوړل کیږي لکه:
له ډم څخه ډمامه، له زیږ څخه زیړانك، لـه مخ څخه مخوکه – لـه لوید څخه لویدیځ.

2- په اصلي حروفو کښې هم ځینې حروف شته چې د کلمې او لاحقې ترمنځ د آهنګ برابرولو او موزون والي د پاره زیاتیږي. لکه: ((س)) چې په (خپسکه) کښې د ((خپه او که)) تر منځ زیات شوی دی.

3- کله د صوتي ضرورت او د کلمې د آهنګ برابرولو دپاره امدادي توري (ا، و، ی، ه) او ځیني نور حروف غورځیږي. لکه:
له چاړه څخه چړتون، له زوږ څخه زږښت، له شګې څخه شګلن،
له لېوني څخه لیونتیا ، له ګورم څخه ګوروان [1] او داسې نور.

4- که چیرې د اولې کلمې آخر حرف او د لاحقې لومړی حرف سره یو وي نو یو ځنې حذفیږي.
لکه: له ټوپك څخه ټوپکی – له ښانك څخه ښانکی[2]

5- کله یو امدادي حرف په بل باندې بدلیږي لکه: له منګې څخه منګوټی، له پوزې څخه پیزوان چې په اول مثال کښې (ی) په (و) او په دوهم کښې (و) په (ی) بدل شوی دی. غرض دادی چې امدادي او ځینې

---

(1) په دی مثال کښې (م) حذف شوی دی.
(2) په دې مثالونو کښې لاحقه (کی) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور توري د تلفظ درواني او آهنګ برابرولو د پاره هر ډول تغير قبلوي او دا تغيرونه په پښتو کښې قياس او اساس ګڼل کيږي.

6- هر کله چې اصوات په پښتو کښې اکثر يوسيلابي وي، نو کله دغه اصوات د يو نوم د جوړولو د پاره په مکرر صورت هم استعماليږي. لکه: چڼچڼه – ټکټکی – کوړ کوړی (فاخته)

7- د لاحقو څخه لومړی حرف اکثر مفتوح وي او کله په يو نيم مثال کښې ساکن هم راځي لکه: له تور څخه تورکی (دوده آتش)

8- د حرکاتو تغير او بدلون دا رنګګ د يو حرف ساکنيدل يا متحرک کېدل دا ټول د کلماتو د تشکيل په وخت کښې د صوتي ضرورت له مخه پېښېدونکی دی. په دې باره کښې کوم عمومي قانون نشته خو د کلماتو د آهنګ سمون او دوينا آسانۍ ته کتل کيږي. هر څنګه چې يوه کلمه په خوله او وينا کښې سمه راتله، هغه ډول پکښې ځيني حرکتونه هم وړاندې وروسته کيږي.

9- دا قاعدې د سابقو دراوړلو او تراکيبو جوړولو په وخت کښې هم تطبيقيږي.

د پښتو د کلماتو جوړونه

د پښتو د کلماتو د جوړونې بحث پردوو برخو ويشل کيږي، لومړۍ برخه يې اشتقاقونه او دوهمه برخه يې ترکيبونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ برخه – اشتقاقونه

خـومره چـې معلومـه ده پـه پښتـو کښـې د کلمـاتو د اشـتقاق او راويستنې د پاره دوه صورته دي:

يو صورت دا دی چې بې لـه قانوني او منظم صـورت څخه د امدادي تورو په کمولو، زياتولو ، بدلولو او داسې بـل تغيـر لاس تـه راځي او بـل صـورت دا دی چې پـه منظم او قـانوني ډول د ((پسينه تـورو)) پـه لګولـو سره جوړيږي. په اول صورت کښې د کلماتو اصل او ريښـه معلومـول څـه قدر مشکل او زيات لټون او څېړنه غواړي، دغه شان د اشـتقاق د يـوې قانوني او قياسي لارې پيدا کول هم پکښې ګران دي مګـر پـه دوهـم قسـم کښې دا دواړه کاره آسان دي. نو ځکه اول قسم ته سماعي او دوهـم قسـم ته قياسي وايو، بله دا خبره ده چې پـه اول قسم کښـې خالي د کلماتو ارتباط او نږديوالی معلوميږي او په دوهم صورت کښې پرته له دې څخه د نويو کلمو د جوړولو د پاره هم يوه لاره منځ تـه راځي. دا قسم زما پـه خيال ډېر ضرور دی، ولې چې پـه دې واسطه د آينده اشتقاقاتو او نويـو الفاظو د جوړولو د پاره يوه لار معلومېدی او يو اساس کېښودی شي.

له دې کبله مونږ په دې کتاب کښې يوازې دوهم قسم اشتقاق بيـانوو او غـواړو چـې د کلمـاتو صـرفي تحـولات او تبـدلات بيـان او د کلمـو د اشتقاق او اخستنې قياسي صورتونه ونښيو. لاکن ړومبی تر دې پکـار دي چـې د اول قسـم اشـتقاق يـو څـو مثالونـه هـم د نمـونې پـه ډول ونښـودل شي.مثلاً:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- جل - جاله - جال - جول - جولې - جوال- (په دې کلمو کښې د محدود ځای معنا شریکه ده).

2- ټل (دلرګو)- ټېل- ټېله- ټول- ټولی (په دې کلمو کښې د ګڼ والي معنا پرته ده).

3- تل (د اوبو ويخ)، تلی= تاله (د پښې) – تالی (خاورين اوار لوښی)

4- ګټ - ګټه - ګيټی - ګاټی.

5- ورور - وراره - ورېره - وراره (هغه ښځه چې وروريې مړوي) ورندار.

6- غوږ – غږ – غېږ (آغوش) غوږ د غږ د پاره لکه غېږ ده).

7- مين - مينه - مېنه (ځکه چې د مېنې سره سړی مينه لري).

8- کهول – کول – کلی – کلا

9- رشتين – رشتيا ، نوی – ناوې، تول – تال، نل – نلی (نری مغزن هډوکی)، کوټ – کوټه او داسې نور. په دې پورته ټولو مثالو کښی د لفظي او معنوي مناسبت له کبله د اشتقاق ارتباط موجود دی او په ځينو مثالونو کښی يې اصل هم معلومېږي لکه (ورور) چې دغه نورې کلمې ترې راوتلې دي. مګر خبره دا ده چې دغه اشتقاقونه کوم منظم او قانوني صورت نه لري او په ځينو مثالونو کښې يې اصل هم نه معلومېږي؛ ځو چې سړی يې په نورو آريايي ژبو کښی اصل او ريښه ونه پلټي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوهم قسم یعنی قیاسي اشتقاقونو په واسطه په پښتو کښې غالباً دا درې قسمه کلمې جوړېږي:

1. نومونه
2. صفتونه
3. فعلونه

دا هر يو قسم د اشتقاق مخصوص توري او صورتونه لري چې دادی په وروسته ډول بيانيږي:

د نومونو اشتقاق او جوړونه

هر کله چې د نومونو په اشتقاق او جوړونه کښې لاحقې زيات تاثير لري او د هغو په واسطه بېل بېل ډول نومونه جوړيږي له دې کبله غواړو چې د نومونو تشکيل او جوړونه د لاحقو تر عنوان لاندې بيان کړو.

فاعلي او نسبتي لاحقې (پسينه)

هر کله چې په پښتو کښې ځينې لاحقې د نسبتي او فاعلي معنا ګانو د پاره په شريک ډول هم استعماليږي له دې کبله دغه لاحقې تر يوه عنوان لاندې په وروسته ډول ښوول کيږي:

1- (که) دا يوه فاعلي او نسبتي علامه ده په سنسکريت کښې هم متحرك

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاف د فاعلیت د پاره دی لکه: (آستك = مقر– واچك = متکلم)[1] نو دا دپښتو (که) هم هاغه د سانسکریت متحرك کاف دی چې زور یې اوس په (ه) لیکل کیږي. د دي لاحقي په واسطه د نومود جوړولو صورتونه دا دي:

الف :- د بسیطو اصواتو په آخر کښې راځي او فاعلي معنا ورکوي لکه:

له چوغ څخه چوغکه		له کوړك څخه کوړکه چرګه
له ټیغ څخه ټیغکه		له ټیو څخه ټیوټیو که
				(یوه مرغۍ ده)
				له غړك څخه غړکه (مشك)

ب :- د فعلي مادي[2] په آخر کښې راځي او فاعلي معنا ترې معلومیږي لکه:

له ځرخېدل څخه ځرخکه		له خوځېدل څخه خزدکه (حشره)
له الوتل څخه الوتکه		له توت خوړل څخه توت خورکه
				(یوه مرغۍ ده)

ج :- دا سم په آخر کښې راځي او د نسبت معنا ورکوي لکه:

له مخ څخه مخوکه (منقار)		له نل څخه نلکه.

د :- د صفت په آخر کښې د نسبتي او فاعلي معنا ګانو د پاره راوړل کیږي لکه:

---

(1) فرهنګك نظام
(2) فعلی ماده دمصدر هغې حصې ته وايي چې د مصدر د لام او یا د مصدري علامو له حذف څخه وروسته پاته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له زیږ   څخه   زیږکه (یوه مرغۍ ده)

له خپه   څخه   خپسکه (کابوس) –

له لټ   څخه   لټکه = کورمار (ځکه چې په ځای لټه پرته وي).

له ځوان څخه   ځوانکه (دانه)

له ګرم   څخه   ګرمکه (ګرم دانه)

2- (ك) ساکن کاف هم د نسبت او فاعلیت په معنا استعمالیږي او د صوت، نوم، صفت او فعلي مادي په آخر کښې راځي لکه:

له چڼ څخه چڼچڼك (آله)	له سترګي څخه سترګك
له شونډ څخه شونډك	له زمري څخه زمرك
له شپېلۍ څخه شپېلك	له تور څخه تورك
	له موټی څخه موټك

له نیم څخه نیمك (غران)
له چورلېدل څخه چورلك (ګردش)
له ځپ څخه ځپك [(1)]

3- (کی) د نسبت، فاعلیت، تصغیر په معناو راځي او دا وروسته صورتونه لري:

الف :- د نومو په آخر کښي لکه:

له ازغي څه ازغکی   له چجه څخه چجکی

له پیاز څخه پیازکی   له مرچ څخه مرچکی

---

(1) د خلورو ګوتو اندازې ته وايي چې خلك يې په غلطه ځپق بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اور څخه اورکی   له لاس څخه لاسکی (دسته)

له سیخ څخه سیخکی   له خوخه څخه خوخکی (نولهٔ افتاوه)

ب :- د صفاتو په آخر کښې لکه:

له تریو څخه تریوکی= تروکی

له تور څخه- تورکی (دودهٔ آتش)

له شین څخه شینکی

ج :- د فعلي مادي په آخر کښې لکه:

له ښخېدل څخه ښاښکی

له پئیل څخه پیوکی (موی باف)

له مسېدل څخه مسکی

د :- د صوت په آخر کښې لکه: له ډمب څخه ډومبکی

له پر څخه پرپرکی   له چت څخه چتکی (قرچه)

4- (کۍ) دا ننبکه د (کی) مونث شکل دی او غالباً د نسبت د پاره د نومو – صفاتو او اصواتو په آخر کښې راځي او نوي نومونه پرې جوړېږي لکه:

له غوږ څخه غوږکۍ	له نیم څخه نیمکۍ
له غاړي څه غاړکۍ (قطارونه)	له پوست څخه پوستکۍ پوښکۍ (نرمهٔ گوش)
له اوبن څخه اوبنکۍ (گهواره جنبان)	له خپه څخه خپکۍ
له لولۍ څخه لولکۍ	له توت څخه توتکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پروانهٔ ګل)	
لـه لپـی څخـه لپـه کـی (چمچـهٔ آبخوری)	له بوړ څخه بوړ بوړکۍ (حباب)

5- (ی) دا نښکه د نسبت او فاعلیت په معنا د اسم، صفت او صوت په آخر کښې راوړل کيږي لکه :

له اړخ څخه اړخی (د غره ډډی ته څای)	له تږخ څخه تږخی
له غوړ څخه غوړی	له چت څخه چتی (قرچه)
له ګنډ څخه ګنډی (کمیس)	له تېغ څخه تېغی (مرغ مری)
له تریخ څخه تریخی (تلخه)	له چون څخه چونی (بلبل)
له تور څخه توری (طحال)	له ټپ څخه ټپټپی (موټر سایکل)
له زیړ څخه زیړی (یرقان)	
له بر څخه بری	له ښپ څخه ښپښپی (چچ)
له ډډ څخه ډډی (د بوسو خوسی)	له کړ څخه کړکړی (یو شي دی چي د بیړی د تناب د پاسه څرخي)

6- (ۍ) د (ی) مونث شکل دی او داسم، صفت، صوت، فعلي مادي په پای کښې د نومو د جوړولو د پاره استعمالیږي لکه:

له غوړ څخه غوړۍ	له تال څخه تالۍ
	لـه تیـر څخه تیـرۍ (نـری لکـه د تیـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اوړي ښځه اوړی	نیغ پټی
له باران ښځه بارانۍ	له لنډ ښځه لنډۍ (یوډول مار یا یو ډول شعر)
له تېر ښځه تېرۍ (واسکټ)	له کونتي ښځه کونتۍ (د لاس لرګی چې سر یې کوږ وي)
له سر ښځه سرۍ (سرخانه)	له بند ښځه بندۍ (د غوايانو غاړې ته یې اچوي)
له غاښ ښځه غاښۍ = خاښۍ	له غونډ ښځه غونډۍ
لـه بـټ ښځـه بټـۍ (د خښتـو پخولو)	له ډير ښځه ډيرۍ
له ژبي ښځه ژبۍ (د کوچنيانو يو مرض دی)	
له جنګ ښځه جنګۍ (ګنې ونې چې سره جنګيدلی وي)	
له ټك ښځه ټکۍ (هدف چې په ویشتو کښې ترې ټك خیژي)	

7- (جلي "ه") د نسبت په معنا د يو اسم، صفت، صوت، او فعلي مادي په آخر کښي راځي او نور نومونه ترې جوړيږي لکه:

له بور= پور ښځه بوره (بچه مرده)	له کاغ ښځه کاغه
له ټاپ ښځه ټاپه (مهر)	له ټنګك ښځه ټانګه (ګادی)
له ورور ښځه وريره	له چپ ښځه چپه (بوسه)
له چاپ ښځه چاپه	له ټك ښځه ټکه (آفت)
له ټېل ښځه ټېله	له ترك ښځه ترکه (روغن داغ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نوك څخه نوكه	له ژغ څخه ژغژغه
له ببل څخه ببله (خشكه بين بحر	له پړك څخه پړكه (د مرغيو نيولو يوه آله ده
له پېر څخه پېره (زواله)	له خوړل څخه خوړه (شريني خوری)
له يك څخه يكه (بكي)	له خړخېدل څخه خرخه

له مروړل څخه مروړه (د تويك د پاكولو مزی)
له بولل څخه بولله (قصيده)
له وېشل څخه وېشله (يو قسم پراته)
له تلل څخه تله (ترازو)
له وينځل څخه وينځه (كنيز)
له كنځل څخه كنځله (دشنام)

8- (له) دا توری هم په نسبتي معنا سره د اسم، صفت، صوت او فعلي مادي په آخر كښی راوړل كيږي لكه:

له زنګ څخه زنګوله (جرس)	له ګډ څخه ګډله (نان مخلوط)
له ګرد څخه ګردله	له تړوخ څخه تړوخله (سياه سرفه)
له ښاخ څخه ښاخله	له رېږدېدل څخه رېږدله (زلزله)
له پای څخه پايله (كرهٔ پای)	له خريدل څخه څېرله (بزغاله چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

	خړېدلو وي)
له وار څخه ورله (حامله)[1]	

9- (لی، لۍ) دا نښتکی هم د (له) په شان د نورو کلماتو په آخر کښی د نومونو جوړولو د پاره راځي لکه:

له روه څخه روهيلی	له ډب څخه ډبلۍ
له ختي څخه ختولی	له درب څخه دربلۍ (يوه لويه ستن وي او نجونی تري چارچاپير زانګي)
له ټيك څخه ټيكلی	له خړېدل څخه خړېلی (بز غاله ٔ نر)

ياد ګيرنه: يوازي (ل) هم په ځينو مثالو کښي د دغه پورته مقصد د پاره استعمالېږي. لکه :

له ځنګ څخه ځنګل او له ټوپ څخه ټوپل (توده ٔ خرمن).

10- (وان) د لاحقه که څه هم اصلاً د صفاتو د جوړولو د پاره ده، مګر ځينی نومونه هم پري جوړ شوي دي لکه:

له پوزي څخه پېزوان   له ګروي څخه ګرېوان او نور.

11- (ری، رۍ) دا لاحقې چي لومړی مذکر او دوهمه د مونث د پاره ده داسم، صفت او صوت په آخر کښي د نومو جوړولو د پاره راغلی دي مګر څه قدر تصغيري معنا هم پکښی ليدل کيږي لکه:

لـه پـت څخـه پتـری (بـرګ	له کچه څخه کچری (خر بوزه ٔ سبز

(1) منجيله هم شايد چي په اصل کښی منګيله وي او له (منګي او له) څخه به جوړه شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورد)	نیشکر)
له ګډ ځخه ګډوری	له ګني ځخه ګنېری
له کونګ ځخه کونګری	لــه ډانــګ ځخــه دانګــوری (عصای بغلی)
له غونډ ځخه غونډوری= غونډاری	له ډینګ ځخه دینګری

12- (ره) د دې علامې په واسطه هم دا یو څو نومونه جوړ شوي دي لکه:
له ټګ ځخه ټکره، له ډغ ځخه ډغره، له چیت ځخه چیتره (پیزار کهنه)، له ډنډی ځخه ډنډوره.

13- (اره) دا نښکه د نومو جوړولو د پاره د نورو کلماتو په آخر کښې راځي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اوبښ څخه اوبناره (ګهواره جنبان) لـه نـوك څخـه نوكـاره (چونـدی) له هيند[1] څخه هينداره (آئينه) له تونګي څخه تونګاره له پټ څخه پټاره (هغـه وزه چې پـه پښه کښې يې سپينه پټه وي) له بغ څخه بغاره.	له کټې څخه کټاره (هغه ميښه چې کټی يې مړ شي) له کټيل څخه کټاره (لويه چاړه) له سکونډل څخه سکونډاره له شوکول څخه شوکاره له ګرول څخه ګراره (برش آهنی اسپ) له چونګ څخه چونګاره

يادګيرنه: يوازې (ر) هم په ځينو مثالو کښې د دغه مقصد دپاره استعماليږي لکه:

لـه انـډي څخـه انـډر (مـست)، لـه شـخوند څخـه سـخوندر (ځكـه چـې شخوندوهي)، له وند څخه وندر (د مال ترلو لويه بياسته) او ممکن چې کنډر هم له کنډو څخه جوړ شوی وي.

14- (ړه) د دې لاحقې په واسطه هم ځينې نومونه جوړ شوي دي لکه:

له چپ څخه چپړه (زوړ پيزار)	له خوکۍ څخه خوکړه (قلهٔ کوه)
له ډيکي څخه ډيکړه	له لك څخه لکړه

---

(1) هيند دلته د اوبو په معنا دی چې په اصل کښې سيند دی. ((هاوس)) سره تل بدليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ټوك څخه ټوكړه	له څپ څخه څپېړه (چپلاخ)
له يك څخه يكړه	

15- (اړ) لكه:

له بوت څخه بوتاړ (شكل) له لتي څخه لتاړ (پايمال)

له بوس څخه بوساړه.

يادګيرنه: يوازي (ړ) هم په ځينو مثالو كښې د دغه مقصد د پاره استعمال شوې ده لكه:

له كندي څخه كوندړ (خندق)، له كيند څخه كيندړ (هر شى چې د كيند غوندې ډېر زوړوي)

16- (ړى، ړې) لكه:

له وروسته څخه وروستاړى (د مچى) له اوبو څخه اوبړې (جامنك)

17- (نى، نې) لكه:

له كور څخه كورنې له تور څخه تورانى

له درب څخه دربانې له پټ څخه پټ پټانى

(په دې مثالو كښې د لاحقې او كلمې تر منځ الف زيات شوى دى).

18- (انه) :

له موټي څخه موټانه (د يوې موټى) له نيكه څخه نيكانه

19- (ند ، ندى) د فعلي مادې په آخر كښى د فعلي معنا د څرګندولو دپاره راځي او يو نوم ترې جوړيږي. لكه:

له جر [1] څخه جرنده له څرخ څخه څرخندى

---

[1] جر په ((زند)) كښې دميده كولو فعل ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له رپېدل څخه رپندی		له لویږي څخه لوئیږنده (شقیقه)

20- (مه) دا نښکه د اسم او صوت په آخر کښېږي راځي او نوي نومونه پرې جوړيږي لکه:

له ګوتي څخه ګوتمه		له ځیري څخه ځیرمه

له ډم څخه ډمامه		له بوغ څخه بوغمه

دغه شان ممکنه ده چې پیاړمه (دکټ لنګه) له پړي، پېړ او کوړمه (خانواده) له کور څخه جوړ شوي وي.

21- (څه، ځنی) : له غرڅخه غرڅه، غرځنی		له پای څخه پایڅه.

22- (سی) لکه:

له ویر څخه ویروسی (نان مرده)		له ګونګ څخه ګونګوسی.

23- (وس) لکه:

له ټپ (صوت) څخه ټپوس		له پنډ څخه پنډوس (یعنی پنډشی)

په کنډاس او ډانډس کښېږي هم (س) د نسبت د پاره معلومیږي.

24- (ګنی): له خسر څخه خسر ګنی		له پلار څخه پلار ګنی.

25- (ګه): له درون څخه درنګه (لاش مرده).

26- (ندار): له ورور څخه ورندار

له تره څخه تریندار- تندار (زن کاکا).

27- (و): لهٔ مرګ څخه مرګو		له زانګل څخه زانګو.

28- (وی) : له خرڅخه ځاروی (چارپا).

29- (ونکی، ونی) دا دواړه لاحقې که څه هم د فعلي صفاتو لاحقې دي، مګر ځینی نومونه هم پرې جوړ شوي دي لکه:

له غولول څخه غولوونکی (یوه دانه ده چې د سترګې د پاسه راخیژي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له باد څخه بادونی (زکام)،   له سپږه څخه سپږوونی
(وچ اوږه چې پېږه پکښې جوړوي).

30- (یی) له خور څخه خور یی.

31- (ینه، ینګه) له خور څخه خورینه، خورینګه (خواهر خوانده)،
له مور څخه مورینه.

32- (انګه) د اعلامه د دي، وروسته نومو په آخر کښې راغلې ده، مګر د لغت نوعیت یې نه دی بدل کړی، خالي په معنا کښې یې څه قدر زیاتوالی راوستی دی لکه:

له غرې څخه غرانګه   له ریښې څخه ریښانګه
له ځیلۍ څخه ځیلانګه   له چیرړې څخه چیرړانګه

په دې ټولو مثالو کښې نسبت اصل ته زیاتوالی او لوی والی ملحوظ دی.

تبصره: کله کله یوه علامه یوازې د شکل بدلولو د پاره راځي او په معنا کې ډېر فرق نه راولي لکه: نښه= نښکه، کوډۍ= کوډله، ځنۍ= ځنکۍ، بخرۍ= بخرکۍ، کوکه= کوکاره.

ظرفي لاحقې

په پښتو کښې ظرفي لاحقې هم ډېرې دي چې د هغو په واسطه د ظرف نومونه جوړیږي. دا لاحقې بیا پر دوه ډوله دي. یو د ظرف مکان لاحقې دي او بل د ظرف زمان.

<u>د ځایو نومونه</u>: د ځای د نومو د جوړونې د پاره په پښتو کښې وروسته لاحقې موجودې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- (ځی) دا لاحقه د نومو ، صفاتو او فعلي مادې په آخر کښی راځي او د ظرف مکان نوم پرې جوړیږي. لکه: اجل ځی- ښکار ځی – دمه ځای – ایله ځی – وتوځی (مخرج) – ناستو ځی، وندیځی، پخلیځی – ښوونځی – لوستوځی او داسې نور.

تبصره: په ځینو پخوانو کلمو کښې یوازې (ځ) هم د ظرفي لاحقې په حیث راغلې ده لکه دریځ[1] (منبر) خاتیځ = مشرق، لویدیځ = مغرب. دارنګه په (ترخځ – وریځ) کښی هم (ځ) غالباً ظرفي لاحقه معلومیږی او ښایي چې په اصل کښیبه د ترخ ځای او د وریا ځای وي. دغسی په تمبیځي (خیشوم کښی هم (ځی) د ظرف توری بللی شو.

2- تون [2] د ظرف توری او د ځای په معنا دی. په سانسکریت کښی هم ریښه لري لکه (سهتان) او فارسی (ستان) هم ور سره نزدې دی. دا توری په پښتو کښې د ځای د نامه د پاره استعمال شوی دی لکه : چړتون (غلاف شمشیر) میړتون- بودتون، مړستون، (مقبره) لانډ پستون[3] درملتون، ننداړتون.

دارنګ ښایي، چې ستونی او لستونی هم په اصل کښی (ساتون او لاس تون) وی :

---

(1) امیر کروړ (**139** ه) وایي (نوم مې بولي پر دریځ ستایوال).

(2) تون په قدیم ادب کښی د ځای په معنا راغلی دی. اسعد سوری (**425** ه) د محمد سوري په مرثیه کښې وایي: (په جنت کښې دې وه تون زمونږ واکمنه

(3) په دې مثالو کښی (س) د (ستان) شکل څرګندوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3- (غالی)[4] دا توری د نومو او صفاتو په آخر کښې د ظرف مکان د جوړولو د پاره راځي لکه:

اور غالی – شپون غالي – سوی غالی – ژور غالی – چوغالی– پنډ غالی– کوغالی دغه شان بوزغلی – ستر غلی[1] – کوډغالی – ډوغل (چقوری هم د ظرف مکان نومونه دي چې په پای کښې يې ((غالی)) يا يي مخفف صورت (غل) استعمال شوی دی.

4- (جل) د اعلامه هم د ظرف مکان د جوړولو د پاره استعماليږي لکه په دې مثالو کښې: غوجل – اسجل – بورجل (مسکن محبوب – ښايي په اصل کښې بر جل يعنی لوړ ځای وي) دا رنګ مورچل هم ښايي په اصل کښې مرګ جل وي.

تبصره: ((ګل)) هم په پښتو کښې د کليو د نومو په آخر کښې راغلی دی لکه: نورګل – ګنجګل – د يو ګل – له دې کبله ويلای شو چې (جل، ګل، غل) دريواړه کلمې سره نژدې او په يوه معنا دي ولې چې د ((ګ، غ او ك، ج)) بدلون په پښتو کښې ډېر دی.

5- (ګره) دا لاحقه د نومو په آخر کښې د کرنې د ځايو د پاره راځي لکه: غنمګره، شولګره، جوار ګره.

---

(4) غالي د ځای په معنا دی چې د زندله (ګاتو) او فارسی (ګاه) سره نږدېوالی لري. په زند کښی اور غالي ته آترګاتو وايي. د (ګ، غ، اوت، ل) بدلون په آريايي ژبو کښی عام دی، نو له ((ګاتو)) څخه پا آسانی (ګالی، غالی) او په پای کښی (ګل، غل، جل جوړېدای شي. د غالي ريشه د (غولي = صحن) په کلمه کښی هم شته.

[1] دا کلمه ځينو کسانو له سترګ غالي څخه مخففه بللې ده مګر زما په خيال په همدی شکل هم صحيح ښکاري ستر د پورته او جګ په معنا دی يعنی پورته ځای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6- (ګړ) د دغه ريشي سره ارتباط لري او د اسم او صفت په آخر کښې د استوګنې د ځايو د پاره استعماليږي لکه: راجګړ – ترهګړ – شيرګړ- ياغی ګړ او داسې نور.

7- (يانه، يانا) يوه قديمي د ظرف لاحقه ده چې د ځايو د نومو په آخر کښې استعمال شوې ده لکه: پکتيانه، باختر يانا، آريانا، سغديانا لوديانه او داسې نور.

8- (يانه) دا لاحقه د نباتاتو د نومونو په پای کښی استعمال شوې ده، لکه: اغزيانه، کوکيانه (ګلزار)، وښيانه – ځوزيانه.

9- (نۍ) دا علامه هم د ظرفي لاحقې په حيث د ځينو نومو په آخر کښې راغلې ده لکه پوکنۍ- توکنۍ (تف داني) – اوښۍ (آبزار) دغه شان په چونيانۍ (تشناب) اوښويدانۍ (لخشك) کښی هم په لږ تغير ((يانه، نۍ)) ليدل کيږي. پونۍ (پای دان) هم دغه ډول کلمه ده چې وروسته پورې شوې ده.

تبصره: په پښتو کښی ځينی نورې ظرفي لاحقې هم شته مګر يو يا دوه مثاله لري او په وروسته ډول دي:

10- (ړومه) لکه له رانجه څخه رنجړومه.

11- (ونج) لکه ګړي څخه ګړونج.

12- (وټ) لکه له ډيوي څخه ډيوټ.

13- (مه) لکه له ګوتي څخه ګوتمه.

14- (ونده) لکه له کر څخه کرونده = کروند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

15- (غه) لکه لرغه = برغه[1] دغه شان ((کر غه)) هم ممکن چې د کرلو د ځای په معنا وي.

<u>د زماني نومونه</u> : د زماني د نومو د پاره په پښتو کښې ډېرې نښکې او علامې نشته، يوازې د (مال) د کلمې په لګولو ځينې زماني ظرفونه جوړ شوي دي لکه: مانځه مال، کوچمال (وقت رحيل)

په قديم ادب کښې دا کلمه د (مل) په صورت استعمال شوې ده لکه: برمل = پيشين – لرمل (ديگر) ترمل (شام)[1]. نو اوس هم ښايي چې د (مل) کلمه د زماني ظرفونو د پاره استعمال کړې شي.

2- دغه شان (تون) هم د ظرف زمان د پاره راتلی شي، لکه چې د فارسی (ستان) د زمستان او تابستان په کلمو کښې په دغه معنا ليدل کيږي يعنی د ژمي وخت او د ګرمۍ وخت، په پښتو کښې د پيغلتون او ښېلتون کلمې د ظرف زمان نومونه ګڼل کيدای شي، ځکه چې مقصد ترې د پيغلتوب او ښېلوالي وخت او زمانه ده.

د ښارونو او ځايو د نومو لاحقې

په پښتو کښې د ښارونو، کليو او ځايو د نومونو جوړلو د پاره ځينی مخصوصې لاحقې شته او په لاندې ډول بيانيږي:

---

(1) لرغه، برغه په ډيره اسماعيل خان کښې د ځايونومونه دی يعنی لر ځای ، او بر ځای ، د (دغه) ريشه قديمي ده، او د فارسی له (ګاه) سره هم نزدېوالی لري.

(1) ښکارووند وي د (580 ه) د وختو شاعر وايي، که بريځروي که غرمه وي که بر مل وي، که لرمل که لمر لوېده که ترملونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- (خا) دا یوه قدیمي لاحقه ده چې د (کا) په صورت هم استعمال شوی ده او له (خوا) څخه مخففه معلومیږي. مګر اوس د (خا) په ځای (خوا) زیات استعمالیږي، مثالونه دا دي: پښتیخا، پکتیکا، پښتون خوا، وازه خوا، توره خوا او نور.

2- (شا) دا لاحقه د خوا د کلمې سره یو ځای استعمالیږي لکه په (خواوشا) کښې. د دې لاحقې په واسطه هم په پښتو کښې یو څو نومونه جوړ شوي دي لکه: سیدشا، میر انشا، بخمل شا، کجك شاه، غنم شا، [دا ټول د کلیو او علاقو نومونه دي].

3- (کوټ) که څه هم یوه ځانله کلمه ده مګر د لاحقې په شکل د کلیو د نومو په آخر کښې استعمالیږي لکه: پښتون کوټ – کاشکوټ، سیال کوټ او نور.

4- (ګرام) دا کلمه په سانسکریت کښی د کلي په معنا ده خو د کلیو د نومو په آخر کښې د لاحقې په صورت هم راغلې ده لکه:

کلی ګرام، وډی ګرام، بټه ګرام، کاڼي ګرام.

5- (پور) دا کلمه اوستا کښی د شاهی ځای په معنا ده او په پښتو کښی د یوې لاحقې په ډول د کلیو د نومو په آخر کښی راوړل کیږي لکه : اسلام پور – لاچه پور – شمشپور – سلطان پور – لال پوره – اکبر پوره.

6- (هار) [1] لکه ننګرهار، قندهار، چپرهار

7- (واړه) [راجواړه] [2] – باجواړه - باجوړ

(1) د هار کلمه د فارسی له (سار) سره ارتباط لري

(2) په هند کښې را جواړې د راجګانو علاقو ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

8- (يالۍ) لکه بوډيالۍ – پنډيالۍ

9- (کنډۍ) لکه چمر کنډ – ملاکنډ – بارکنډ - ليکنډۍ

تصغيري لاحقې (پسينه)

په پښتو کښې د يو شي د کمکي والي د ښودلو د پاره ډېر ((پسينه توري)) موجود دي دا توري دوه خصوصيته لري يو دا چې د يو نوم معنوي تصغير او کوچني والی ښيي يعنی په اصل معنا کښې څه ډېر فرق نه راولي بلکې د تصغير صفت يې زياتوي لکه سليم ګی – غټکی، ځلمو ټی- طالب ګوټی او داسې نور او بل دادی چې د وړو کو او کوچنو شيانو د پاره د مستقلو نومونو کار ورکوي يعنی د شيانو په معنا کښې هم فرق راولي او له غټ جنس څخه په يو وړوکي جنس پورې تخصيص ورکوي، لکه (لروکی، چړوکی) چې د مستقلو نومو په حيث استعماليږي، که څه هم د کوچني والي معنا پکښې پرته او ملحوظه ده هر کله چې زمونږ اصلي مقصد د نويو نومونو په جوړونو کښې دی، نو ځکه په مثالونو کښې هم دوهم ډول نومونه راوړل کيږي. د دغو خصوصيتونو د ښېلونې د پاره يو عمومي اساس دا دی چې په اشخاصو او عقلمندو کښې لومړی خصوصيت او په شيانو کښې دوهم خصوصيت پيدا کوي، چې دا دی په وروسته ډول ښودل کيږي:

1- (ګی، ګۍ) دا لاحقې د اسماؤ په آخر کښې راځي او د يو وړوکی او کوچني شي د پاره ترې ځانله نومونه جوړيږي لکه:

له جام څخه جام ګی	له کوټه څخه کوټه ګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له غر څخه غرګۍ (کوه بچه)   له جارو څخه جاروګۍ

له شادو څخه شادوګۍ   له جولا څخه جولاګۍ (عنکبوت)

2- (کی، کۍ) دا نښکی د اسماوً به آخر کښي د وړو شیانو د نومو جوړولو د پاره استعمالیږي او کله د اسم او لاحقې د اتصال د پاره (و) هم راوړل کیږي لکه:

له ډنډ څخه ډنډکی = ډنډوکی [1]   له جال څخه جالکی

له پنډ څخه پنډکی = پنډوکی   له چاړه څخه چړوکۍ

له کټ څخه کټکی   له دړې څخه دړوکۍ

3- (تی، تۍ) د اعلامې هم د نومو په پای کې دوړاندې مقصد د پاره را وړل کیږي لکه:

له منګې څخه منګوټی   له کټوی څخه کټوټۍ

له چرګ څخه چرګوټی   له شکرې څخه شکروټۍ

له مشر څخه مشروټی

4- (ړی، ړۍ) دا توری هم د اشیاو یعنی د ذات د نومو په آخر کښې د کوچنیو نومو د جوړښت د پاره راځی لکه:

له کندو څخه کندوړی   له بچی څخه بچوړی

له کدو څخه کدوړی   له کب څخه کبوړی

له دیګ څخه دیګوړی   له کوزې څخه کوزه ړی

له تمبې څخه تمبه ړی (تمبړۍ)

---

(1) دا خبره یاد لرل پکار دی چې په ټولو تصغیري نومو کښې کله کله د نوم او لاحقې تر منځ یو (و) هم راوړل کیږي او کله د اولې کلمې (ی) په (و) بدلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5- (ری) دا لاحقه هم د ځينو نومو په آخر کښې راغلې ده لکه:

له مرك څخه مړ کوری　　　له خيتې څخه خيتورى

له چاتې څخه چاتورى　　　له ځوځکى څخه ځوځکورى

(نوله آفتاوه) .

له ګډ څه ګډورى　　　له ټيك څخه ټيکورى.

6- (ګوټى، ګوټې) دا کلمې چې له (ګی، ټی_ څخه مرکبې معلوميږي؛ د کوچنيونومو د جوړونې د پاره د نورو نومو په آخر کښې راوړل کيږي لکه:

له جام څخه جام ګوټى　　　له بياتي څخه بياتي ګوټې

له تختې څخه تخته ګوټې

7- (ګوړى) دا لاحقه له (ګی، ړى) څخه مرکبه ښکاري او د ورانـدې مقصد د پاره استعماليږي لکه:

له انار څخه انار ګوړى (اننګوړى)　　　له وز څخه وز ګوړى

له چرګ څخه چرګوړى[1]

8- (نګړى) دا هم يوه تصغيري لاحقه ده چې د ځينو نومو او صفاتو په آخر کښې راغلې ده لکه:

له پيشو څخه پيشو نګړى　　　له خوار څخه خوارنګړى

له بلى څخه[2] بلونګړى　　　له تور څخه تور نګړى

له بچى څخه بچونګړى.

---

(1) په دى مثال کښې يو (ګ) د تکرار په وجه غورځيږي.

(2) بلي په اردو پيشو ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

9- (ی،ی) دا توری د تصغیري نومو د جوړولو د پاره د هغونومو په پای کښې راځي چې په (ك، ګ) مختوم وي لکه:
له ټوپك څخه ټوپکی، له ښانك څخه ښانکی، له ستك څخه ستکی،
له پرتوګ څخه پرتوګی.

تبصره: په پښتو کښې ځینی نورې تصغیري لاحقې هم شته خو ډېر مثالونه نه لري او دادي:

10- (چکی) لکه له غل څخه غلچکی.

11- (ځکی) لکه له نری څخه نروځکی،

12- (کنډی) لکه له پیش څخه پیش کنډی.

13- (چی) لکه له دیګ څخه دیګچی.

14- (چه) دا لاحقه د فارسی لاحقه ده مګر په پښتو کښې هم یو څو مثالونه لري لکه: ډولچه، تاخچه، نیمچه.

د اسم صوت لاحقې

د صوت نومونه په پښتو کښې پر دوه ډوله دي: یو قسم یې بسیط نومونه دي چې هغه لاحقې نه لري لکه: ډز، ګرز، ټس، چغ، ترنګ، کرنګ، شرنګ او نور، او بل قسم یې اشتقاقي او جوړ شوي نومونه دي چې هغه له بسیطو اصواتو څخه د لاحقو په لګولو جوړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشـتقاقي اصـوات (غږونـه) د زيـاتو او ډيـرو آوازونـو د حکايـت پـه غرض استعاليږي او د کثرت او مبالغي ښودلو په غرض راځي چې بيان يې په وروسته ډول دی:

1- (کی) دا لاحقه د دوه حرفي صوت په آخر کښې راځي لکه: پـشکی، کشکی، ښهکی، شرکی، پرکی او نور [1]

2- (هار) دا نښکه د هر ډول اصـواتو پـه آخـر کښـې را وړل کيـږي لکـه: غپهار- ډبهار- خرپهار- درزهار- ترنګهار- کړنګهار او نور.

3- (**1**) دا علامـه غالبـاً د هغـه دوه حرفـي اصـواتو پـه آخـر کښـې چې اول حرف يې زور ولري او د دري حرفي او څلور حرفي اصواتو پـه پـای کښـې استعماليږي.

لکـه:ټـسا، غپـا، ډزا، خرپـا، غربـا، ګـړزا، دربـا، شـرنګا، غړمبـا، ترنګا، کړنګا او نور.

4- (ی) دا توری غالبا د دري حرفي او څلور حرفي اصـواتو پـه آخـر کښـې راځي لکـه: خرپی، دربی، غربی، ګړزی، غړمبی، شرنګی، کړنګی او نور.

مصدري لاحقي (پسينه توري)

مصدر په پښتو کښی هغې کلمې ته وايي چې د فعل او کـار نـوم وي او زمانه ترې نه معلوميږي په همدې وجه مصدرته ((فعلي نـوم)) هـم ويـل کيږي. د مصدر د جوړولو او اشتقاق دپاره په پښتو کښې ځينـې علامـې او نښکې شته چې دا دي وروسته بيانيږي:

---

(1) دا رقم اصوات د قندهار د خوا اصطلاح ده نور پښتانه يې نه استعمالوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- (ل) [1] دا لاحقه د ځینو کلمو په آخر کښې د مصدر د جوړولو د پاره پیوستیږي چې دا ډول مصدرو نه ((لام والا)) مصدرونه بولي. مګر په پښتو کښې د لام وا لا مصدرونو زیاته برخه اصلي او وضعي مصدرونه دی او کوم اصل او ماخذ نه لري او یا مونږ ته نه معلومیږي. لکه: شړل، کتل، ساتل او داسي نور. او بله برخه لام والا مصدرونه اشتقاقي دي چې له بلي کلمې څخه ماخوذ بلل کیږي. دا راز مصدرونه څومره چې تر اوسه معلوم شوي دي دا وروسته مثالونه او صورتونه لري:

الف :- هغه دي چې د شیانو او ذاتي نومو څخه جوړیږي لکه:

له کسي څخه کسل	له غوږ څخه نغوږل	د دې دوو مصدرو په اول کې یو "ن" هم زیات شوي دي.
له بوڼ څخه بوڼل	له غری څخه نغرل	
له داړې څخه داړل	له وت (شګاف) څخه وتل	
له پسول څخه پسولل	له داغ څخه داغل	
له ګاڼې څخه ګاڼل		

په دې ډول ځینی نور مثالونه هم شته چې په هغو کښې د اشتقاق مشابهت لیدل کیږي لکه (تلی، تلل، ځنی ځښل (بافتن چارپائی)، لیمه – لیدل، خوله – خوړل) دغسي (نغوتل) چې د تحریك او اشارې معنا ورکوي؛ بنایي چې له (ګوتې) څخه ماخوذوي ځکه چې اشارت په ګوته کیږي او د ((غ، ګ)) تبدیل په پښتو کښې عام دی.

ب :- هغه مصدرونه دي چې له اصواتو څخه جوړیږي لکه:

---

(1) په سنسکریت کښی (ن) د مصدر علامه ده لکه پرې ور تن (پرې وتل) ندن (ناړل) هر کله چې (ن) او (ل) همیشه یو پر بل باندې اوړی له دې کبله (ل) په پښتو کښی د مصدر یوه قدیمي لاحقه بللی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له غپ څخه غپل	له وه څخه وهل[1]
له ټوخ څخه ټوخل	له توك څخه توكل
له ترپ څخه ترپلل	
له چوپ څخه چوپل	له پوك څخه پوكل

ښايي چې دا مصدرونه په اصل كښې پوكل، توكل وي او بيا وروسته مخفف شوى وي.

ج :- هغه مصدرونه دي چې له صفاتو څخه جوړ شوى وي لكه:

له مل څخه ملل	له مړ څخه مړل
له روڼ څخه روڼل	له ټكګ څخه ټكل،

د :- په پښتو كښې ځينې داسې لازم مصدرونه هم شته چې اول جزء يې فعلي نوم وي او ځانله د يو فعلي كيفيت او حالت په معنا استعماليږي. په داسې مصدرونو كښې د اصل معلومول څه قدر اشتباه لري او په يقين نه معلوميږي چې مثلاً لوټل له (لوټ) څخه اخستل شوى دى او كه نه خبره بالعكس ده.

مګر سره د دې زما په خيال په دغه ډول نومونو كښې كوم چې بسيط وي او لاحقه نه لري هغه د مصدر ماخذ بللى شو او كوم چې بسيط نه وي او لاحقه لري؛ هغه به غالباً له دغې مفردې كلمې څخه ماخوذ او مشتق وي. د دې قسم مصدرونو مثالونه وروسته ښودل كيږي لكه:

(1) ښايي چې په اول ضرب كښې به چا له خولې نه (وه) ايستلې وي نو پس له هغه به ددغه فعل د پاره وهل اينښود شوى وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويی، ويل / ويارړ، وياړل / ښار، ښارل / يرغل، يرغالل / لوټ، لوټل، وېش، وېشل / يون، يونل / ګوټ، ګوټل / دانګك، دانګل / زغم، زغمل / شمېر، شمېرل / چېړ، چېړل / زبېښ، زبېښل / ليد ، ليدل / اخېړ، اخېړل / تپوس، تپوسل / تول ، تلل / بول=قول ، بولل.

2- (ول) دا هم يوه مصدري لاحقه ده او د نورو کلماتو په آخر کښې د مصدرونو د جوړولو دپاره راوړل کيږي. دې قسم مصدرونو ته (ول والا مصدرونه وايي. په دې قسم مصدرونو کښې ځيني داسې مصدرونه شته چې اصلي رنګ لري او له کومې بلې کلمې ځخه ماخوذ نه معلوميږي لکه (پرزول- ګرزول- پړسول) لاکن د ول والا مصدرونو زياته برخه مشتقې دي او ضرور يو اصل او ماخذ لري دا رقم ول والا مصدرونه په پښتو کښې نسبتاً ډېر دي او په وروسته ډول يې د جوړېدو صورتونه او د نمونې په څېر يو څو مثالونه ښودل غواړو.

الف :- لومړی صورت يې دا دی چې د اشياو يعنې د ليدونکو شيانو د نومو په آخر کښې (ول) راځي او ول والا مصدرونه ترې جوړيږي لکه:

له ږمنځ څخه ږمنځول	له باد څخه بادول
له ميخ څخه ميخول	له بار څخه بارول
له ګام څخه ګامول	له ځای څخه ځايول
له ګز څخه ګزول	له لويشت څخه لويشتول
له غلبيل څخه غلبېلول	له نال څخه نالول
له کولپ څخه کولپول	له باټ څخه باټول
له چاڼ څخه چاڼول	له ډانډس څخه ډانډسول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب :- دوهم صورت دا دی چې د بسیطو اصواتو په آخر کښې (ول) پېوستيږي او ول والا مصدرونه ورځنې تیارېږي لکه:

له ډب څخه ډبول	له غرب څخه غربول
له غږ څخه غږول	له بنګک څخه بنګول
له رپ څخه رپول	له کړس څخه کړسول
له ډز څخه ډزول	له ترنګک څخه ترنګول
له ټغ څخه ټغول	له شرنګک څخه شرنګول
له ټوخ څخه ټوخول	له غړمب څخه غړمبول
له ګړ څخه ګړول	له کړنګک څخه کړنګول.

ج :- دریم صورت دا دی چې (ول) د مجردو نومو په آخر کښې راځي، دغه مجرد نوم[1] د فعل نوم وي او که د یو حالت او کیفیت نوم وي لکه:

له لېو څخه لېوول	له ویري څخه وېرول
له میچ څخه مېچول	له ځور څخه ځورول
له ټال څخه ټالول	له رنځ څخه رنځول
له غوبل څخه غوبلول	له جنګک څخه جنګول
له ربړ څخه ربړول	له شرم څخه شرمول
له سینګار څخه سینګارول	له رواج څخه رواجول
له تاوان څخه تاوانول	له پور څخه پورول
له ډار څخه ډارول	له لور (روا داری) څخه لورول

---

(1) مجرد نوم هغه دی چې لیدونکی شی نه وي او مسمی یې خارجی وجود نه لري دې ډول نوموته د کیفیت نومونه هم وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د :- څلورم صورت يې دا دی چې ((ول)) د صفاتو په آخر کښې راوړل کيږي لکه:

له تور څخه تورول	له اوږد څخه اوږدول	له مات څخه ماتول
له پاك څخه پاکول	له جګ څخه جګول	له ودان څخه ودانول
له زيات څخه زياتول	له ډېر څخه ډېرول	له وران څخه ورانول
له آسان څخه آسانول	له لږ څخه لږول	له ياد څخه يادول
له هېر څخه هېرول	له سوړ څخه سړول	له تود څخه تودول

هـ :- کله د (ول) علامه د فعل حال د فعلي مادې په آخر کښې راوړل کيږي او ول والا مصدرونه ترې جوړيږي او خالی دا وروسته مثالونه لري. لکه:

له خيژي څخه خېژول	له نښلي څخه نښلول
له الوزی څخه الوزول	له اوړي څخه اوړول
له کښېني څخه کښېنول	له خوري څخه خورول
له رغږي څخه رغږول	له لولي څخه لولول
له ځملي څخه ځملول	له لېږدي څخه ليږدول

ز :- کله د مصدر د فعلي مادې په آخر کښې (ول) پيوستيږی او ول والا مصدرونه ځنې لاس ته راځي چې خالی دا يو څو مثالونه لري لکه:

له خندل څخه خندول	له لامبل څخه لمبول
له ژړل څخه ژړول	له زانګل څخه زنګول
له غپل څخه غپول	له نخل څخه نخول
له ټوخل څخه ټوخول	له دانګل څخه دنګول

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اغوستل څخه اغوستول — له غړمبل څخه غړمبول

3- (يدل) دا هم يوه مصدري لاحقه ده، چې اکثر د لازمو مصدرونو[1] د جوړولو د پاره د کلماتو په آخر کښې راوړل کيږي. دې قسم مصدرونو ته (يدل والا) مصدرونه وايي.

"يدل والا" مصدرونه کټ مټ د "ول والا" مصدرونو پشان دغه وړاندې شپږ صورتونه لري. ديدل والا مصدرونو د اشتقاق او جوړوني لار آسانه ده. په ټولو ((ول والا)) مصدرونو کښې چې د (ول) په ځاى (يدل) راوړې شي نويدل والا مصدرونه تري جوړيږي. خو سره د دې هم د زيات وضاحت دپاره د يدل والا مصدرونو د جوړېدو او اشتقاق صورتونه لنډ ډول لاندې بيانيږي:

الف :- د ذات د نومو په آخر کښې (يدل) راوړل کيږي لکه:

له ړمنځ څخه ړمنځېدل — له ګام څخه ګامېدل

له بار څخه بارېدل — له ګز څخه ګزېدل

له ځاى څخه ځايېدل — له چاڼ څخه چاڼېدل

ب :- د اصواتو په پاى کښې (يدل) راځي او يدل والا مصدرونه تري جوړيږي لکه:

له ډب څخه ډبېدل — له غړ څخه غړېدل،

له شرنګ څخه شرنګېدل — له بنګ څخه بنګېدل

له ټغ څخه ټغېدل — له ټوخ څخه ټوخېدل.

ج :- د مجردو نومو په پاى کښې (يدل) پيوستيږي لکه:

---

(1) د اوريدل او لوريدل مصدرونه استثناء متعدى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ټال څخه ټالېدل — له ربړ څخه ربړېدل
له رنځ څخه رنځېدل — له غوبل څخه غوبلېدل
له لېو څخه لیوېدل — له جنګ څخه جنګېدل
له رواج څخه رواجېدل.

د :- د صفاتو په پای کښې (يدل) راوړل کيږي لکه:

له تور څخه تورېدل — له جګ څخه جګېدل
له ډېر څخه ډېريدل — له سوړ څخه سړېدل او داسې نور.

ه :- د مصدر او فعل حال له فعلي ما دې څخه لکه:

له رغړي څخه رغړېدل — له اوړي څخه اوړيدل
(1) له خندل څخه خندېدل — له ژړل څخه ژړېدل
له زانګل څخه زنګيدل — له ټوخل څخه توخېدل او نور.

د حاصل مصدر پسينه توري

هغه نومونه چې فعلي معنا لري او له مصدر څخه جوړيږي؛ د مصدر حاصل بولي. دا نومونه ځينې په خپله د مصدر په معنا راځي مګر فـرق دومره دی چې له مصدر څخه پکښې اسمي رنګ زيات وي لکه (وهنه، ليدنه، کتنه) او ځينې د مصدر اثر، حالت او فعلي کيفيت ښکاره کـوي لکه (خندا، ژړا) چې د خندلو او ژړلو پر حالت او کيفيت دلالت کـوي.

---

(1) لاکن د (خېژول، الوزول، ځملول، نښلول، کښېنول، خوړول، لولول، اغوستول) په مصدرونو کښې يدل والامصدرونه ، نه استعماليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر کله چې په پښتو کښې د حاصل مصدر اکثرې لاحقې د دغو دوارو معنا ګانو د پاره په شريك ډول راځي له دې کبله دغه دواړه قسمونه يو ځای په لاندې ډول ښودل کيږي.

1- (نه) دا لاحقه بې د ځينو خصوصي مصدرونو څخه د ټولو مصدرو په آخر کښې د لام پر ځای راځي او د حاصل مصدر نومونه ترې جوړيږي لکه:

له وهل څخه وهنه	له لټول څخه لټونه
له ختل څخه ختنه	له ټولول څخه ټولونه
له وتل څخه وتنه	له درېدل څخه درېدنه
له ساتل څخه ساتنه	له ټولېدل څخه ټولېدنه [1]

2- (خفي ه) دا توری ديدل والا او ځينو لام والا مصادر و په پای کښې د مصدر د لام پر ځای راوړل کيږي لکه:

له غورځېدل څخه غورځېده	له ليدل څخه ليده
له پوهېدل څخه پوهېده	له کتل څخه کاته
له لمبېدل څخه لمبېده	له اغوستل څخه اغوسته
له پاځيدل څخه پاځېده	له ختل څخه خاته

(1) دا دواړه قسمه په خپله د مصدر په معنا استعماليږي، خصوصاً دوهم صورت خو کټ مټ يو مخفف مصدر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3- (ښت) دا نښکـه هـم د حاصـل مـصدر لاحقـه ده او د ځینـو یـدل والا مصادرو په پای کښې د (یدل) پـه عـوض راغلي ده او دا مثالونه پکښې موجود دي:

له مرېدل څخه مرېښت	له درنېدل څخه درنښت
له جوړېدل څخه جوړښت	له یادېدل څخه یادښت
له لګېدل څخه لګښت	له سمېدل څخه سمښت
له خرېېدل څخه خرېښت	له چلېدل څخه چلښت
له سرېدل څخه سرښت	له ارزېدل څخه ارزښت
له لوئېدل څخه لويښت	له ګرانېدل څخه ګرانښت

4- (ون) دا پـسینه تـوری پـه ځینـو مـصادرو کښـې راځـي او د مـصدري علامو پر ځای استعمالیږي او دا لاندی مثالونه پکښې موجود دي:

له ترل څخه ترون	له لتول څخه لتون
له ګټل څخه ګټون	له بدلول څخه بدلون
له ګنډل څخه ګنډون	له ګډول څخه ګډون
له خرخول څخه خرخون	له سمول څخه سمون
له لمسول څخه لمسون	له ډکول څخه ډکون
له لنګېدل څخه لنګون	له ګرځول څخه ګرځون (قې)
له ډډېدل څخه ډډون	

5- (ن) یوازي نون هم په یدل والا مصدرو او یو نیم لام والا مـصدرو کښـې د لام پر ځای د فعلي مادي پـه آخر کښـې پیوسـتیږي او د حاصـل مـصدر نومونه تري جوړیږي لکه:

له رغېدل څخه رغېدن	له غورځېدل څخه غورځېدن

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چلېدل څخه چلېدن   له لیدل څخه لیدن
له وسیدل څخه اوسېدن   له اغوستل څخه اغوستن [1]

6- (نګ) دا لاحقه په ځینو محاورو کښې د حاصل مصدر د جوړولو د پاره استعمالیږي او په یدل والاو یو نیم لام والامصدر کښې د (ل) پر ځای راوړل کیږي لکه:

له اوسېدل څخه اوسېدنګ   له چنبل څخه چنبنګ
له رغېدل څخه رغېدنګ   له تلل څخه تلنګ
له پاځېدل څخه پاځېدنګ   له غورځېدل څخه غورځنګ

(په دي مثال کښې (نګ) دیدل پر ځای راغلی دی)

7- (اك) دا لاحقه هم د فعلي مادي په آخر کښې د حاصل مصدر د جوړوني دپاره راځي او دا وروسته مثالونه لري لکه:

له خوړل څخه خوراك   له چنبل څخه چنباك
له ژول (ژوند کول) څخه ژواك،   له څکل څخه څکاك
له پخسیدل څخه پخساك   له تپېدل څخه تپاك.

8- (**ا**) دا علامه د ځینو لام والاویدل والامصادرو په آخر کښي د مصدري علامي پر ځای راځي او د مصدر حالت او کیفیت ښکاره کوي او دا مثالونه پکښې مستعمل دي:

له خندل څخه خندا | له کنځل څخه کنځا | له ششنل څخه ششنا

---

(1) څلورم او پنځم قسم نومونه له اصلي مصدر سره ډېر نږدېوالی لري ځکه چې په دواړو کښې یوازې (ل اون) سره بدل شوي دي نور یو شی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ژړل څخه ژړا	له ښکلل څخه ښکلا	له غړمبل څخه غړمبا
له نخل څخه نخا	له لمبل څخه لمبا	له ګړېدل څخه ګړېدا = ګړا
له غپل څخه غپا	له زغاستل څخه زغستا	له څلېدل څخه څلېدا = څلا
له شڼل څخه شڼا	له مشغولېدل څخه مشغولا	له رپېدل څخه رپېدا

9- (ښکاره "ه") دا توری د ځينو مصادرو د فعلی ما دې په آخر کښی د مـصدري علامـو پـر ځـای راوړل کيـږي او دا وروسـته مثالونـه پکښـې مستعمل دي:

له ترل څخه تره	له ژوبلل څخه ژوبله	له تړولل څخه تړوله
له ګټل څخه ګټه	له زغاستل څخه زغاسته	له جوړېدل څخه جوړه (صلح)
له څکل څخه څکه	له لټول څخه لټه	له پېښېدل څخه پېښه
له ښتل څخه ښته	له لمسول څخه لمسه	له تېښتېدل څخه تېښته
له ديکل څخه ديکه	لـه روغېـدل څخـه روغـه (صلح)	له بدلول څخه بدله [1]

10- (ی) ملينه (ی) هم په ځينو مصدرو کښې د مـصدري علامـو پـر ځـای راځي او د حاصل مصدر نومونه تري جوړيږي چې مثالونه يې دا دي:

له غورځېدل څخه غورځی   له خلاصېدل څخه خلاصی

(1) د اتم او نهم لمبر نومونو اشتقاق له مصدر څخه يقيني نه دی، کېدی شي چې خبره بالعکس مصدر له دغو نومو څخه مشتق وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له برابرېدل څخه برابری		له ودانېدل څخه ودانی

له سمېدل څخه سمی		له ورانېدل څخه ورانی

له سول څخه سوی		له خرڅېدل څخه خرڅی.

تبصره: په پښتو کښې د حاصل مصدر د پاره ځينې نورې لاحقې هم شته، مګر يو يا دوه مثاله لري دا لاحقې هم ټولې د مصدر د فعلي مادې په آخر کښې د مصدري علامو پر ځاى راځي او په وروسته ډول بيانيږي:

11- (ات) لکه: له ګټل څخه ګټاتله بايلل څخه بايلات.

12- (ت) له لګيدل څخه لګت (مصرف)		له بچېدل څخه بچت (پس اندازه)

13- (او) له چلېدل څخه چلاوۍ		له لګېدل څخه لګاو.

14- (انه) له اوسېدل څخه اوسېدانه		له رغېدل څخه رغېدانه.

15- (ڼه) له رغول څخه رغاونه (ساختمان)، له ټيکاوېدل څخه ټيکاونه.

16- (نا) له ويل څخه وينا		له برېښيدل څخه برېښنا .

17- (اره) له سکونډل څخه سکو نډاره

18- (ار) له ټينګېدل څخه ټينګار		له چينګېدل څخه چينګار.

19- (ان) له لګيدل څخه لګان		له ټکېدل څخه ټکان.

20- (ند) له چلېدل څخه چلند .

21- (ندى) له رپېدل څخه رپندى (لرزه).

22- (لاو) له خرڅول څخه خرڅلاو.

23- (ګنه، ګه) له اوسېدل څخه استوګنه، استوګه.

24- (وب) له پرسېدل څخه پرسوب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آلې د نوم لاحقې

آله په پښتو کښې پر دوه ډوله ده. يوه اصلي ده لکه: اره، ترښځ، رنده او نور او بله مشتقى ده. د مشتقې آلې نومونه درست لـه مصدر څخه جوړيږي او دا وروسته صورتونه او لاحقې لري:

1. (ونى) دا لاحقه په متعدي مصادرو کښې د لام پر ځاى راوړل کيږي او د آلې نوم ترې جوړيږي لکه:

له لوبول څخه لوبوونى	له پاکول څخه پاکوونى
له چاڼول څخه چاڼوونى	له غوځول څخه غوځوونى
له لګول څخه لګوونى	له تورل څخه تورونى
	له نيول څخه نيوونى

2- (نى) يـوازې: (نى) هم د فعلي مـادې پـه آخر کښې د آلې د نامـه د پـاره راځـي لکـه : لـه شـرنګول څخـه شـرنګنى او (شـرنګانى) هـم استعماليږئ له ټنګول څخه ټنګنى.

3- (ى) يوازې ملينه (ى) هم د فعلي مـادې پـه آخر کښې د آلې د نامـه د پاره راتلى شي لکه: (نوسى) چې غالباً د نيسل له مصدر څخه د (ى) پـه واسطه جوړه شوې ده [1]

تبصره: د اسم آلې د نامه د جوړولـو د پاره کله مفعول هم ورسره را وړل کيږي لکه : اور لړونى– مچشړونى. مګر دا بيا مرکبه آله بولي. دغه

---

(1) د آلې دا دري واړه صورتونه چې د غير ذيروح د پاره استعمال شي نو آله بللله کيږي او که د ذيروح د پاره راشي نو صفت يې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان (ی) هم اکثراً د مرکبې آلې د جوړښت د پاره استعمالیږي لکه: لاس پاکی، مچشړی، خټ موښی (ګل ماله) مچوژی او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صفاتو جوړونه

صفات پر دوه ډوله دي، یو هغه دی چې د یو شي او ذات حالت او وصف بیان کړي لکه (مشر، پوه) او بل هغه دی چې یوازې وصف او حالت څرګندوي او پر یو شي او ذات باندې دلالت نه کوي لکه (مشرتوب، پوهه) دا دواړه قسمه صفات په پښتو کښې داشتقاق او جوړولو جلا جلا لاحقې لري، مونږ اصطلاحاً دغه اول قسم ته صفات او دوهم قسم ته مجرد وصفونه وایو.

ذاتي او توصیفي صفات بیا د اشتقاق په لحاظ پر دوه ډوله دي، یو هغه دی چې له اسم او بسیط صفت څخه د لاحقو په لګولو جوړیږي او بل هغه دی چې له مصدر څخه د یو عمومی قانون موافق د لاحقو په واسطه اشتقاقیږي. دغه اول قسم ته نسبتي[1] او دوهم قسم ته فعلي صفات وایو. په نسبتي صفاتو کښی منسوب الیه معلوم او یوه مستقله جلا کلمه وي. نسبتی صفات په پښتو کښې ډیرې او زیاتې لاحقې لري، دا لاحقې عموماً د اسم او صفت په آخر کښی راځي او نسبتي صفت ترې جوړیږي. لکه (اغزن، اومړی) چې اول (اغزی) او دوهم (اوم) ته منسوب دی. مګر دومره خبره ده چې په نسبتي صفاتو کښې د بل یو صفت د نسبت مثالونه کم او د اسم د نسبت مثالونه ډیر دي.

دا د نسبتي صفاتو لفظي خصوصیت وُ، هر څه چې یې معنوي خصوصیات دي نو هغه څه قدر مفصل دي، ځکه چې په هره علامه او

---

[1] نسبتي صفات د کومې خاصې زماني پورې تعلق نه لري او په دې لحاظ دایمی صفات هم بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاحقه کېنبې ځانله ځانله معنوي اختصاص لیدل کیږي. سر بېره پر دې، یوه یوه لاحقه د ډېرو معنا ګانو د پاره راځي او په یوه ځای کېنبې یوه معنا او په بل ځای کېنبې بله معنا ورکوي.

مثلاً "جن" چې په (نمجن) کېنبې د لرلو په معنا او په (غمجن) کېنبې د کولو په معنا دی. نمجن هغه ځای ته وایي، چې نم لري او غمجن هغه څوك دی چې غم کوي.

دغسی (ن) چې په (جګړن) کېنبې فعلي یعنی د کولو معنا، او په (خیرن) کېنبی د لرلو معنا افاده کوي. مقصد دا دی دغه لاحقې چې د هرې کلمې سره راوړلی شي؛ نو د هغی کلمې سره یوه مناسبه او وړه معنا ترې اخستل کیږي مګر په عمومي ډول د پښتو په نسبتي صفاتو کښې دا وروسته معنا ګاني لیدل کیږي.

1- د کولو او فعل عامه معنا لکه: ختېګر، کبر جن، کړتن، شوکمار، چې ختې، کبر، کړتې او شوکه کوي.

2- د یو خاص فعل معنا چې هغه د لاحقې د مخه کلمې سره تناسب ولري لکه: غوبه، خربه، دروازه وان هغه څوك چې غواپیایي، خره چلوي او دروازه ساتي.

3- د لرلو، مالکیت او مصاحبت معنا لکه : ښوره جن– شګلن، دولت من– واکمن، پنډوالا، هغه چې ښوره، شګه، دولت لري، د واك خاوند وي او پنډ ورسره وي.

4- داوسیدلو، وطنیت او قومیت معنا لکه: کامه وال – کابلی، سلیمان خېل هغه څوك چې په کامه کښی اوسي، کابل یې وطن او سلیمان خېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې قوم وي. پرته له دې څخه هره لاحقه ځینی خصوصي معناوې هم لري چې هغه به په خپل خپل ځای کښې په لنډ صورت وښودلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نسبتي صفاتو لاحقې

د نسبتي صفاتو ځينې لاحقې له خپلې مادې څخه څه نور صورتونه او متفرعات لري چې هغه به هم ورسره په خپل خپل ځايکښې بيانيږي.

ټول نسبتي صفات د اسم او صفت په آخر کښې د يوې لاحقې په لګولو جوړيږي او دا دی په وروسته ډول يې بيانول غواړو.

1- (ګر) دا لاحقه د نومو په آخر کښې د فعل، کولو او د يو نيم خاص فعل په معنا راځي لکه:

له ختې څخه ختګر	له امانت څخه امانت ګر چې (امانت ساتی)
له کوډې څخه کوډګر	له بزې څخه بزوګر (چې وزې څروي)
له دارو څخه داروګر	له ملازې څخه ملازګر (متملق)
له غلا څخه غلا ګر	له ښېوې څخه ښيوه ګر (چې ډول کوي)
له جوارۍ څخه جوار ګر	له مشين څخه مشين ګر (چې ماشين چلوی)

تبصره: د دې لاحقې سره نږدې او مربوطې لاحقې هم شته، مګر مثالونه يې لږ دي او وروسته د خپلو ټولو مستعملو مثالونو سره ښودل کيږي:

2- الف :- (ګير) د نومو په آخر کښې د فعلي معنا د افاده کولو د پاره راوړل کيږي لکه:

له سوال څخه سوالګير	له پروا څخه پروا ګير
له تماشې څخه تماشګير	له بار څخه بار ګير(د بار وړلو څاروی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دعوي څخه دعوه ګير	له تاو څخه تاوګير
له هوا څخه هوا ګير	له باد څخه باد ګير

3- ب :- (ګری) د اسم او صفت په آخر کښی راځي لکه:

له لو څخه لوګری	له ګوابن څخه ګوابن ګری	
له دم څخه دم ګری	له مل څخه ملګری	پـه دې دوو صــفتونو
له وار څخه وار ګری	له تل څخه تل ګری	کې فعلي معنا نشته

4- ج : (ګړی) دا لاحقه د اسم او صفت په آخر کښې راغلې ده لکه:

له ژرندې څخه ژرنده ګړی　　له منځ څخه منځګړی،

له دريم څخه دريمګړی　　له نيم څخه نيمګړی.

5- د : (ګرندی) د نومو په پای کښې د فعلی معنا [1] د افاده کولو د پاره راځي لکه:

له تلوار څخه تلوارګرندی　　له اشر څخه اشر ګرندی،

له وېش څخه وېش ګرندی　　له دېوال څخه دېوال ګرندی.

6- (جن) دا لاحقه د نومو په آخر کښې راځی چې په ليدونکو نومو کښې غالباً دلرلو او په ناليدونکو نومو کښې د کولو يا د بل خاص فعل معنا ورکوی لکه:

له نم څخه نمجن	له کبر څخه کبر جن	له وير څخه وير جن
له ښوري څخه ښوره جن	له تاو څخه تاوجن	له هېري څخه هېر جن

(1) هغه ټول صفات چې فعلي معنا ولري په هغو کښې به اول جزء د مفعول حيثيت لري او دا يې د پيژندلو لار او طريقه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

		(فراموش کار)
له سپړي څخه سپړجن	له قهر څخه قهر جن	له دروغ څخه دروغجن
	له ورم څخه ورم جن	له غم څخه غم جن

تبصره : د (جن) مربوطي لاحقي (ځن، ژلی) دی چې يو څو مثاله پکښي موجود دي :

7- الف :- (ځن) لکه :

له لامبو څخه لامبوځن — له توري څخه تورځن،

له ښکار څخه ښکارځن — له ځنګ څخه ځنګزن.

8- ب :- (ژلی) [1]

له پر هر څخه پرهرژلی — له وير څخه ويرژلی.

9- (لن) دا علامه د لرلو او کولو د نسبت د پاره غالباً د هغو نومو په پای کښي راځي چې په (ه) مختوم وي لکه:

له اوبه څخه او بلن	له زوي څخه زولن
له شګی څخه شګلن	له اوښکي څخه اوښکلن
له غوښي څخه غوښلن	له خوږ څخه خوږلن (په ايرو پټ اور)
له سيوري څخه سورلن	

10- (من) دا لاحقه د مالکيت او صاحبيت د پاره د ناليدونکو يعنی غير مرئي نومو په آخر کښي راځي لکه:

له غيرت څخه غيرت من	له واك څخه واکمن
له دولت څخه دولت من	له ښاد څخه ښاد من

---

(1) د ځ، ج اول "ن" په پښتو کښي تل په يو بل باندی بدليږي لکه زبه، جبه، لمراو نمر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شته څخه شته من	له کسر څخه کسر من (معیوب)
له سود څخه سود من	له میرخي څخه میرخمن
له خوږ څخه خوږ من	له اندېښنې څخه اندېښمن
له ستر څخه ستر من (سترمنه)	

11- (ن) دا توری د نسبتي صفت د جوړولو د پار ه د مادي او غیر مادي نومو په آخر کښی راوړل کیږي او دلرلو ، کولو او خاص فعل معنا افاده کوي لکه:

له خیري څخه خیرن	له جګړې څخه جګړن
له پم څخه پمن	له خاپوړي څخه خاپوړن
له ژاولي څخه ژاولن	له کړ کیچ څخه کړ کیچن
له غوښې څخه غوښن	له ډار څخه ډارن
له غوټې څخه غوټن	له تیز څخه تیزن

12- (مار) دا لاحقه د فعلي معنا د پاره زیاته استعمالیږي او څه قدر مبالغه هم ښیي او اکثراً د نومو په آخر کښی راځي لکه:

له داړې څخه داړه مار	له ټوکې څه ټوکمار (مسخره)
له ګوندی څخه ګوندي مار	له چړچې څخه چړچه مار (عیاش)
له جرګی څخه جرګه مار	له ونډی څخه ونډي مار (قصاب)
له چوغلي څخه چوغلي مار	له ډوډی څخه ډوډي مار
له دوکې څخه دوکه مار	له ختې څخه ختمار

(c) ketabton.com: The Digital Library

13- (ور) دا نښکه غالباً د مادي او مرئي (ليدونکو) نومو پـه آخر کښـي راځي او دلرلو معنا افاده کوي مګر څه قدر مبالغه او زياتوالی تـرې هم معلومېږي يعنی دور سره پيوست اسم ظاهري غټوالی او ډېر والـی ښيـي لکه:

له دارې څخه داره ور	له ښانګې څخه ښانګه ور
له ګيډې څخه ګيډه ور	له غوږ څخه غوږ ور
له خېټې څخه خېټه ور	له ښکر څخه ښکر ور
له تنې څخه تنه ور	له شونډې څخه شونډه ور
له څنې څخه څنه ور	له غوښې څخه غوښه ور
له سور څخه سرور	له پی ـ څخه پيوره غوا (ګاو شيرى)

دا قسـم صـفات کلـه د وصـفي معنـا د مبـالغې او زيـاتوالي دپـاره هـم راځي يعنی مطلب پکښې د يو وصف او حالت مبالغه بيانول وي لکه:

له ژبې څخه ژبه ور (لسان)، له خولې څخه خوله ور، له زړه څخه زړه ور، له مخ څخه مخور (معزز). په دې قسم صفاتو کښې (غـاښور) د يـوې آلـې نوم دی چې ډېر غاښونه لري.

14- (بون= به) دا لاحقې دواړه يو شی دي او "به" د "بون" مخفف صـورت دی چې د محافظت، ملکيـت او څښـتن ولـې پـه معنـا راځي او اکثـر د مادي او مر ئي نومو په آخر کښې راوړل کيږي لکه :

له شير څخه شيربون	له ګډ څخه ګډبه
له زمري څخه زمربون	له آس څخه اسبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خر څخه خربون	له اوبښ څخه اوښبه
له اوښ څخه اوښبون	له کور څخه کور به
له غويي څخه غوبه	له لرګي څخه لرګبه (هيزم کش)
له ختې څخه ختېبه	له خس څخه خسبه

15- (وان)[1] دا علامه د محافظت او مالک توب په معنا د مادي او ليدونکو شيانو د نومو په آخر کښې راوړل کيږي لکه:

له باغ څخه باغوان	له جياز څخه جيازوان
له جالي څخه جاله وان	له دروازې څخه دروازه وان
له پادې څخه پاده وان	له ګورم څخه ګوروان (د ګورم ميم پکښې حذف شوی دی)
له ګاډۍ څخه ګاډي وان	له موټر څخه موټروان
له بګۍ څخه بګي وان	له ګروي څخه ګريوان (چې د ګروي محافظ وی)

16- (وال) دا لاحقه د کليو او ځايو د نومو په آخر کښې د استوګنې او وطنيت د نسبت د پاره راځي او د هغو نومو سره راوړل کيږي چې په امدادي حروفو مختوم وي لکه:

کامه- کامه وال	جنوبي – جنوبي وال
بانډه- بانډه وال	لواړګی – لواړګي وال

---

(1) ((وان)) او ((بون)) په لفظ او معنا دواړو کښې سره نږدې دي. ((وان)) په سنسکريټ کښې هم د محافظت لاحقه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرقي – مشرقي وال	کلی – کلی وال

دا لاحقه په ځینو نومو کښې د فعلي معنا ګانو نسبت هم څرګندوي یعنی د کولو یا یوبل خاص فعل معنا ورکوي لکه:

جوپه – جوپه وال	آټې – آټې وال
بنګړی – بنګړي وال	انډۍ – انډیوال
هګۍ – هګۍ وال	پجه – پجه وال
کوټ – کوټوال	

17- (والا) دا علامه د مالك توب او څښتن ولۍ د نسبت د پاره د نومو په آخر کښې راوړل کیږي لکه:

خروالا – آس والا – کور والا – پنډ والا – کډ والا – پور والا – چپن والا – او کله د یو شي د پلورونکي معنا هم ورکوي لکه: سابه وال – میوه والا او نور.

18- (یالی) دا لاحقه دلرلو او کولو په معنا د مادي او غیر مادي نومو په آخر کښې استعمالیږي لکه:

له ننګ څخه ننګیالی	له برم څخه برمیالی
له نوم څخه نومیالی	له بري څخه بریالی
له جنګ څخه جنګیالی	له توري څخه توریالی
له پت څخه پتیالی	له زغري څخه زغر یالی (زره دار)
له بخت څخه بختیالی	له غوټې څخه غوټیالی
له دود څخه دودیالی	له برګې څخه برګیالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هوډ څخه هوډيالی [1]	له نتی څخه نتيالۍ (چې نتکۍ لري)
له خبر څخه خبريالی (خبر يال)	له غور څخه غوريالی (چې غورلري)

19- (نی) دا علامه د زماني، ځای او داسې بل نسبت د پاره د ظروفو په آخر کښې راوړل کيږي لکه:

له اوس څخه اوسنی	له پاس څخه پاسنی
له غرمې څخه غرمنی	له لاندی څخه لاندينی
له بيګا څخه بيګانی	له کور څخه کورنی
له مياشت څخه مياشتنی	له منځ څخه منځنی
له کال څخه کالنی	له ړومبي څخه ړومبنی

دا لاحقه د ځينو نورو نومو سره هم راځي او فعلي يا کومه بله معنا افاده کوي لکه:

له نوغي څخه نوغنی (نشانه دار)	له غل څخه غلنۍ پيشو
له ټکي څخه ټکنی (متردد)	له رښتيا څخه رښتيانی
له ميرې څخه ميرنی	له ميره څخه ميړنی،

له سکه څخه سکنی او نور.

تبصره :- د دې لاحقې سره مربوطې لاحقې دا دي:

20- الف :- (ونی) لکه:

---

(1) هوډيالی ضد ناك ته وايي لکه د عبدالقادر په دې مسرع کښی (هوډيالی دی چې يې کښيښنوم ولاړ شي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مرګ څخه مرګونی	له برغ څخه برغونی
له غبرګ څخه غبرګونی	له حرام څخه حرامونی
له باد څخه بادونی (زکام)،	له مرستې څخه مرستونی
	(فعلي معنا افاده کوي).

21- ب (انی) لکه : له سیل څخه سیلانی، له کرل څخه کرلانی (زارع)

22- (ین) دا لاحقه د شیانو او اجناسو د نومو په پای کښې زیاتیږي او د یو شي نسبت اصل او جنس ته ښیي لکه:

له وړی څخه وړین	له متې څخه متېین	
له تار څخه تارین	له غنم څخه غنمینه= غلمینه ډوډی	
له وریښم څخه وریښمین	له اوربشې څخه اوربشینه	
له مس څخه مسین	له غوړ څخه غوړین	(په دی دواړو
له زر څخه زرین	لــه مـــالګې څخــه	مثالونو کښې دلرلو
	مالګین	نسبت شوی دی)
له خاورې څخه خاورین	له لونګ څخه لونګین	
	(د صفتي معنا په لحاظ اسم ګرځیدلی دی)	

23- (یز) دا علامه د نومو او اعـدادو پـه آخر کښـې راځي او د یـو شـي نوعیت او عددي نسبت ښکاره کوي لکه!

له ګلې څخه ګله ئیز غوبې	له خامتا څخه خامتا ئیزه برستن
له چرې څخه چره ئیز تیوپك	له دوه بند څخه دوه بندیزه اګۍ
له کاڼي څخه کاڼیزه ځمکه	له څلور څخه څلوریزه (رباعی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له وار څخه واريزه تبه	له دوه څخه دوه ئيز (مثنوی)
له للمي څخه للمهٔ ئيز	له لس څخه لسيز نوټ
له اړخ څخه اړخيزه تمانچه	له شل څخه شليز نوټ

ياد ګيرنه: د (يز) لاحقه د صفاتو په آخر کښی د زيات وضاحت دپاره راځي لکه: له غور څخه غوريز، له مخور څخه مخوريز، له لومړي څخه لومړيز.

24- (يا) دا نښکه د ځينو نومو او صفاتو په آخر کښی راځي او نسبتي صفت تري جوړيږي لکه:

له جل څخه جليا	له دود څخه دود يا (قانون دان)
له آري څخه آريا (اصيل)	له مل څخه مليا
له بس څخه بسيا (کافی)	له وربدل څخه وريا (باران)
له کس څخه کسيا (ميده)	له ګڼيدل څخه ګڼيا[1]

(1) په دي وروسته دوه مثالونو کښی (يا) د فعلي مادي په آخر کښي زياته شوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

25- (و معروف) دا توری د نومو په آخر کښی راځي او اکثر د کولو او لرلو معنا افاده کوي، سر بېره څه قدر مبالغه هم پکښی لیدل کیږي. لکه:

له کړتي څخه کړتو	له لاړي څخه لاړو(چي لاړي يې بهيږي)
له لاپي څخه لاپو	له خيتې څخه خيتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ثار څخه ثارو	له غوړ څخه غوړو
له کړاو څخه کړاوو	له بریت څخه بریتو
له خرړاوي څخه خرړاوو	له داړي څخه داړو

تبصره: د دي لاحقي سره مربوطي لاحقي دا وروسته دي:

26- الف (مجهول و) لکه:

له پاړس څخه پاړسو　　　له پښت څه پښتو

له دېګان څخه دېګانو

27- ب (اوو) په دي علامه کښې د مبالغي معنا هم زیاته ده لکه:

له جګړي څخه جګړاوو　　　له خرخ څخه خرخاوو

له لګېدل څخه لګاوو (خراج)　　　له پنډ څخه پنډاوو

(چي پونډۍ یي غټي وي).

28- (معروفه ی) دا توری هم د نومو په آخر کښې پیوستیږي او د فعلي معنا د افاده کولو د پاره تري ذاتي صفت جوړیږي لکه:

له رباب څخه ربابي	له باور څخه باوري
له چرس څخه چرسي	له لګښت سره لګښتي
له پلك څخه پلکي	له ډانډس څخه ډانډسي (نداف)
له پنډ څخه پنډي (جوالی)	له ځېل څخه ځېلي
له ډول څخه ډولي	له چل څخه چلي
له چړ څخه چړي (دریوزه)	له توکي څخه توکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

29- (ملینه ی) دا نښکه د ځایو د نامو په آخر کښې چې په صحیح حرف ختم وي راځي او د استوګنې او وطنیت نسبت ترې مرادیږي لکه:

له کابل څخه کابلی	له پېښور څخه پېښوری
له ننګرهارڅخه ننګرهاری	له جلال آباد څخه جلال آبادی
له لوګر څخه لوګری	له کونړ څخه کونړی
له قندهار څخه قندهاری	له پغمان څخه پغمانی

دا لاحقه د ځینو مجردو نومو په آخر کښې هم راځي مګر په فعلي معنا دلالت کوي لکه:

له مکر څخه مکری، له لوڅخه لوی

له ترویت څخه ترویتی (منجم) او ښایي چې ځری (جاسوس) له (ځیر څخه او ژوندی له ژوند څخه اختسل شوی وي.

یادونه: ملینه (ی) د یو صفت په آخر کښې د زیات وضاحت د پاره استعمالیږي لکه:

له ګوډ څخه ګوډی له شل څخه شلی

له بد څخه بدی له نیك څخه نیکی.

مګر په دې صورتونو کښې تقریباً یو اسمي کیفیت پیدا کوي.

30- (خیل) دا لاحقه د سړو او اشخاصو د نومو په پای کښې د قومي نسبت د ښودلو او بیانولو د پاره استعمالیږي لکه:

له سلیمان څخه سلیمان خیل	له موسی څخه موسی خیل
د عثمان څخه عثمان خیل	له عیسی څخه عیسی خیل
له جبار څخه جبار خیل	له سلطان څخه سلطان خیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

31. (زی) دا لاحقه هم په پورته ډول د قوم او قبيلې د نسبت د پاره استعماليږي لکه:

له محمد څخه محمد زی	له يوسف څخه يوسف زی
له بارك څخه باركزی	له سدو څخه سدوزی
له احمد څخه احمد زی	له اچك څخه اچكزی

دغه شان د خپلوانو د نومو په آخر کښې هم دزوی والي د نسبت د پاره راوړل کيږي لکه:

له ترور څخه تروړزی،	له لېور څخه لېوړزی
له بن څخه بنزی	له ندرور څخه ندروړزی
له ميرې څخه ميريزی.	

مگر د (غرزي) په کلمه کښې (زی) د تش نسبت د پاره راغلی دی.

32- (بخن) دا لاحقه درنگونو په آخر کښې د هغو د کموالي د ښودلو دپاره استعماليږي لکه:

له سور څخه سوربخن	له سپين څخه سپين بخن
له تور څخه تور بخن	له شين څخه شين بخن
له زيړ څخه زيړ بخن	له خړ څخه خړ بخن

33- (وبره، وشمه، وزمه) دا درې واړه لاحقې په يوه معنا دي او دالوانو او رنگونو د نومو په آخر کښې د تقليل په غرض راوړل کيږي لکه:

له سور څخه سور وبره	له سور څخه سوروشمه
له زيړ څخه زيړ وبره	له زيړ څخه زيړوشمه
له شين څخه شين وبره	له سپين څخه سپين وزمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له سپين څخه سپين وشمه	له تور څخه تور وزمه
	له شين څخه شين وزمه

34- (مه، يمه) دا علامه د حيواني مونثاتو په آخر کښې راځي او د هغو د مخصوص صفت يعنی د نر طلبۍ او وار راوړلو نسبت تري مراديږي لکه:

له غويي څخه غويمه	له خر څخه خريمه
له اوښ څخه اوښېمه	له مږ څخه مږيمه
له وز څخه وزېمه	له سپي څخه سپېمه
له اس څخه اسيمه	له پيش څخه پشېمه

35- (ناك- نك) دا علامه د نومو په آخر کښې راځي او د هغو او موصوف تر منځ په څخه قدر زيات اتصال او پيوستوالي دلالت کوي لکه:

له غم څخه غمناك	له بوی څخه بويناك	له چل څخه چلناك
له خوند څخه خوندناك	له مزې څخه مزه ناك	له زيم څخه زيم ناك
له اثر څخه اثر ناك	له مينې څخه	له سکي څخه سکه ناك

له ځلېښت څخه ځلېښتناک		میـ نه نا ک

36- (چی)[1] دا لاحقه هم د اسماو په آخر کښې راوړل کیږي او د یوي فعلي معنا نسبت ترې معلومیږي لکه:

له ننداري څخه نندارچي	له غوا څخه غاوچي (پاده وان)
له مرکي څخه مرکچي	له نغاري څخه نغارچي
له ډنډوري څخه ډنډورچي	له توپ څخه توپ چي
له جار څخه جارچي	له کوټي څخه کوټه چي

37- (کښ) دا لاحقه که څه هم د (کښل) له مصدر څخه یوه فعلي ماده ده لاکن د لاحقي شکل یې پیدا کړی دی او د نومو په آخر کښې د فعلي معنا د افاده کولو د پاره راځي لکه:

له چلم څخه چلم کښ	له جارو څخه جارو کښ

(1) **د (ناك) لاحقه د پ تو او فارسی او دچي لاحقه د پ تو او ترکي تر من شریک دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

له توري څخه تور کښ	له بار څخه بار کښ
له ګور څخه ګور کښ	له سر څخه سر کښ
له خواري څخه خواري کښ	له تير څخه تير کښ

38- (خور) دا کلمه هم يوه فعلي ماده ده چې د لاحقې شکل يې موندلی دی او د اسماو په آخر کښې د فعلي معنا د ښکندولو د پاره استعماليږي لکه:

له سري څخه سري خور	له ميراث څخه ميراث خور
له ډوډی څخه ډوډي خور	له غم څخه غمخور
له بډي څخه بډي خور	له چغلی څخه چغلخور
له سود څخه سود خور	له خيرات څخه خيرات خور
له زيات څخه زياتي خور	له حرام څخه حرام خور

تبصره: په پښتو کښی د نسبتي صفاتو د پاره ځینی نوري لاحقې هم شته، لاکن ډېر مثالونه نه لري او دا دی په وروسته ډول ښودل کيږي :

39- (تی) د پښتو يوه قديمي لاحقه ده او د نسبتي صفت د جوړولو د پاره د نومو په آخر کښې راځي لکه: روږه، روږه تی، کوږه، کوږه تی، بوزه، بوزه تی، جرګه، جرګتی.

يوازي (ت، ته) هم د نسبت د پاره راځي لکه په پورته او اوچت کښې.

40- (تو) لکه: له نام څخه نامتو، له جرګې څخه جرګه تو، چمتو هم دغه ډول ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

41- (اوڼ) له غول څخه غولاوڼ، له پسکۍ څخه پسکاوڼ، له تیز څخه تیزاوڼ.

42- (تاري) له جنۍ څخه جنو تاري، له خوشی څخه خوشاتاري.

43- (بانې) له شریك څخه شریك بانې، له ورا څخه ورا بانې.

44- (پاري) له لنډ څخه لنډ پاري.

45- (جی نجی) (له دیر څخه دیروجی، له خوار څخه خوارنجی).

46- (چن) (له ساړه څخه سړېچن، له وړی څخه وړېچن، له سپین څخه سپین چن [1]

47- (غیجن) له مړ څخه مړغېچن.

48- (بوجن) لکه له خړ څخه خړبوجن (خیره مانند)

49- (مېچن) له غوړ څخه غوړمېچن = غوړمېڅن.

50- (ری) له لوټ څخه لوټیری، له جنګ څخه جنګیری

51. (ړی) لکه له اوم څخه اومړی (تار خام)، له خون څخه خونړی له نوم څخه نومړی (موسوم)، له نیغ څخه نیغړی.

52- (سی) : له بانډې څخه بانډیسی، له ویر څخه ویروسی (نان مرده).

53- (ځی) : له بنو څخه بنو ځی.

54- (غلن) : له اوم څخه اومغلن، له تبی څخه تبغلن.

55- (غری) : له لیوني څخه لېونغری، له لنډ څخه لنډ غری.

56- (لی) : له وروسته څخه وروستلی، له و ړومبی څخه ړومبلی.

57- (می) : له منځ څخه منځمی.

---

(1) **(چن) په رنـ ونو کـ ی د رنـ د کموالي د ودلو د پاره را ي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

58- (نك) : له ښځې څخه ښځونك ، له ژړا څخه ژړانك

59- (ينك) : له چاود څخه چاودينك، له لوېشت څخه لوېشتينك.

60- (وښه) : له مېږه څخه مېږوښه

61- (وس) : له چړ څخه چړوس، له ډب څخه ډبوس.

62- (وی) : منځ څخه منځوی، له مړ څخه مړاوی (پژمرده).

63- (یانۍ) : له زمری څخه زمريانۍ، له خوګ څخه خوګيانی

64- (یانی) : له زمری څخه زمريانی، له ستوري څخه ستوريانی

65- (یار، یاری) : له بخت څخه بختيار، له پوهنې څخه پوهنيار،
له مال څخه ماليار (باغوان)، له بټ څخه بټ ياری.

66. (ينه) : لکه له نر څخه نرينه، له ښځې څخه ښځينه،
له پس څخه پسينه.

67. (وار) : له اميند څخه اميندواره ښځه.

68. (ګنی ګنۍ) : لکه له خوسر څخه خوسرګنۍ، له پلار څخه پلارګنۍ
له منی څخه منګنی.

69- (ار) : لکه له ټت څخه ټتار.

70- (ا) "له راج" څخه راجا، له کوڼ څخه کوڼا، له ړوند څخه ړوندا (دا
صفتي نومونه دي)

د فعلي صفاتو لاحقې

فعلي صفات هغه دي چې له مصدر څخه جوړيږي او فاعلي يا مفعولي معنا لري. دا صفات د معنوي خصوصيت په لحاظ په دوه رازه دی: يو هغه دي چې په کومې خاصې زماني پورې تعلق نلري او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دايمي ډول پر خپله معنا دلالت کوي لـکه (خوځنـد ، ګرځنـد) او بـل قسم هغه دي چې په يوې زمانې پورې اختصاص ولـري لکه (تلونکی، تللی) چـې اول پــه حــال او مــستقبل او دوهــم پــه ماضــي کښــې خپلــه معنــا ثرګندوي. اول قسم فعلي صفات په پښتو کښې نسبتاً لږ دي او له ټولو مـصادرو څخه پـه قـانوني او عمـومي ډول نـه جوړيـږي، مګـر دوهـم قسم فعلي صفات ډېر او له ټولو مصادرو څخه په عمـومي او قـانوني صـورت لاس ته راځي. دا دواړه قسمونه ځانله ځانله لاحقې او علامې لـري چې دا دی وروسته بيانيږي:

اول قسم فعلي صفتونه :

1- (ند) دا پسينه توری غالبـاً ديـدل والا مـصادر و د فعلـي مـادې پـه آخر کښې د مصدري علامې پر ځای راځي او پر فـاعلي معنا باندې دلالت کوي لکه:

له ګر ځېدل څخه ګر ځند	له ژړېدل څخه ژړند
له خوځېدل څخه خوځند	له برېښېدل څخه برېښند
له سوځېدل څخه سوځند	له رڼېدل له رڼند
له ترېدل څخه ترند	له ځلېدل څخه ځلند
له رغړېدل څخه رغړند	له رژېدل څخه رژند
له ګرېږېدل څخه ګرېږند	له ويل څخه ويند
له کړپېدل څخه کړ پند	له ځوږېدل څخه ځوږند

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- (ندی) دا لاحقه د (ند) پشان دیدل والامصادر و د فعلي مادې په آخر کښې د (یدل) پرعوض راوړل کیږي او فاعلي صفت ترې جوړیږي لکه:

له بژېدل څخه بژندی	له خوځېدل څخه خوځندی
له برېدل څخه برندی	له شرپېدل څخه شرپندی
له رپېدل څخه رپندی	له ورېدل څخه ورندی
له چورلېدل څخه چور لندی	له ویل څخه ویندی
له کرپېدل څخه کرپندی [1]	د ژول (ژوند کول) ژوندی

3- (نـده) : دا لاحقـه هم د فعلـي مـادې پـه آخـر کښـې د مـصدري علامـو پرځای د فعلي صفت د جوړولو د پاره راوړل کیږي لکه:

له پوول څخه پووندہ، له څرېدل څخه څرندہ، له چلېدل څخه چلندہ خره، له بهېدل څخه بهندہ اوبه.

4- (انـد) : د فعلـي مـادې پـه آخر کښـې د فعلـي صفت د جوړولـو د پـاره راځي لکه :

له پوهېدل څخه پوهاند ،	له ځلیدل څخه ځلاند ،
له ژړېدل څخه ژړاند ،	له بهېدل څخه بهاندي اوبه.

5- (ندو) : دا لاحقه هم د دغه وړاندې مطلب د پاره استعمالیږي مګر څه قدر مبالغه هم پکښې شته لکه :

له ژړل څخه ژړندو،	له وېرېدل څخه وېرندو،

---

(1) دا پنـ ه کلمه   له صفتي معنا سره   ه قدر اسمي اختصاص هم لري.

له قارېدل څخه قارندو.

د دي مثالو په آخر کښي کله (کی) هم زیاتېږي لکه : ژړندوکی، ویرندوکی، قارندوکی.

6- (ندوی) : دا لاحقه هم د فعلي مادي په آخر کښي د مصدري علامي پر ځای راځي او فعلیصفت تري جوړیږي لکه:

له ساتل څخه ساتندوی	له ځرګندېدل څخه ځرګندوی (د تکرار له کبله یو ند حذف شوی دی)
له ګټل څخه ګټېندوی	له ښکارېدل څخه ښکارندوی
له پېژندل څخه پېژندوی	له ګواښېدل څخه ګواښندوی (تهدید کننده)
له وتل [1] وتېندوی	

تبصره: ستایوال (مداح) د "وال" په لګولو او لګیا ، ګلیا د (یا) په واسطه له فعلي مادو څخه جوړ شوي دي، مګر نور مثالونه پکښي نه دي لېدل شوي.

دوهم قسم فعلي صفات :

-7 (ونکی) دا لاحقه په ټولو مصادرو کښي د مصدر د (ل) په عوض د فعلي صفت د جوړولو د پاره راوړل کیږي، مګر په لازمي او متعدي

---

(1) دا مصدر په خپله مستعمل نه دی، م ر فعلي ماده په " ه، و ه" ک . مستعمله ده او له همدې مادې خه و ندوی جوړ شوی دی چ د مقتصد معنا ورکوي. متل دی د بهر له ندوی نه د کور و ندوی ه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومو مصدرونو کښې فاعلي معنا او په مجهولو مصدرونو کښې مفعولي معنا ورکوي او معنا يې په حال او مستقبل پورې تعلق لري لکه:

له تلل څخه تلونکی	له پاڅول څخه پاڅوونکی
له ختل څخه ختونکی	له ماتول څخه ماتوونکی
له وتل څخه وتونکی	له ګرځېدل څخه ګرځېدونکی
له وهل څخه وهونکی	له ډېېدل څخه ډېېدونکی
له ساتل څخه ساتونکی	له پخېدل څخه پخېدونکی

8- (ونی) دا لاحقه هم د (ونکی) پشان د مصدري لام پر ځای راځي او فعلي صفات تري جوړيږي او نور خصوصيات يې هم کټ مټ د (ونکی) غوندي دی. لکه:

له تلل څخه تلونی	له پاڅول څخه پاڅوونی
له ختل څخه ختونی	له ماتول څخه ماتوونی
له وتل څخه وتونی	له ګرځېدل څخه ګرځېدونی
له وهل څخه وهونی	له ډېېدل څخه ډېېدونی
له ساتل څخه ساتونی	له پخېدل څخه پخېدونی

9- (ی ملينه) دا پسينه توری د لام والاو ځينی ول والاويدل والا مصادر و په آخر کښې د فعلي صفت د جوړولو د پاره راوړل کيږي، مګر په لازمي مصدرونو کښې فاعلي معنا او په متعدي مصدرونو کښې مفعولي معنا افاده کوي او معنا يې په ماضي پورې تعلق لري لکه:

له تلل څخه تللی	له وهل څخه وهلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ختل څخه ختلی	له ساتل څخه ساتلی
له وتل څخه وتلی	له پاڅول څخه پاڅولی
له پاڅېدل څخه پاڅیدلی	له غورځول څخه غورځولی
له درېدل څخه دریدلی	له ډبېدل څخه ډبېدلی

تبصره: الف :- له ځینو خصوصي مصدرو لکه (ژړل - خندل) څخه د غه دوهم قسم فعلي صفات نه جوړیږي، بلکې لـه مرادفو مصدرو یعنی (ژړېدل او خندېدل) څخه سازېږي لکه : ژړیدونکی – خندیدونکې.

ب :- لـه (راتلـل، درتلـل، ورتلـل) څخه چې پـه (ی) بانـدې فعلي صـفت جوړیږي، نو (ت) یې په (غ) باندې اوړي لکه : راغلی– درغلی– ورغلی.

ج :- کله د (9) مادې په صفاتو کښې د مصدر (ل) غورځیږی او پر ځای یې (ی) راوړل کیږي لکه:

له الوتل څخه الوتی، له پرېوتل څخه پرېوتی، له ننبتل څخه ننبتی

د :- اچوونی چې یو مفعولي صفت دی غالباً په اصل کښې اچولی دی او وروسته یې (ل) په (ن) بدل شوی دی.

ه :- (استازی) هم یو مفعولي صفت او د استولی په معنا دی. مګر د فعلي مادې په آخر کښې د (زی) په لګولو جوړ شوی دی.

و :- کله په (ونکې، ونی) سره جوړ فعلي صفات په معلومو مصدرونو کښې هم په مفعولي معنا راځي، مګر دا به هغه ځای کښې چې موصوف ته یې د فاعلي معنا نسبت نشي کیدی لکه: وړونکې مالونه، خوړونکې شیان، اچوونی بچې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجردو وصفونو لاحقې

مجردو صفونه هم لکه د صفاتو غونډې له اسم او صفت څخه د لاحقو په نښلولو جوړیږي او د یو نوم یا یو صفت معنوي یا ظاهري حالت او وصف ښکاره کوي. مثلاً (هوښیار) یو ذاتي صفت او (هوښیار توب) د دغه ذات او شخص وصفي حالت یا حاصل صفت دی. مجرد وصفونو ته په عربي اصطلاح (صفات محضه) هم ویل کیدی شي.

په پښتو کښې زیات مجردو صفونه له ذاتي صفاتو څخه جوړیږي چې په وروسته ډول یې بیانول غواړو.

1- (توب) دا لاحقه د نومو او صفاتو په آخر کښې د مجرد وصف د جوړولو او بیانولو د پاره راوړل کیږي. د دې لاحقې خصوصیت دا دی چې غالباً د اشخاصو او بنیادمانو اوصاف بیانوي ښه وي او که بد، یعنی هغه وصف چې د (توب) په واسطه سازیږي هغه به اکثراً په بنیادمانو پورې مربوط وي لکه:

له نومونو څخه:	له صفاتو څخه:
له سړي څخه سړیتوب	له لیونی څخه لیونتوب
له خر څخه خر توب	له نارینه څخه نارینتوب
له غویي څخه غویي توب	له ساده څخه ساده توب
له سپي څخه سپي توب	له دوبي څخه دوبي توب
له هلك څخه هلك توب	له پیغلې څخه پیغلتوب
	له مرور څخه مرور توب

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- (تیا) دا علامه د (توب) سره په معنوی خصوصیت کښې نږدې ده مګر په لفظي لحاظ ورسره دومره فرق لري چې (توب) عام دی او د هر ډول کلمو سره راځي او (تیا) غالباً د صحیح الاخر صفاتو سره راوړل کیږي لکه:

له مشر څخه مشر تیا	له هوښیار څخه هوښیار تیا
له کشر څخه کشرتیا	له زړور څخه زړورتیا
له لوړ څخه لوړتیا	له پښېمان څخه پښېمانتیا
له روغ څخه روغتیا	له مرور څخه مرورتیا

3- (والی) : دا نښکه د عامو صفاتو په آخر کښې د وصفي معنا د بیانولو او مجرد وصف د جوړولو د پاره راځي مګر په ظاهري او صافو کښې زیات استعمالیږي لکه:

له موړ څخه موړوالی	له کلك څخه کلکوالی
له پلن څخه پلن والي	له زیږ څخه زیږوالی
له اوږد څه اوږدوالی	له چیت څخه چیتوالی
له تور څخه تور والي	له جګ څخه جګوالی
له سور څخه سور والي	له غټ څخه غټوالی

دغه شان د نومو په آخر کښې هم راځي لکه:

له کور څخه کوروالی (خانه داری) له هلك څخه هلکوالی او نور.

4- (ولي) : دا لاحقه د خپلوانو د نومو او د ځینو صفاتو سره استعمالیږي لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ورور څخه وروروللي	له خپل څخه خپلولي
له پلار څخه پلارولي	له پښتون څخه پښتون ولي
له مور څخه مورولي	له رشتين څخه رشتين ولي
له عزيز څخه عزيزولي	له سپين څخه سپين ولي
له تربور څخه تربورولي	

5- (واله)[1] دا علامه د اقوامو او ملتونو د نومو په آخر کښې د قومي او صافو د بيان د پاره استعمال شوې ده لکه:

له پښتون څخه پښتونواله	له اولس څخه اولس واله
له مغول څخه مغول واله	له ځائی څخه ځائي واله
له مومند څخه مومند واله	له ترکانړی څخه ترکانړي واله

6- (ګلي ګلوي) دا لاحقه هم د خپلوانو د نومو او ځينی صفاتو په آخر کښې راځي لکه:

له ورور څخه ورور ګلوي = ګلي	له پلار څخه پلار ګلوي
له عزيز څخه عزيز ګلي= ګلوي	له مور څخه مور ګلوي
له تربور څخه تربور ګلي= ګلوي	له هوسا څخه هوسا ګلوي
له خور څخه خور ګلوي	له پوونده څخه پووندګلوي = ګلي
	له پيژندوی څخه پيژندګلوي= ګلي
	(پيژندګلو هم ويل کيږي)

---

(1) داسی بريږ نی چ (والی، ولي، واله) د (ول) خه چ په پ تو ک . د بودن په معنا يو غير مستعمل مصدر دی ماخوذ دی، ول چ هم معنا او هم لفظاً سره تناسب او نزد والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7- (ینه) : دا لاحقه د صفاتو او نومو په آخر کښې د وصفي معنا د ښودلو د پاره راغلي ده لکه:

له مړ څخه مړینه	له وړوکي څخه وړکینه
له هوسا څخه هوساینه	له هلك څخه هلکینه
	له پېرزو څخه پېرزوینه
له دلاسا څخه دلاساینه	(په دي مثال کښې زیات وضاحت دی).
له لوی څخه لوینه	

8- (وی) دا لاحقه د یو څو صفاتو په پای کښې د وصفی معنا د ښودلو د پاره راغلي ده لکه:

له بد څخه بداوی، له سپك څخه سپکاوی، له درون څخه درناوی،

له لوړ څخه لوړاوی، له ورك څخه ورکاوی.

9- (جلي "ه") (څرګنده ه) دا پسینه توری هم د ځینو صفاتو په آخر کښې راځي او مجرد وصف تري جوړیږي لکه:

له پوه څخه پوهه، له ناست څخه ناسته، له ولاړ څخه ولاړه

له پړ څخه پړه، له وړ څخه وړه.

10- (معروفه ي) دا توری د ذاتي صفاتو په آخر کښې زیاتیږي او وصفي معنا ښکاره کوي لکه:

له ځوان څخه ځواني	له توند څخه تندي
له غلیم څخه غلیمي	له درغل څخه درغلي
له ترکاڼ څخه ترکاني	له اندیوال څخه اندیوالي
له ټګ څخه ټګي	له ګاډیوان څخه ګاډیواني

(c) ketabton.com: The Digital Library

له سیال ښخه سیالي	له هوښیار ښخه هوښیاري
له لوی ښخه لویي	له غوبون ښخه غوبني
له ګران ښخه ګراني	له اوښبون ښخه اوښبني
	له ګډبون [1] ښخه ګډبني

11- (ملینه ی) دا توری هم د یو ښو هجائي صفاتو په آخر کښې د مجرد وصف د جوړولو د پاره استعمال شوی دی لکه :

له زیات ښخه زیاتی	له لر ښخه لری
له کم ښخه کمی	له بر ښخه بری
له تېر ښخه تېری	له سم ښخه سمی

<u>تبصره:</u>

په پښتو کښې د مجردو وصفونو د جوړوني د پاره ځینی نوري لاحقې او پسینې هم شته مګر مثالونه یې لږ او کم دي چې دا دی په لاندې ډول ښودل کیږي :

12- (انه) لکه : له مېړه ښخه مېړانه، له پړ ښخه پړانه، له وړ ښخه وړانه، له یار ښخه یارانه.

13- (نه) له لور ښخه لورنه ، له ویر ښخه ویرنه (مرثیه)

14- (تون) له ببل ښخه ببلتون، له کونډې ښخه کونتون

15- (ګیرنه) له یاد ښخه یاد ګیرنه، له ډاډ ښخه ډاډ ګیرنه.

---

(1) **دا درې واؤه صفتونه تخفیفاً د (غوبه، او به، أ به) په شکل استعمالیإي م ر مجرد وصفونه یـ غالباً لـه اصلي صورتونو خه جو ؤ شوي دي او واو پک ـ غور یدل دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

16- (سه) له تنګ څخه تنګسه.

17- (ګنی) له تربور څخه تربګني.

18- (لی) له سپور څخه سپرلی، له سور څخه سورلی.

19- (تانه) له سپي څخه سپيتانه (ښايي چې په اصلي کښې سپيتون وي).

20- (وښ) له سړی څخه سړی وښ.

21. (وخه) له تود څخه تودوخه = تودوخی.

22- (يز) له بند څخه بنديز، له لنډ څخه لنډيز.

23- (وښت) له پيدا څخه پيداوښت = پيدايښت.

24- (ون) له ژوندي څخه ژوندون.

25- (ا) له تور څخه تورا (تهمت).

****

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افعالو اشتقاق

ټول افعال په پښتو کښې له مصادرو څخه اشتقاقیږي، د افعالو اشتقاق د پاره ځینی لاحقي او سابقي هم شته مګر دومره ډیرې نه دي. دلته مونږ په لنډ ډول د افعالو د اشتقاق طریقه بیانول غواړو.

هغه افعال چې په پښتو کښې له مصدر څخه جوړیږي پر دوو ګروپو یعنی دوو برخو وېشل کیږي.

یو د حالیه افعالو ګروپ او بل د ماضیه افعالو ګروپ دی. د لام والا مصادرو د ماضیه افعالو په اشتقاق کښې د مصدر اصلي ماده چندان تغیر نه کوي او تقریباً ټول ماضیه افعال په یو منظم او قانوني ډول جوړیږي؛ چې په دې اعتبار د پښتو ټول مصدرونه قانوني او تغیر نا پذیر بللای شو.[1]

مګر په حالیه افعالو کښې د ځینو مصادرو اصلي ماده تغیر مومي، چې ځینی تغیرونه قانوني و ځینی بې قانونه دي مګر دا قسم مصدرونه هم ډیر کم او لږ دي.

د ول والااو یدل والا مصدرونو ځینی افعال مرکب دي چې د (کړل او شول) د افعالو په امداد سره جوړیږي او هغه به په مرکبو افعالو کښې وښودل شي. او ځینی افعال یې بسیط دي چې په خپله له مصدر څخه

---

(1) **یوازې د (تلل، راتلل، ورتلل) مصدرونو په ماضی انو ک تغیر پ إي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس ته راځي. دا قسم مصدرونه هم ټول قانوني دي او درست ماضيه او حاليه افعال تري د يوې قاعدې سره سم جوړيږي صرف د يدل والا مصادرو په حاليه افعالو کښې څه قدر تغير راځي، او "د" يې په "ږ" بدليږي. په پښتو کښې په عمومي ډول له هر مصدر څخه لومړي دري اساسي صورتونه اشتقاق کيږي چې يو استمراري حال [1] بل استمراري ماضي او بل فعلي صفت دی.

بيا نورې صيغې او افعال له دغو دري صورتو څخه راوځي. په دې ډول چې مطلقه ماضی له استمراري ماضی څخه او نورې ماضي ګانې له فعلي صفت څخه اوامر، مستقبل له حال څخه جوړيږي.

اوس د يو څومصدرونو دغه دري اساسي صورتونه وګورئ:

		استمراري حال	استمراري ماضی	فعلي صفت
1	له ساتل څخه چې يو تغير ناکوونکي مصدر دی	ساتم	ساته	ساتلی
2	له الوتل څخه قانوني تغير کوونکی مصدر دی	الوزم	الوته	الوتلی
3	له ليدل څخه چې يو بې قانونه تغير کوونکي مصدر دی	وينم	ليده	ليدلی
4	له چلول څخه چې يو قانوني مصدر دی	چلوم	چلاوه	چلولی

---

(1) **استمراری حال ته جاري يا اخباري حال هم ويل کيدای شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

5	له چلیدل څخه چې یو قانوني تغیر کړونی مصدر دی	چلیږم	چلېده	چلېدلی

د افعالو د اشتقاق پسینه او سرینه

له دغو پورته درې صورتو څخه چې نور افعال جوړیږي نو ضرور ځینی سرینه او پسینه علامې غواړي او دا دي په وروسته ډول بیانیږي:

سرینه:

1- (و) : دا یو سرینه توری دی چې د اطلاق او تجرید په معنا د استمراري حال، استمراري امر او ماضي په سر کښې راوړل کیږي او مطلق حال، مطلق امر او مطلقه ماضي تري جوړیږي لکه:

مطلق حال: وساتم – والوزم – ووینم – وچلوم – وچلیږم.

مطلق امر: وساته- [1] والوزه –ووینه – وچلوه – وچلیږه

مطلقه ماضي: وساته، والوته – ولیده – وچلاوه – وچلېده دا (و) مطلقې د تمنایي ماضي په اول کښې هم راځي لکه: زړه مې غواړي چې والوتلی.

2- (وبه) دا سابقه د مطلق مستقبل د جوړولو د پاره د حال له فعل څخه مخکښې راوړل کیږي لکه: وبه ساتم، وا به لوزم، و به وینم، و به چلوم ، و به چلیږم[2]

---

[1] مطلق امر له مستمر امر خه جوؤیاإي لکه (ساته) او مستمر امر د حال له فعلي مادې خه د خطابیگه) په ا ولو تیارپاإي.

[2] (به) په جمله ک - له واو نه وؤاندی کیاإي او د جمل د اول او مهم جز سره پیوستیاإي. لکه زه به سباله احمدووینم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3- (دې) داعلامه د غایب او متکلم امر د پاره د فعل حال د مخه راځي لکه: ودې ساتي – ودې ویني – ودې ساتم – ودې وینم [3].

پسینه:

4- (به) : دا توری تقریباً د استمرار او تاکید علامه ده، او د استمراري ماضي په آخر کښې د زیات استمرار د پاره راځي لکه: الوته به – چلېده به – دغسې د فعل حال په آخر کښې د استمراري مستقبل او تاکید معنا هم ورکوي لکه: الوزم به – چلېیږم به، پرته له دې څخه په نورو ځایو کښې هم استعمالیږي.

5- (وای =وی) : یوه تمنایي لاحقه ده چې د فعلي صفت په آخر کښې د تمنایي ماضي د پاره راوړل کېږي لکه (که سلیم مې لیدلی وای، که توریالی راغلی وای)

6- (یم، یو – یې ، یېٔ، دی ، ده، دي) دا کلمې په اصل کښې امدادي افعال دي خو د فعلي صفت په آخر کښې د قریبې ماضي د جوړولو د پاره راځي.

په دې کلمو کښې ضمیري رنګ هم شته ځکه چې په ترتیب د متکلم، مخاطب، غایب مفرد او جمعې د پاره استعمالېږي. سر بېره پر دغه د قرب علامې هم دي نو په دې لحاظ ضمیري یا فعلي لاحقې هم ورته ویلای شو. مثالونه یې دا دي: ساتلی یم – ساتلي یو – ساتلی یې – ساتلی یېٔ – ساتلی دی – ساتلې ده – ساتلي دي – ساتلې دي.

---

[3] (دې) هم د (به) خصوص ت لري او په جمله ک . سرته ي لکه: سلیم دې کریم ویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7- (وم، وو – وې، ویئ- و، وه – وو، وې) دا کلمې هم په اصل کښې امدادي افعال دي چې د بعیدې ماضي د جوړولو د پاره د فعلي صفت په پای کښې راوړل کیږي. سر بیره پر دغه، ضمیري رنګ هم لري او په ترتیب د متکلم، مخاطب، غایب مفرد او جمع د پاره استعمالیږی چې په دغه وجه یې ضمیري او فعلي لاحقې هم بولو. مثالونه یې دا دي.
ساتلی وم – ساتلی وو – ساتلې وې – ساتلی وئ – ساتلی وء- ساتلي وو – ساتلې وه – ساتلې وې.

8- (یي) دا دغایب د پاره یوه فعلي او ضمیري لاحقه ده او د فعلي صفت په آخر کښې د شك، احتمال او شرط په وخت کښې راځي لکه:

ښايي حمید زما کتاب ساتلی یي.

9- (وي) دا کلمه په اصل کښې د حال جاري امدادي فعل دی مګر کله د (یی) پشان د فعلي صفت په آخر کې د شك او شرط په وخت کښې استعمالیږي لکه: (ښايي د بورې ماشین چلېدلی وي، که چلېدلی وي ښه به وي).

10- (به یي، به وي) دا دواړه کلمې که د فعلي صفت په آخر کښې راشي نو په نږدې زمانه کښې شك او احتمال ښیي لکه (الوتلی به یي – چلېدلی به وي) [1]

یادګیرنه:

الف :- د (تلل، راتلل، ورتلل، درتلل) ماضی مطلقه له استمراري ماضي او دغسې مطلق حال یې له استمراري حال څخه نه جوړیږي بلکې خلاف القیاس (ولاړ، راغی، ورغی، درغی، ولاړ شي، راشي) راځي.

---

(1) م ر په جمله ک (به) له فعل نه مخک را ي لکه: ماشین به چلیدلی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب :- په ځينى دوه اجزايي مصدرونو کښې مطلقې صيغې لـه استمراري صيغو څخه د واو په زياتوالي نه جوړ يږي بلکې د لهجې په تغير لاس تـه راځي پـه دې ډول چې پـه مطلقو صـيغو کښـې پـه اولـه هجا باندې خج (اکسنت) راځي لکه: که حميد کار پريښود زه به يې هم پرېږدم.

ج :- د ځينو مطلقو ماضى ګانو پـه منځ کښـې کلـه واو هـم زياتيـږي لکـه وکوت، وخوت مګر دا زيـاتوالى اساسي تغيـر نـه دى او لـه مفرد غايب څخه پرته په نورو صيغو کښې نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه برخه ترکیبونه

لکه چې د کلماتو د تشکیل تر عنوان لاندې مو ویلي دي، په الماني ژبه کښې د پرېفکسونو په واسطه د کلماتو جوړښت په اشتقاق کښې داخلیږي او په فرانسوی کښې د ترکیب یو قسم باله شي.

په هر صوت دا فرق شاید د دغو ژبو د ځینو خصوصیاتو له مخه وي.

لاکن په پښتو کښې لکه چې ګورو پریفکسونه (سابقې) اول خو بیخي لږ دي، او که څه موجود دي نو هغه هم زیات په اصل کښې اسما او صفات دي چې د سرینه علامو شکل یې موندلی دی. هر څه چې سفکسونه (لاحقې) دي نو هغه اکثر بلکې ټول ادوات او حروف دي، له دې کبله په پښتو کښې د لاحقو په واسطه د کلماتو تشکیل په اشتقاق کښې داخل وباله شو، او د سابقو په واسطه د کلماتو جوړونه د ترکیب یو قسم بولو، ځکه چې زیاتې سابقې په پښتو کښې د جلا او مستقلو کلمو رنګ لري او که ځینې پکښې حروف دي هغه هم له بلې کلمې نه جلا لیکل کیږي، بنا پر دې په پښتو کښې د کلماتو ترکیب پر دوه ډوله دی: یو هغه دی چې له سابقې او یوې بلې کلمې څخه جوړیږي او بل هغه دی چې د دوو مستقلو کلمو له یو ځای کولو څخه لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرينه علامو په واسطه د كلمو جوړونه

په دې قسم تركيب كښې دوهم جزء اصل او آره او اول جزء متمم بلل كيږي ځكه چې د كلمې ټوله معنا د دې جزء په واسطه پوره كيږي.

د سابقو په واسطه په پښتو كښې صفات او نومونه جوړيږي چې بيان يې په وروسته ډول دی:

الف :- حرفي پريفكسونه :

1- (بې) : دا په پښتو كښې د نفي علامه ده چې د نومو په سر كښې د منفي صفت د جوړولو د پاره راوړل كيږي لكه:

له فكر څخه بې فكره [1]	له خولې څخه بې خولې
له خيال څخه بې خياله	له لار څخه بې لارې
له ډول څخه بې ډوله	له ژبې څخه بې ژبې
له سر څخه بې سره	له جوړې څخه بې جوړې (بې مثال)
له خوند څخه بې خونده	له كډې څخه بې كډې
له كور څخه بې كوره	له وټې څخه بې وټه (بې نقص)
له زړه څخه بې زړه	ښايي چې په بلمنګى هم په اصل كښې بې مالګې وي

2- (نا) : دا هم د نفي سرينه توری دی د مجردو نومو او صفاتو په اول كښې د منفي صفت جوړولو د پاره راځي او په فعلي صفاتو كښې زيات استعماليږي. لكه:

له فكر څخه نا فكره [2]	له بللى څخه نا بللى

---

(1) ب ، يو تغير وركوونكى حرف دی. د صحيحو كلمو په آخر ك . (ه) زياتوی او د مونثو كلمو (ه) په (ې) بدلوي لكه دغه پورته مثالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جوړ څخه نا جوړه	له ساتلی څخه نا ساتلی
له کار څخه نا کاره	له کتلی څخه نا کتلی
له پوه څخه نا پوه	له ليدونکی څخه نا ليدونکی
له بلد څخه نا بلده	له شوني څخه ناشونی
له چل څخه نا چله	له رغيدونی څخه نا رغېدونی
له خوبښ څخه نا خوښه	له وللی څخه ناولی
	(په اصل کښې ناوللی دی)

3- (نه) دا هم د نفي سابقه ده، مګر زيات استعمال يې په افعالو کښې دی او د دې په واسطه منفي افعال جوړېږي لکه :

نه ځي – نه کښېني – نه پاڅم – نه پاڅيده – نه دی راغلی – نه و راغلی – و نه ليد[1] او داسې نور، دا سابقه په فعلي صفاتو کښې هم استعماليږي لکه:

نه سترې کيدونکی، نه جوړيدونکی – نه رغېدونکی.

4- (مه) [2] دا سابقه د منفی امر د جوړلو د پاره د مثبت امر د مخه راوړل کيږي لکه: مه ځه – مه کښېنه – مه پاڅه – مه وهه – مه ګوره – مه چلوه – مه ويريږه:

---

(2) **(نا) هم تغير ورکوونکی حرف دی.**

[1] **دا علامه کله د فعل نه وروسته او کله د دوه اجزايي افعالو په منځ کې هم راځي لکه: حميد ځي نه، نه پري ږدم – پرې نکوٸ او نور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: لـه دغـه وړانـدې منفي صـفاتو څخـه مجـردو صـفونه د نـورو مجردو او صافو پشان د لاحقو په واسطه جوړیږي لکه:

بـې فکـري – نـا جوړتيـا – نـا بلـدي – نـا خوښـي – بـې خـولي تـوب – بې زړه توب

5- (هم) دا سابقه په پښتو کښې ډېر مثالونه نه لري خالی په دې وروسـته کلمـو کښـې د صـفت د جوړولـو د پـاره راغلـې ده او د معيـت او ورسـره والي معنا ورکوي لکه:

همځنګ، هم خيال، هم غاړی، هم عمر، هم ځولی ، همغاړه.

6- (پر) يو څو مثالونه پکښې موجود دي لکه: پر کټی ، پرديس ، پر ناله

صفتي پريفکسونه :

7- (کـم) دا سـابقه د نومـو پـه سـرکښې د صـفت د جوړلـو د پـاره استعماليږي لکه: کم عقل- کمزور – کم فکر – کم طاقت – کم همت.

8- (بد) د دې سابقې په واسطه په پښتو کښې ډېر صفات جوړ شوي دي لکه:

بدخرڅی= بدخرڅ (مسرف)- بدشکل- بدنام- بدمخی- بدسری- بد چلندی- بدپوری- بدرګ- بدسترګی- بدلمن- بدمرغی- بدژبې- بد لاری- بدځناور- بد لېوه- بدسولی (چې په هوش برابر نه وی) بدخولی- بدژوندی – [1].

---

[2] دغه د نفی سابقه غالباً په اکثرو اريايي ژبو ک . سره شريک دی. په سنکريت ک (نس،نه) د نفی توری دی، چ د پ تو (نه، نا) ورسره يووالی او نزديوالی لری.

(1) په مرکبو صفاتو ک (ی) هم د لاحق په أول زياتيإي او کله ب (ی) هم را ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

9- (یـو) د دې سـابقې پـه واسـطه ځینـی صـفات او قیـود جـوړ شـوي دي لکه: یوسترګی- یولاسی- یـووزری- یوسـتوی (یـك لا)- یـوازې- یـونیم- یوشان- یورنګ- یوډول- یوخېل- یوراز- یوځو.

10- (نیم)[2] د دې سابقې په ذریعه هم ځیني صفات او نومونه جوړ شوي دي لکه:

نیم ژوبلـه – نیم زالـی – نیمـه خوا – نیم ګړی – نیمکلـه – نیمچـه – نیمکوره – نیم برخی – نیم کښه دروازه (نیم باز) نیمګی.

اسمي پریفکسونه :

11- (خـوا) د دې سـریني پـه واسـطه ځینـي صـفات جـوړ شـوي دي لکـه: خوابدی – خواشینی، خواخوږي.

12- (شا) دا سابقه د صفاتو او نومو د مخه راځي او صفات او اسماترې جوړیږي.

صفات : شاکړوپی- شاتیتی- شاتوغی- شا کوپ- شاخوړی

نومونه : شـاتینګه (سنګدان) شـاډوله (یـوه لوبـه ده) شـاخیل- شـامتوله (یوه مرغۍ ده) شاغوت (په اصل شاګوته دی).

13- (شا ، بنا) دا دواړه سابقې اکثر د نومو د جوړوني د پاره راځي او د بنـه او لـوی معنـا ورکـوی لکـه: شـاتوت- شـاتیر- شـاکاسـه- شـاځلمی- شارګ- بناپېری- بنامار- بناپېرك

(2) **د (هـم، کـم، بـد، نـیم) سـابقـ د پـ ـتـو او پارسـی تـر مـنـ شـریـک دي. او د یـنـو مثالونه هم له پارسی سره شریك راغلي دي لکه: کم همت – کم عقل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

14- (سر) دا کلمه هم د سابقې په صورت استعمالیږي او ځینی صفات او نومونه پرې جوړیږي لکه: سرتور- سرکوزی- سرزوری- سرکښ- سر هوا- سرګوم (بې هوش)، سرتېری (سر باز)- سرخیل- سرلښکر.

نومونه دا دي سروری- سر باندې- سرکلی- سرکونډی- سر پښتي- سرتړونی- سرپوښ- سر پیچك- سرورخ - سرګړی (د غره یو خوشبوی واښه دي).

15- (خر) دا کلمه هم د سابقې په صورت د ځینو نومو په اول کښې راغلې ده لکه: خرمنډی (یو بوټی دی) - خروله - (مجنون بید)- خرغوږ- خرډګ (یو بوټی دی چې پاڼه یې پر زخم باندې ږدي).

د مصدر او فعل جوړولو سابقې

په پښتو کښې ځینی نورې سابقې شته چې اکثر د مصدرونو په اول کښې راځي. دا سابقې ځیني حرفي ځیني ضمیري او ځیني داسې ادوات دي چې کومه خاصه معنا یې هم نه معلومیږي، دغه شان دوهم جزیې هم مختلف صورتونه لري چې ځینی مستعمل معنا دار لفظونه دي او ځیني بې معنا کلمې ښکاري په دې قسم ترکیبونو کښې ځیني اجزاء په خپله اصلي معنا هم دلالت کوي او ځینی یې نه کوي بلکې یو بل مفهوم لري چې هغه یې له اجزاء وڅخه نه معلومیږي لکه (پرې وتل) چې د لویدلو معنا ورکوي او دا معنا یې په اجزاو کښی نه لیدل کیږي. د دې قسم ترکیبونو مثالونه دومره ډېر نه دي او په وروسته ډول بیانیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

16- (پرې) دا اصلاً یوه ارتباطي کلمه ده، چې د دې وروسته مصدرونو په سر کښې راغلې ده، له دې ترکیب څخه یو بل مفهوم راوځي چې له اجزاوٴ څخه یې نه معلومیږي. لکه: پرې وتل – پرې باسل – پرې ویستل – پرې ښودل – پرې کول – مکر په (پرې مینځل او پرې وژل) کښې د دوهم جزء معنا په خپل حال پاتې ده او بله معنا نه افاده کوي.

17- (پورې) لکه: پورې وتل–پورې ایستل– پورې باسل– پورې کول پورې وهل.

18- (کښې) په اصل کښې د ظرف توری دی چې د سابقې په صورت استعمالیږي لکه. کښېوتل، کښې ایستل، کښېباسل، کېښودل، کښېمنډل، کښېناستل، کښېنول، کښېکاږل، کښېکښل.

19- (دننه) دا سابقه له (دننه) څخه مخففه ده او یو څو مثاله لري لکه: ننه وتل– ننه ایستل– ننه باسل.

20- (جار) لکه: جاروتل، جارایستل، جار باسل.

21- (لاندې) لکه: لاندې وتل– لاندې ایستل– لاندې باسل– لاندې کول.

22- (را، در، ور) دا درې واړه ضمیري سابقې دي چې د مصادرو او افعالو په اول کښې راځي او د طرف معنا هم پکښې ده لکه : راوستل، راکول، راتلل، راوړل، راخکل (کش کردن)، راوتل، راوخکل، درتلل، ورتلل، در کول، ورکول او نور.

23- (پرا) لکه: [1] پرانیتل، پرانستل = پرانیځل (په یوه معنا دی).

---

(1) پر تلل هم غالباً له پراو تلل (وزن کردن) څه جوړ شوی دی او د مقایسه کولو معنا ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

24- (تېر) لکه: تېروتل، تېراېستل، تېر باسل.

25- (بیا) لکه بیامونتل = بیا موندل (بیا په معنا کښې څه فرق نه راولي).

26- (ن) لکه : نغوړل، نغرل، نغوتل.

27- (بو) لکه بوتلل.

له مستقلو الفاظو څخه د کلمو جوړونه

په پښتو کښې د الفاظو او کلماتو له ترکیب او یو ځای کولو څخه دا وروسته کلمې جوړیږي:

1. مرکب نومونه
2. مرکب صفتونه
3. مرکب فعلونه
4. مرکب قیود
5. مرکب ضمیرونه

نو مونږ هم په دغه ترتیب د پښتو د ترکیباتو بیانول غواړو. له دې ترکیباتو څخه[1] عموماً یوه بله معنا معلومیږي چې هغه به د اجزاو له اصلي معنا سره هم څه مناسبت لري.

(1) دې ولو ترکیباتو ته صرفي ترکیبونه ویل کیاږي. کوم ترکیبونه چ له هغو خه یوه کلمه جوؤول مطلب وي، او د یوې کلم حکم مومي لکه غوإوالة ، هغه درست صرفی ترکیبونه دي او کوم چ د یوي کلم حکم نه مومي بلک هره کلمه پک . انله حیثیت لري هغه نحوي ترکیبونه دي لکه (د لاس امسا).

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکب نومونه

په پښتو کښې مرکب نومونه څو قسمونه لري او د هغو د جوړولو د پاره هم بیل بیل صورتونه او لارې موجودې دي، مګر دلته د اختصار په غرض د فعلي او غیر فعلي نومونو عنوانو لاندې بیانیږي.

غیر فعلي نومونه (د شیانو نومونه)

په غیر فعلي نومو کښې ځینې د ذاتي او مادي شیانو نومونه دي ځینې غیر مادي نومونه دي یعنې د معنا په لحاظ پکښې جلا جلا ډولونه لیدل کیږي، مګر دلته یې مونږ د لفظي صورتونو او قسمونو په لحاظ بیانووڅکه چې د الفاظو په ترکیب کښې همدا شی مهم ښکاري.

په پښتو کښې د مرکبونو مود جوړوني بیان په وروسته ډول دی:

اول قسم: په پښتو کښې اول قسم مرکب نومونه هغه دي چې له دوو جلانومو څخه مرکب شوی او جوړ شوي وي دا قسم مرکب نومونه دا وروسته صورتونه لري:

1- اول صورت یې دا دی چې د دواړو کلمو تر منځ اضافي ارتباط موجود وي. یعنی یو مضاف الیه او بل مضاف وي. له دې قسم ترکیب څخه عموماً په پښتو کښې یوه بله معنا مرادیږي او د یوې ګوښې او ځانله کلمې شکل پیدا کوي. دغه شان په دې رقم ترکیبونو کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اضـافت (د) هـم عموماً حذفيږي دا راز مركـب نومونـه بيـا پـر دوه ډولـه راځي:

الف :- هغه دي چې د تركيب په وجه يې په اجزاو كښې څه تغير او بدلون نـه وي راغلـى لكـه: پـر هـر پاڼـه، ګـزك پاڼـه، بركـت بـوټى، مرغـۍ پښـه، غوايي ژبه، ټوپۍ ګل (ګل بابونه) خرغـوږ، خرولـه، شرغـشى، نمـر ګـل ، ليوغـونى [1] شـاتو مچـى ، سـبانارى ، نامـه غـوټى، كټمـل، بـوډۍ ټـال، ماښـام سـتركه، سـهار سـتركه، زنګانـه سـتركه، سـرورخ، سـتركو رپ، بادپكي، غوږوالۍ، اورګاډى (ريـل). پيريـانو كټـكى (څلور كونجه تـور غونـدى كـانى وي) مـلا بـانګ، نـس ناسـته (اسـهال) سر پښتـۍ – ګيـډړ واده (هغه باران چې په شين آسمان كيږي).

تبصره: په دي قسم نومو كښې ځينى خاص نومونه يعنى د كليـو او ځـايو نومونـه هـم موجـود دي لكـه: الدا د مينـه، سـلام مينـه، كـرم كـور، ميـاګـانو ډيـرى ، ميـاګـانو بانـډه، شـاخېل غونـډى، پښـتـون كـوټ، سيالكوټ او نور.

ب :- هغه نومونه دي چې په اجزاو كښـې يـې تغير او بـدلون راغلـى وي لكه: غړوندى (د غاړي وند = بند) / پښندى = د پښې وند / ترلـه (د تـره لور) چر بانګ (د چرګ بانګ)، وژغونى (وزوغنى) –پښتورګى – باډيوه (بـاد ډيـوه)، شـو لواښـه / تربـور (د تـره بـور = پـور) زړو كبـوى- مـالګوبې (د مالګې اوبه) – ايـروبې – غوړېچنـه – پيكـړه، زمركټـى – ميـښ كټـى،

---

(1) يو بوى دى چ   رڼ   ي   د ليوه پوكي ته ورته دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوبل (د غوايي پل) – غويمنډ = د غوايي منډ يا منډه)، غوب لرګی (د غوبل لرګی) – اورپښتی (د اور لـه پښته)، اوسپن خړی (د اوسپني خړه) کالو سر.

2- دوهم صورت يې دا دی چې د دواړو کلمو تر منځ د عطف ارتبـاط وي چې دې ته عطفي مرکب ويل کيدی شي. دا هم پر دوه رازه دی، يـو قسم هغه دی چې په کلماتو او اجزاو کښې يې څه تغير راغلی وي او بـل قسم هغه دی چې تغير پکښې نه وي راغلی.

الـف :- هغـه عطفي ترکيبونـه چې پـه اجزاو کښـې يـې تغيـر نـه وي پيښ شوی او د عطف توری هم پکښې نه وي دا دي:

مارمهۍ (يو دريابي مهی دی چې د مار په شکل وي يعنی هم مـار او مهی وي) / شوده پیۍ (يو بوټی دی) – لری برې / لوړه ژوره / مـرګ ژواك / ورکـړه راکـړه / پـره وره / چـم ګاونـډ / مـې وريجـې- ناسـته ولاړه – کنـدې کپرې – شنه زرغونه [1]

ب :- هغـه عطفي ترکيبونـه چې پـه کلماتو کښـې يـې څـه نـه څـه تغيـر پيښ شوی وي. د هغو مثالونه دا دي :

شوا روغ / انډوخر/ نر ښځی / سرو مال / ډنګ ډولی (ډانګ اوډولی).

<u>دوهم قسم</u>: دوهم قسم مرکب نومونه هغه دي، چې لـه اسم او صفت څخه مرکب شوي وي يعنی يو جزئ يې اسم او بل جزئ يې صفت وي.

---

(1) ددې ولو نومو په من ک اصلاً د عطف (او) شته لا کن د ترکيب له امله حذف شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داسې مرکبو نومو صورتونه په وروسته ډول دي:

1- اول صورت دا دی چې د پښتو د توصیفي ترکیب لـه قـانون سره سم اول صفت او بیا موصوف راغلی وي. دا هم بیا دوه رازه دی یـو هغـه دی چې په کلماتو کښې یې څه تغیر نـه وي راغلی او بـل هغـه دی چې تغیر پکښې پېښ شوی وي.

الف :- هغه مرکب نومونه چې لـه اسم او صفت څخه جوړ شوی وي او تغیر پکښې نه وي پېښ شوی دا دي:

اوږد غوږی [1] (خر) / شنه کوتره / مره تبه / لوی اختر / کـوچنی اختـر / توري اوبه / منځه ګوټه / غټه ګوته / کچه ګوته / اباسیند / ژیړی تبه / مړونـد / کـاپر ګـل / سـور ګلی / سـپین زر / سـره زر / سـور اغـزی / خـړه کوتره / سره مرچ / نری جوار / غټ جوار / خوږه ولـه / تـوره غـاړه / تـوري مچۍ/ سرې مچـۍ / زیـړ لـړګی / ډمبـر ګلـی (ګـل جعفـری) تـور لمـی / سـورلنډی / وچـولی / نـری وریجـې / وچکـالي / شـین ډنـه / سـوړ منـی (پسرلی) سورمېږی / ښانګه ورمېږي.

تبـصره: د کلیـو او ځـایو پـه نومـو کښـې هـم دغسې نومونـه ډېـر دي لکه:

سـره خـوا / تـوره خـوا/ وازه خـوا / بـر کلـی / لـر کلـی / نـری تنګـی / سپینکی تنګی / زرغون ښار / توره غونډۍ / توره شا / سپینه شا.

---

(1) **د (ی) زیاتوالی کوم اساسی تغیر نه دی، ول چ د کلم د اجزاو شکل نه بدلوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب :- هغه مرکب نومونه چې لـه اسم او صفت څخه جوړ شوي وي او څه تغیر هم پکښې راغلی وي دا دي:

سرېښنه (سوری ښنه)، تېزندی (تېزوند)، سره مخه، جوړوبې= آبشار (یعنی ځوړې اوبه)، کږ لیچ (کـج ګردشی)[1] خوړوبی، سړوبی (چې اوبـه پکښې سړېږي) تودوبی – حمام (ځکه چې اوبـه یـې تـودې وي) ځوړوبی، پرکټی (ښایی چې پردی کټی= بچې وی) سروبی (یـو ځـای دی چې سرې اوبه لري)، پردېس (پردی دیس)، خړوبې (خړې اوبه)، مړغونی= تربوز ابو جهل [2]

2- دوهـم صـورت یـې دا دی چې موصـوف د مخه او صـفت یـې وروسـته راغلی وي لکه: سرکوزی– مخ ځوړ– ورځلوی (قیامت) سالندی– سیند لاهو– نرسوی (سـوی انـار)– لوخړه (ښـایي چې اصـل یـې خړلـوګی وي) – مخ پیچومی– او نور.

3- دریم صورت دا دی چې اول جزء یې عددي صفت وي چې دېته عددي مرکب هم وایي لکه: درې ښاخی، درې غـاښی، پـنج غـاښی، دوپټـه، دوه خوخی، دو شـالـه، درې ورګـی (اشـتر سـه سـالـه)، پنجکـوره (یـو ځـای دی شاید په اصل کښې پنج کوره وي)، دوه سری (د یوه غره نوم دی)

<u>دریم قسم :</u> دریم قسـم مرکب نومونـه هغـه دي چې لـه اسـم او فعلي مـادې څخه ترکیب شوی وي. په دې قسم مرکبو نومو کښې اول جزء غـالبـاً

---

[1] کـه چ   د کاږ لیچ   په شان وی.

[2] کـه چ   مؤې غذ   لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يـا فاعـل او يـا مفعـول وي او دوهـم جـزيي فعـل وي، لکـه دا وروسـته مثالونه: غاښ چيچي (يو بـوټي دی)، هډمـاتی، زړه بداوی، کـور ودانـي (ماندينـه) زړه سـوی، نـس خـوړی، سـر خـوړی، نظرمـات، اودس مـاتي، روژه ماتي، سره لړي تبه (ځکه چي ساړه لـری)، ملاتړ (کومـك) د مـرکبي آلي نومونه هم په دي قسم کښي داخليـږي. يعنـی مـرکبي آلـی پـه پښتـو کښي له اسم او فعلي مادي څخه جوړيږي چي اول جزء يې په معنا کښي عموماً مفعول وي د دي مرکبو آلو په آخر کښي کله (ونی، ی) هم د لاحقو په ډول زياتيږي لکه: اور لړونی، سر ترونی، مچشړونی، غاښ ټومبونی، رګ وهـونی، غـوږ وهـونی، اوب شـيندی، لاس پـاکی، لاس وچـوونی، لاړ ګير، اورنيوونی، لاس ولونی، اورلړ، مچشړ.

کله د اسم او فعلي مادي ترکيب او يو ځای کېدل پـه اضـافي ډول هم وي لکه پښي ارته، نمر پرېواته، نمر خاته، کوچمال، څڅوبی (اوبو څڅ)

يادګيرنه: په پښتو کښي ځيني داسي مرکب نومونـه هـم شـته چي د دوارو اجزاو يا د يوه جزء معنا او مفهوم يې پوره نـه معلوميـږي او تقريبـاً نا مفهومي کلمي وي لکه:

کـال کونـډی، مـار کونـډی، بـډه ګـال، کټـه ميـری، کنـی کـاټر، ګـور ګټـې، شين تـغ، بـانې چغ، خـړ پوسـی، سـټ کوری، بـړه ګـړه، خوړلـوړی (شرين مزه) بورچنده (بچه مرده)

****

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فعلي نومونو ترکيب

لـه فعلـي نومـو څخـه مطلب مـصدرونه او د حاصـل مـصدر نومونـه دي. مرکب مصدرونه پـه پښتـو کښـې د کول او کېـدل پـه واسطه جوړيږي او دا وروستـه صـورتونه لري:

1- چي (کول او کېدل) د ذاتي يا مجرد اسم نه وروسته راشي. لکه:

اشر کول، تلوار کول، ښار کول، پام کول، لوکول، اسره کول، پـره کـول، پلمـه کـول، توره کول، ډنډوره کول، جرګه کول، کوژده کول، اوره کـول، واښـه کـول، ژړا کـول، رڼا کول، خندا کول، غلا کول، پرې کول، سورى کول، خپلوي کـول، وروري کـول، سيالي کول، ختې کول، يوې کول، ماتې کول، زارى کول، بخې کول، دارو کول، جارو کول.

2- چي اول جز يې بل بسيط مصدر او دوهم جز يې کول او کېـدل وي لکـه: وهـل کـول، چيچل کول، تلل کول، ګنډل کېدل، شړل کېدل، تلل کېدل.

3- چي اول جز يې صفت وي لکه: ملامت کول، پړ کول، خړ کول، آشنا کول،پخلا کول، تالاکول، ويده کول، خپه کول، جوړه کول، ښکاره کول، باري کول، خوندي کول، پاتې کول، ويلې کول، ترې کول، ورې کول، لاهو کول.

4- چي اول جز يې قيود او آدات وي لکه: کښته کول، وروسته کول، يوازې کول، ځانته کول، ايسته کېدل، بس کېدل، پورې کول، باندې کول، لاندې کول، پرې کول.

<u>**يادګيرنه**</u>: په دې تولو مصدرو کښې چې د "کول" پر ځاى " کيـدل " راشـي نـو کېدل والا مصدر ترې جوړيږي.

5- بل قسم مرکب مصدرونه هغه دي چې تر کول او کېدل د مخه له يوه څخه زيات اجزا لري لکه: مخه ښه کول، تور بريښ کـول، راشـه درشـه کـول، لـټ پلـټ کـول، خـواره واره کول، بې پردې کول، بې لارى کول، خوابدى کول، ببخونده کول، نا پوهي کول، ترلاسـه کول، پرځاى کول، ترمخ کول، ترمې ترمې کول، درې درې کېدل، پـه يـوه خولـه کېـدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تار پتار کېدل، پوري راپوري کېدل، پس پس کول، را په زړه کول، لاندي باندي کېدل، هغه دغه کول او نور.

6- پرته لـه کول او کېدل څخه د ځینو نورو بسیطو مصدرو په واسطه هم مرکب مصدرونه جوړیږي لکه:

لاس وهل، زړه وهل، پوري وهل، ټك وهل، لاندي وتل، لاندي ویستل، تر غاړي وتل.

تبصره:

الف :- د پښتو مرکب مصدرونه د معنا په لحاظ پر دوه ډوله دي :

یو قسم هغه دي چي د "کول او کېدل" سره مرکب جزء د مفعول حیثیت ولری او د فعل جزء ونه ګرځي لکه: تلوار کول، وابنه کول، وهل کول، لاس وهل، او بل قسم هغه دي چي د کول او کېدل سره مرکبه کلمه د مفعول حیثیت و نه لري بلکي د فعل جزء او د فعل په مفهوم کښي داخله وي. چي په دي صورت کښي به جلا مفعول غواړي لکه: دوست خپه کول، حمید پخلا کول، ماشوم ویده کول، دروازه پوري کول، دیوال پورته کول، غنم لو کول، دیوال سوری کول، میخ ټك وهل.

کوم مصدرونه چي اول جزء یي صفت او یا قیود او ادوات وي؛ هغه ټول په دو هم قسم کښي داخلیږي او کوم چي اول جزء یي مصدر وي هغه په اول قسم کښي داخل دی او کوم چي اول جزء یي اسم وي په هغو کښي دواړه قسمونه راځي.

ب :- هغه کلمی چي په (ا، ه، و، ی) سره مختومي وي لـه هغو څخه عموماً د "کول او کېدل" په ذریعه مصدرونه جوړیږي.

ج :- د کول والا مصدرونه ټول متعدي دي لکه پخلا کول او په (کېدل والا) کښي کوم چي اول جزء یي مصدر وي هغه هم متعدي دي لکه وهل کېدل، او کوم چي اول جز یي صفت یا حرف وي په هغه کښي ځینی لازمي راځي لکه:

ویده کېدل، پورته کېدل او ځینی متعدي وي لکه : خوندي کېدل، باندي کېدل.

مرکب حاصل مصدرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکب حاصل مصدرونه له مرکبو مصادرو څخه په لاندې ډول تیاریږي:

7- په ټولو کول والا مصادرو کښې د "ل" پر ځای "نه" راځي او مرکب حاصل مصدر ځنې جوړیږي لکه: تلوار کونه، پخلا کونه، وروسته کونه.

8- په کېدل والا مصادرو کښې د "ل" پر ځای (نه اوه) راوړل کیږي او حاصل مصدر ترې جوړیږي لکه : پخلا کېدنه، پخلا کېده او نور.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکب صفتونه

مرکب صفتونه هم لکه د مرکبو نومو لـه دوو یا زیاتو کلمو څخه جوړیږي او په آخر کښې یې کله (ی، اوه) هم د لاحقو په ډول زیاتیږي. په دې صفاتو کښې ځینې نسبتي او ځینې فعلي وي او د لرلو او کولو معناوې ترې معلومیږي. پـه پښتـو کښـې د مرکبو صفاتو مختلف قسمونه په وروسته ډول دي :

1- اول قسم مرکب صفتونه هغه دي چې لـه اسم او صفت څخه مرکب شـوی وي. دا هم بیا دوه صورته لري :

الف :- هغه صفتونه دي چې صفت او موصوف پکښې په اصلي ډول استعمال شوی وي یعنی اول صفت او وروسته موصوف وي لکه:

تریو مخی، تور مخی، تور سری، سپین سری، سپین ږیری، غونډ سری، کوږ سترګی، خږ سترګی، شین سترګی، کلك سترګی، مړسترګی، پوچ خولی، وازخولی، غوږژبی، چینګ خولی، لوی خولی، کینږ لاسی، تنګ زړی، کلك زړی، هیر زړی، تـور غـوږی، سور بوټی، بد غونی، سوږ وږمی، وچموری، ټول واکی، خپلواکی، غټ سری، لـوی خیټی، سوږ بویه، خوږ ژبی، بدمرغه، ځوانیمرګ، لنډ فکری ، بر لاسی.

ب :- هغه صفات دي چې په مقلوب ډول وي یعنی لومړی موصوف او وروسته صفت راغلی وي لکه : سر لوړی، سر ټیټی، شا ټیټی، سر تور، مخ تور، لږ مون خوړینی، زړه چاودی، پښې لوڅی، مخ روښی، زومړی، وړور مړی، مـور مړی، پـلار مړی، مـخ پټـی غوتی، کور ګډی، کور ډاګی، کور ورانی، سر پټی، سر لوڅی.

2- هغه مرکب صفات دي چې له عددي صفت او اسم څخه د توصیفي ترکیب په ډول جـوړ شـوی وي لکـه: یـو سـترګی، یـو لاسـی، یـو وزری، دوه مخـی، دوه ژبـی، څلـور بولی، دوه سری، دوه بندی اګی، لـس ډزی ټوپـك، شـپږ ډزې تمانچـه، دوه کـوره، دوه پوره، درې چته، دوه لاسه، درې ګوټه، درې کونجه، دوه دوبه (دو چند) دوه برخې، دوه برغې، څلوربولی (شاید چې څلور پلی وی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

3- دریم قسم مرکب صفتونه هغه دي چې لـه دوو نومو څخه جوړ شوی وي لکه: شناز ګیډی، غندل غاړی، سندر غاړی، لوبغاړی، رنځور غاړی، نمر مخی، پـې مخی، منځګوره (درمیانه، متوسط).

4- څلورم قسم صفتونه هغه دي چې لـه اسم او فعلي مادې څخه مرکب شوي وي. پـه دې قسم صفاتو کښې اول جزء غالباً مفعول وي لکه:

زړه سواندی، کـور ودانـې، کـور ورانـی، نـوم ورکـی، خبرلـوځی (خبـر لـوځ)، نـوم وړی، پوروړی، ملاماتی دودونه، تی روی هلك، اور مړ، لاس پاکې، پوز پاکی، ډوډۍ غرپ، تالی څټ، لارو هونی، مور روی ، سر غړاندی، ژب غړاند ، او کله پکښې اول جز فاعل او یا ظرف هم وي لکه : بادوړی، نمرسوی، نر سوی، مینه وړی، کوځه ډب.

5- پنځم قسم صفات هغه دي، چې لـه مصادرو څخه جوړ شوي وي او مرکب فعلي صفات بلل کیږي چې دا وروسته صورتونه لري.

الف :- چې دوهم جزء یې د متعدي "لام والا" او "ول والا" مصدرو څخه د (ی) بـه راوړلـو جوړ شوی وي، یعنی دوهم جز یې مفعولي صفت وي او اول جز یـې فاعـل وي لکه:

بلاوهلی، مار خوړلی، خدای ښنلی[1] تیغ وژلی، ټوپك ویشتلی، خدای شرمولی او کله یې اول جز مفعول هم راځي. لکه : آزار ګټلی.

ب :- هغه دی چې لـه کول والا او ځینو ول والا مصدرو څخه د اول جزء د وروسته د (کړی) په راوړلو سره جوړ شوی وي. دا قسم صفات عموماً مفعولي صفات دي لکه

پخلا کړی، تالاکړی، ویده کړی، تېره کړی، ښکاره کړی، مات کړی، تور کړی، مـوړ کړی او کله ور سره صریح مفعول هم راځي لکه: لاس پرېکړی، پوز پریکړی، غـوږ پرېکړی.

ج :- هغه دي چې د کیدل والا مصادرو څخه د (شوی) پـه را راوړلـو جوړیږي. دا قسم صفات لـه لازمي مصادرو څخه فاعلي او لـه متعدي مصادرو څخه مفعولي راځي لکه:

پخلا شوی، تالاشوی، مات شوی، مړ شوی، بلل شوی.

---

(1) درست فعلي صفات دری صیغ لری په ملینه (ی) د مفرد مذکر او په معروفه (ي) د جمع مذکر او په مجهوله (ې) د مفرد مونث او جمع مؤنث د پاره را ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

<u>**تبصره**</u>: يو څه مرکب صفات نور هم شته چې لـه دغو قسمو څخه وتلی دي لکه:

ژړغونی، مړ ژواندی ، زړه پورې ، پس مرګی، مات ګوډ ، سپيندروبې، غوړه مال.

د :- کـه چېرې د کـول او کېـدل والا مـصادرو پـه آخر کښـې د لام پر ځای (ونکـې- ونـی) راوړی شي نو په دې صورت کښې هم مرکب فعلي صفات جوړېږي. دا فعلي صفات پـه متعدی معلومو او لازمي مصادرو کښې فاعلي صفات بلل کيږي لکه: تلوار کوونکی، پخلا کـوونکی، مـاتوونکی، پورتـه کـوونکی، پخـلا کيـدونکی، پـاتې کېـدونی، او پـه متعدي مجهولو مصادرو کښې مفعولي صفات باله شي لکه :

بلل کيدونکی، وهل کيدونکی، پرې کيدونکی، پرې کيدونی، باندې کيدونکې.

مرکب فعلونه

مرکب افعال هغه دي چې د امدادي افعالو او خصوصاً د " کړل او شـول " د ګردان او صيغو په مرسته جوړ شوې وي.

په پښتو کښې درست مرکب افعـال حاليـه وي کـه ماضيه پـه منظم او قـانوني ډول جوړيږي او ټول د يو قانون او قاعدې سره سم راځي چې بيان يې په لاندې ډول دی :

حاليه افعال: د حاليه افعالو د جوړولو او ترکيب صورتونه دا دي:

1- (استمراري حال) "له کول والا" مصادرو څخه په دې شان سازيږي چې د "ل" د حذف نه وروسته د (م- و- ې- ئ- ي) متصل فعلي ضميرونه راوړل کيـږي لکـه: لـه پخلا کـول څخه پخلا کوم– پخلا کوو– پخلا کوې– پخلا کوئ – پخلا کوي[1] (په معروفه ي) او لـه کېدل والا مصادرو څخه هم استمراري حال په دغه شان راځې، مګر دومره ده چې "د" په "ږ" بدليږي لکه لـه پخلا کېدل څخه پخلا کيږم، پخلا کيږو ، پخلا کيږې، پخلا کيـږئ، پخلا کيږي.

---

(1) پـه پـ تـو کـ ـی د حـال د پـاره دغـه پنـ ـه صـيغی استعماليإي چـ اولـه د مفـرد مـتکلم، دوهمـه د جمـع مـتکلم دريمـه د مفـرد مخاطـب، لورمـه د جمـع مخاطـب او پنـ ـمه د مفرد غائب، جمع غايب او مذکر او مونث د پاره په شريك أول را ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- (مطلق حال) له کول والا مصادرو څخه د اول جزء نه وروسته د (کړم، کړو، کړې، کړئ، کړي "په معروف ي") په راوړلو سره لاس ته راځي لکه له[2] پخلا کول څخه: پخلا کړم، پخلا کړو، پخلا کړې، پخلا کړئ، پخلا کړي، دغسې لـه ځینـو "ول والا" مـصادرو څخه هم په پورتـه ډول راځي یعنی د اول جزء د وروسته دغه وراندې افعـال ګردانیـږي لکه له سپینېدل څخه سپین کړم– سپین کړو– سپین کړې– سپین کړئ– سپین کړي.

او لـه کیـدل والااو ځینـې "یـدل والا" مـصادرو څخه د اول جز پـه وروسـته کېنـې د "شم، شو، شې، شئ، شي" په ګردانولو د مطلق حال صیغې جوړیږي لکه لـه پخلا کېدل [1] څخه پخلا شم، پخلا شو، پخلا شې، پخلا شئ، پخلا شي. یـا لـه پاکېـدل څخه پاك شم، پاك شو، پاك شې، پاك شئ، پاك شي.

3- (امکاني حال) امکاني حال لـه ټولو مـصادرو څخه د مـصدر پـه پـای کېنـې د "ی" یـا "ای" په زیاتولو او بیا د "شم، شو، شې، شئ، شي" پـه ګردانولـو جوړیږي لکه لـه وهل څخه وهلی شم = وهلای شم، وهلای شو، وهلای شې، وهلای شئ، وهلای شي. یـا لـه پخلا کول څخه پخلا کولی شم = پخلا کولای شم، پخلا کـولای شـو، پخـلا کـولای شـې، پخلا کولای شئ، پخلا کولای شي.

4- (مجهول حال) مجهول استمراري حال له کېدل والامتعدي مصادرو څخه د معلوم حال په قاعده جوړیږي یعنی د"ل" پر ځای متصل فعلي ضمیرونه راځي او "د" یې په "ږ" اوړي لکه: له وهل کېدل څخه وهل کیږم، وهل کیږو، وهل کېږې، وهل کېږئ، وهل کېږي.

مجهول استمراري حال په دې ډول هم جوړیږي چې د بـسیطو مفعـولي صـفاتو یعنـی "ی والا" مفعولي صفاتو په آخر کېنې (شم، شو آلخ) راوړی شـي لکـه لـه وهلی څخـه وهلی شم (زده می شوم) وهلی شو، وهلی شې، وهلی شئ، وهلی شي.

---

(2) **له پخلا کول خه مطلق حال صیغ د "کول" د مترادف مصدر "کؤل" په کومك جوؤیإي.**

(1) **لـه پخـلا ک ـدل خـه د مطلق حـال صـیغ د "ک ـدل د مترادفـو مـصدر (شـول) پـه مرسته جوؤیإي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د مجهول مطلق حال د جوړولو طریقه دا ده چې د مفعولي صفاتو په آخر کښې (شم، شو تر آخره) ګردانیږي مګر د بسیطو مفعولي صفاتو د مخه یو "و" هم زیاتیږي لکه له وهلی څخه ووهلی شم (زده شوم) ووهلی شو، ووهلی شې، ووهلی شئ، ووهلی شي او د مرکبو مفعولي صفاتو د مخه "و" نه زیاتیږي لکه له پخلا کړی څخه پخلا کړی شم[1] پخلا کړی شو، پخلا کړی شې، پخلا کړی شئ، پخلا کړی شي.

5- (مستقبل) د مستقبل صیغې ټولې د حال له صیغو څخه جوړیږي او نور څه نه غواړي خالی "به" په لازمو ځایو کښې راوړل کیږي. مثلاً د استمراري مستقبل د پاره "به" د استمراري حال نه وروسته راځي لکه: پخلا کوم به، پخلا کوو به، پخلا کوې به، پخلا کوئ به، پخلا کوي به، یا : پخلا کیږم به، پخلا کیږو به، پخلا کیږې به، پخلا کیږئ به، پخلاکیږي به.

او د مطلق مستقبل د پاره "به" د مطلق حال په منځ کښې راوړل کیږي لکه:

پخلا به کړم، پخلا به کړو تر آخره یا پخلا به شم، پخلا به شو تر آخره.

دغسې په امکاني مستقبل کښې "به" د (شم، شو" څخه مخ کښې راځي. لکه وهلای به شم، وهلای به شو تر آخره او په مجهول مطلق مستقبل کښې "به" له "و" نه وروسته او یاد"کړي" نه مخ کښې راځي لکه: وبه وهلی شم، وبه وهلی شو تر آخره پخلا به کړی شم، پخلا به کړی شو تر آخره [1]

6- (د امر صیغې) د امر صیغې هم له حال څخه جوړیږي یعنی که د استمراري حال د اصلي مادې په وروسته کښې د متصلو ضمیرونو په ځای د مفرد د پاره د خطاب "ه" او د جمع د پاره "ئ" راوړی شی نو استمراري امر ځنی جوړیږي لکه (پخلا کوه – پخلا کوئ – یا پخلا کیږه، پخلا کیږئ) له ((پخلا کوم، پخلا کیږم)) څخه جوړ شوي دي او که چیرې دغه نښې د مطلق حال د وروسته راشي نو مطلق امر ځنې لاس ته راځي لکه:

---

(1) **دلته کاف ساکن ویل کیږي**

[1] **"به" چ په جمله ک راشی نو له فعل خه جلا کیږي او د اول نوم سره پیوسته را ي لکه زه به حمید پخلا کوم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پخلا کړه، پخلا کړئ، یا پخلا شه، پخلاشئ) چې لـه "پخلا کړم، پخلا شم" څخه ماخوذ دي.

ماضیه افعال:

1- (استمراري ماضی) له کول والا او کېدل والا مصادرو څخه په آسان ډول جوړېږي او د مصدر په آخر کښې د هرې صیغې د پاره خپل خاص فعلي ضمیرونه یعنی "م، و،ې، ئ، ه خفی، ل، ه جلی، ی) راوړل کیږي لکه له پخلا کول څخه : پخلا کولم، پخلا کولو ، پخلا کولې، پخلا کولئ، پخلا کاوه، پخلا کول، پخلا کوله، پخلا کولې[2] او لـه پخلا کېدل څخه (پخلا کېدم، پخلا کېدو ، پخلا کېدې، پخلا کېدئ، پخلا کیـده، پخلا کېدل، پخلا کېدله، پخلا کېدلې.

2- (مطلقه ماضي) له کول والا مصادرو څخه داسی جوړیږي چې د اول جزء د وروسته (کړم، کړو ، کړې، کړئ، کړ، کړل، کړه، کړې) ګردانیږي. لکه لـه پخلا کول څخه پخلا کړم، پخلا کړو ، پخلا کړې، پخلا کړئ، پخلا کړ، پخلا کړل، پخلا کړه، پخلا کړې او لـه "کېدل والا" مصادرو څخه د مطلقې ماضي د پاره د اول جزء نه وروسته (شوم، شوو شوې،شوئ،شو ، شول، شوه ، شوې) ګردانیږي لکه لـه پخلا کېدل څخه : پخلا شوم، پخلا شوو ، پخلا شوې، پخلا شوئ، پخلا شو ، پخلا شول، پخلا شوه، پخلا شوې.

3- (قریبه ماضی) له کول او کېدل والا مصادرو څخه پـر دې ډول جوړیږي چې د مرکبو فعلي صفاتو په وروسته کښې (یم، یو، یې، یئ، دی، دی ده، دي) راوړل کیږي لکه لـه پخلا کول څخه:

پخلا کړی یم، پخلا کړی یو ، پخلا کړي یې، پخلا کړی یئ، پخلا کړی دی، پخلا کړي دي، پخلا کړې ده، پخلا کړی دي، یا لـه پخلا کېدل څخه:

پخلا شوی یم، پخلا شوی یو، پخلا شوي یې، پخلا شوي یئ، پخلا شوی دی، پخلا شوې ده، پخلا شوي دي.

---

[2] په ماضي ک عموماً اته صیغ را ي چ په ترتیب د مفرد متکلم، جمع متکلم، مفرد مخاطب، جمع مخاطب، مفرد غایب مذکر، جمع غایب مذکر ، مفرد غایب موْنث او جمع غایب موْنث د پاره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4- (بعيده ماضی) لـه کول والا او کېدل والا مصادرو څخه پـه دې شان جوړيږي چې د مرکبـو فعلي صفاتو نـه وروستـه (وم- وو- وې- وئ- و- وو- وه- وې) ګردانيـږي لکـه لـه پخلا کول څخه :

پخـلا کړی وم-پخـلا کړی وو- پخلا کړی وې- پخلا کړي وئ- پخلا کړی و-پخلا کړي وو – پخلا کړې وه – پخلا کړې وې- يا لـه پخلا کېـدل څخه:

پخـلا شـوی وم– پخـلا شـوي وو– پخـلا شـوې وې– پخـلا شـوي وئ– پخلا شوی و– پخلا شوي وو– پخلا شوې وه– پخلا شوې وې.

5- (تمنايي ماضي) له کول والا او کېدل والا مصادرو څخه د تمنايي ماضي د جوړوني طريقه دا ده چې د فعلي صفاتو په پای کښې "وی، وای" راوړل کيږي. لکه له آشنا کول څخه اشنا کړی وای، يا له آشنا کېدل څخه آشنا شوی وای = وی.

6- (احتمالي ماضي) لـه دغو مصادرو څخه د احتمالي ماضي د جوړولو د پاره د فعلي صفت په آخر کښې (به يي، به وي) راوړل کيږي لکه: آشنا کړی به يی، آشنا شوی به وی.

7- (امکاني ماضی) د امکاني ماضي د جوړوني د پاره د ټولو مصادرو په وروسته کښې ((ی = ای) زياتيږي او بيا (شوم، شوو، شوې، شوئ، شو، شول، شوه، شوې) ګردانيږي لکه له وهل څخه:

وهلی شوم– وهلی شوو– وهلی شوې– وهلی شوئ– وهلی شو– وهلای شول– وهلي شوه– وهلی شوې– يا له ويده کول څخه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویده کولای شوم- ویده کولای شوو- ویده کولای شوې- ویده کولای شوئ- ویده کولای شو- ویده کولای شول- ویده کولای شوه- ویده کولای شوې.

تبصره: دا پورته د استمراري امکاني ماضی صیغې وې او که د مطلقې امکاني ماضي صیغې جوړول وغواړو نو په اول کښی به یې یو "و" هم راوړو لکه: ووهلای شوم، و وهلای شوو تر آخره.

8- (مجهولې ماضي ګانې) استمراري مجهوله ماضي پردې ډول جوړیږي چې له (کولی، کېدلی) څخه وروسته (شوم، شوو تر آخره) ګردانیږي لکه له آشنا کول څخه آشنا کولی شوم او له آشنا کېدل څخه آشنا کېدلی شوم، او مطلقه مجهوله ماضي داسې راځي چې له کړی څخه وروسته (شوم، شوو تر آخره) ګردانیږي. لکه له آشنا کول څخه آشنا کړی شوم. له پخلا کول څخه پخلا کړی شوم. او د قریبې، بعیدې، تمنايي او احتمالي ماضي ګانو د جوړوني د پاره د مفعولي مرکب صفت مثلاً(پخلا کړی شوی) په پای کښې د دغو ماضي ګانو علامې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راخي لکه لـه پخلا کول، کېدل څخه پخلا کړی شـوی يـم، پخلا کـړی شوی وم، پخلا کړی شوی وای، پخلا کړی شوی به وي.

تبـصره: پـه پښتـو کښـی لکه چې ښکـاره ده ټول مجهـول او امکـاني افعـال مرکـب افعـال دي او د امـدادي افعـالو پـه کومـك جوړيـږي او پـه معلومو غيـر امکاني افعـالو کښـی بيـا څه مرکب او څه بسيط دي. نـو معلومه شوه چې مرکب افعـال پـه پښتـو کښـې ډېر دي او پـوره بيـان يـې زيات وخت غواړي.

مرکب قيود او ادوات

مرکب قيود که څه هم پـه پښتـو کښـی نسبتاً کم دي مګر بيـا هم پـه وروسته ډول بيانيږي:

1- (د تعميم قيود) له څېلمې، لـه مخه، لـه يـوې مخـې، لـه سره، لـه يـوه سره، ګرد سره.

2- (د اشاري او ظرف قيود) دلته، هلتـه، دغلتـه، هاغلتـه،[1] هالتـه، دې خوا، هغه خوا، داسې، هاغسې، دغسې.

3- (د علت قيـود) څـه لـه = څـه تـه – څـه د پـاره = څه رنګـه، لـه املـه، له کبله.

4- (د مقدار قيود) څومره، څونه، دومـره، هـومره، هغـومره [2] هـاغومره، دغومره، لوکوټی، لږ غوندې، لږ شان.

---

(1) **له (لته) او (دا، دغه ، هاغه) څه جوړ دی، دغه شان، داسـ ، هاغسـ له دا ، هاغه او (سی) نه مرکب دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

5- (د تاکید قیود) هر ګوره، خامخا، ارومرو، هو بهو، کټ مټ.

6- (د نفی د تاکید قیود) هیڅکله، هیچرته، هیڅ شان، هیڅ ځای، هیڅ وخت.

7- (د مفاجات قیود) نا ځاپه، نا ګومانه، نا ببره، نا پامه.

8- (د استفهام قیود) کوم پلو، کومه خوا، چېرته، څه خیل، څه ډول، څه راز.

9- (د تشبیه قیود) لکه چې، په څېر، په شان، په رنګک، په دود، شانته.

10- ځینی نور مرکب قیود چې د بېلو بېلو معنا ګانو د پاره راځي دا دي :

تل تر تله، هر کله، پرله پسې، ژر تر ژره، یو له بله، یو په یو، سم د لاسه، څه نه څه، له لاځه، هر وخت، شامدام، خدای زده، خوچه، تر څو، څو چې، تر هغه چې، خوشی په خوشی، هیڅ ببځه، وچ په وچه او نور.

مرکب عددونه او ضمیرونه

هر کله چې مرکب ضمیرونه او عددونه په پښتو کښې دومره ډېر نه دي نو ځکه ځانله رانه وړي شول.

1- (ضمیرونه) مرکب ضمیرونه غالباً دا دي:

الف :- دا وروسته اضافي ضمیرونه په مرکبو ضمیرو کښی شمېرل کیږي لکه (دده- د دې- د هغه- د هغې- د دوی- د هغوی) دا رنګک که

(2) **د اشارې له کلمو او (مره، نه) څه جوړ شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په (ستا ، ستاسی، زما ، زمونږ) کښې "ز ، س" جلا وبولو نو هم مرکب ګڼل کیږي.

ب :- ځینې مبهم ضمیرونه لکه: هر چا ، هر څوك، هر څه، هیچا ، هیڅوك، نور څوك، بل څوك، نور چا ، بل چا ، نور څه، بل څه، یو چا ، بل یو، هر یو.

ج :- ربطي ضمیرونه لکه: چا چې، څه چې، هر څوك چې، هر څه چې، هر یو چې، ځینی چې، څومره چې، کوم چې، پکښې (په هغه کښې)، ترې (تر هغه)، پرې (پر هغه) .

2- عددونه :

الف :- له لسونه په پورته بې له یو څو عددو څخه نور ټول اعداد مرکب ګڼل کیږي لکه: یو ولس، دولس، دیارلس، څوارلس، پنځلس، شپاړس، اولس، اتلس، نولس، یوویشت، دوه دیرش، دري ځلوېښت، یو شپېته، دوه اویا ، یو نوي او نور...

ب :- د ټولو اعدادو په آخر کښې د مذکر د پاره (م) او د مونث د پاره (مه) راوړل کیږي. او رتبي عدد ترې جوړیږي لکه: دوهم، دریم، څلورم، پنځم، شپږم، اوم، اتم، نهم، لسم، شلم، دیرشم، سلم تر آخر مګر د ارقم اعداد د مشتقي اعدادو رنګ لري ولې چې یو حرف پکښې زیات شوی دی. دغه شان دیرش، ځلوینت، پنځوس، شپېته، اویا ، اتیا ، نوي هم مشتقي عددونه معلومیږي چې له (درې، څلور، پنځه، شپږ، اووه، اته، نه) څخه جوړ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الفاظو تکرار

په پښتو کښې د الفاظو او کلماتو تکرار هم ډېر لیدل کیږي. دا تکرارونه د څینو معنوي مقصدونو د پاره هم راځي، یعنی کله پکښې مقصد تاکیدوي او کله ورڅخه یوه بله معنا هم اخېستل کیږي چې هغه معنا یې له یوه لفظ څخه نشي مرادېدی، لکه (پټ پټانی) چې د یوې لوبې نوم دی او دا معنا یې له یو جزء څخه نه معلومیږي. دغه دواړه قسمونه په وروسته ډول بیانیږي :

<u>د الفاظو تکرار د تاکید د پاره</u>: تاکید او نه تاکید غالباً له دې څخه معلومیږي چې که چېرې د یوه لفظ یو جزء په خپله معنا پوره دلالت کاوه نوله دې څخه ثابتیږي چې بل جز یې د تاکید دپاره دی. مګر د لفظي استعمال په لحاظ دا قسم تکرارونه ډېر صورتونه لري او بیان یې په دې لاندې ډول دی:

<u>اول قسم</u>: هغه دی چې دواړه معنا دار لفظونه وي لکه: شاړ شپاړ ، ټوکې ټکالې، ټنګ ټکور، چپه چپتیا ، چال چلند ، تش تور، شاړ شډل، ټک ټوک،لوخ لغړ، ډنګ ډولې، اخوا دېخوا .

<u>دوهم قسم</u>: هغه دی چې یو لفظ یې معنا دار او بل یې تقریباً بې معنا وي چې په دې کښې تابع مهمل هم داخلیږي او دا وروسته صورتونه پکښې موجود دي :

1- اول صورت دا دی چې اصله کلمه وړاندې او تابع یې وروسته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف :- په دې کښې تر ټولو مشهور او زيات صورت دا دی چې د اولې کلمې د ړومبي حرف په ځای (م) راځي او هغه لفظ تکرار يږي لکه: ډوډی موډی، لرګی مرګی، لاس ماس، ګوته موته، دېوال ميوال، کور مور، کوزه موزه ، سړی مړی، مګر د کومو نومو په سر کښې چې ميم وي نو په هغو کښې اصل نوم تکراريږي لکه :

منګی منګی، مال مال، موټر موټر، مار مار، مړی مړی.

ب :- کله د اول حرف په ځای (پ) راځي او تکراريږي لکه: لوخ پوخ، مړ پړ، خړ پړ، زوړ پوړ، کلك پلك، سوړ پوړ، يخ پخ، وريت پيت، خل پل، وار پار، ليت پيت، نيغ پيغ، چغ پغ، لوځې پوځې، اړ و پړ، چټ پټ، غوړ پړ، شوك پوك.

ج :- کله د اول حرف په ځای (و) راځي او تکراريږي لکه:

کوږ ووږ، ګډ وډ ، ګارې وارې، ښانګې وانګې، کړه وړه، سټ وټ، چل ول ، تالاوالا ، خور وور، درې ورې، دانه وانه:

د :- چې اول حرف يې په (ب) تبديل او مکرر شي لکه: ارجل برجل، ډ ډبډ ، سوټ بوټ، جل بل، ايله بيله، ايشته بيشته، تبر ببر، ګړ بړ.

ه :- بل قسم هغه دی چې د دوهمې کلمې په منځ کښې (و) زيات شوی وي لکه:

ډب ډوب – ټس ټوس – کړپ کړوپ – کړس کړوس – ډز ډوز – زوګ زوګ – شر شور – ډنګ ډونګ – ټك ټوك – خړس خړوس.

و :- چې د اولې کلمې (ی) يا (و) يې په دوهمه کښې په الف بدل شوی وي لکه: ډول ډال، ټول ټال ، ټيپ ټاپ، ټېل ټال ، چېړ چاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصره: ځینی نور مثالونه چې په جلا جلا ډول راغلي دي دادي:

نوی نوزی، روغ رمټ، سوړ سمخ، اریان دریان، خپ دپ، تالاترغا، خبري اترې، زوړزپ، تورتم، کم کوز، ټیل ما ټیل، لنډو ګنډ، تس نس، سم دم، سوی لوی، مال هل.

2. دوهم صورت دا دی چې اصله کلمه وروسته او تابع یې د مخه راغلی وي په دې کښې زیات مثالونه داسې دي چې د متبوع د اول حرف په ځای په تابع کښې الف راغلی دی لکه: ادل، بدل، اخلی پخلی، ادوبدو، اریك شریك، اله ګوله، الغاو تلغاو، انې بانې، اغه دغه، ابغ نبغ او ځیني نورمثالونه چې هر یو په بېل بېل ډول دي دا دي:

تپه تیاره، ټپ ړوند، تم تری، اړو دوړ، الوول، جك جوړ.

د الفاظو تکرار د یوې معنا د پاره:

1- کله یو لفظ د یوې معنا د پاره تکرار شي او په آخر کښې یې یوه نسبتي لاحقه هم راشي لکه: کوړ کوړی، دوړ دوړکه، بوربوړکی، ګونګونی، غاړه غټی، غاړه غړی، توړ توړی، انډك سونډك، انډی کونډی، اکه پکه، ریز مریز.

2- کله د دغو مکررو الفاظو تر منځ (را، نا، په، تر، ا) راوړل کیږي لکه:

پټ راپټ، مات رامات، ورك را ورك، تله راتله، تګ راتګ، پېښ را پېښ، ښه نا ښه، جوړ نا جوړ، روغ ناروغ، مبلمه نا مبلمه، ټېل نا ټېل، بلد نا بلد، تېر په تېر، هېر په هېر، شا په شا، خوا په خوا، څنګ په څنګ، سر په سر، لاس په لاس، تار په تار، خوله په خوله، لور په لور،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ په مخ، غېږ په غېږ، خوله تر خوله، لاس پر لاس، مخامخ، شواشو، دبادب.

دکلماتو د ترکیب معنوي او لفظي حالتونه

درست کلمات عموماً دوه حالته لري: یو لفظي حالت دی او بل معنوي حالت.

دا دواړه حالتونه که څه هم تر ډېرې اندازې په تېرو بحثو نو کښې معلوم شول مگر په دې ځای کښی یو څه زیات وضاحت ورکول غواړو.

لفظي حالت: دوه کلمې چې سره یو ځای کیږي او پیوستیږي د لفظي حالت په اعتبار دوه صورته لري یو دا چې دواړه کلمې جلا جلا حیثیت لري او هره یوه بېل بېل کار اجرا کوي. مثلاً (تور قلم، د سلیم کتاب) په دې دواړو ترکیبو کښی دواړه اجزا سره بېل بېل دي او هره کلمه په مستقل ډول خپله معنا ورکوي. داسې نه ده چې د دواړو له پیوستولو څخه کومه بله معنا راوتلې ده. دې قسم ته مونږ نحوي ترکیب وایو.

پر نحوي ترکیب کښی تش د کلمو له موقعیت څخه بحث کیږي چې یوه کلمه څه مقام لري یعنی فاعل بااله شي، که مفعول که فعل او که بل څه په دې لحاظ دغسې ترکیب ناقص کلام هم بولي ځکه چې دوه کلمې پکښی سره یو ځای شوي دي مگر خبر یې لا معلوم نه دی، او که داسې ووایو چې (د سلیم کتاب ورك شو) په دې صورت کښی پوره او کامل کلام بلل کیږي، بل صورت یې دا دی چې دواړه کلمې جلا جلا حیثیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه لري بلکې د يوې کلمې حکم يې موندلی وي او په جمله کښې ورته يو شی يا فاعل يا مفعول او يا فعل ويل کيږي. دې قسم ته غالباً صرفي ترکيب وايو.

په دې کتاب کښې مخکښې بيان شوي ترکيبات ټول په دې قسم کښې داخل دي، مثلاً په دې جملو کښې (سليم پر هر پاڼه راوړه – کريم سرې مچۍ وچيچه) (پر هر پاڼه) مفعول او (سرې مچۍ) فاعل بلل کيږي چې په دې وجه د يوې کلمې حکم لري او کلموي ترکيب هم ورته ويلای شو. په مصادرو کښې هم دغه دوه قسمه ترکيبو نه ليدل کيږي لکه:

لاس وهل چې او لـه کلمه پکښې مفعول بالـه شي او نحوي تجزيه پکښې کېدای شي، مگر په ټك وهل کښې دغه بېلتون نه کيږي يعنی (ټك" ته مفعول نشو ويلای بلکې "ټك وهل" ټول فعل دی او مفعول به يې کومه بله کلمه وی لکه ميخ ټك وهل– په مصادرو کښې دا فرق ډېر مهم دی ځکه چې دا فعالو په اشتقاق کښې هم بيا ډېر فرق کوي، او د اول قسم څخه يو ډول او له دوهم قسم څخه بل ډول اشتقاقيږي مثلا لـه لاس وهل څخه ماضی مطلق لاس وواهه او له ټك وهل څخه (ټك واهه) راځي.

<u>معنوي حالت</u>: د معنوي حالت له مخه د پښتو ترکيبونه په بل راز دي او دلته بيا لفظي حالت ته نه کتل کيږي، لـه معنوي حالت څخه مقصد د ترکيباتو معنوي رنګونه دي چې په يو ځای کښې تقريباً حقيقي او اصلي معنا ورکوي او په بل ځايکښې مجازي او کنايي– دا بحث که څه هم ډېر مهم دی او ښايي چې يو مستقل کتاب پرې وليکل شي مګر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت د لړوالي له کبله د زيات بحث موقع په لاس نشته خو څه نه څه اشاره به ورته وکړو.

په مفردو او بسيطو کلمو کښې هم دغه معنوی فرقونه شته، مثلاً زمری چې د حقيقي معنا په اعتبار د يو حيوان نوم دی او که د يو سړي د پاره استعمال شي نو دا يې مجازي معنا ده ، په مجازي معنا کښې څه مشابهت او نسبت ضرور وي او قرينه هم غواړي. که څوك چا ته ووايي (چې هله زمريه! دا کار وکړه!) نو د کار کولو له امر څخه معلوميږي چې دلته مجازي معنا مطلب ده ولې چې حقيقي زمري ته خو څوك د کار کولو نه وايي يا مثلاً دا چې "سترګه را ختلې ده" دلته هم له سترګې څخه مجازاً نمر مطلب دی ولې چې حقيقي سترګې ته خو د را ختلو نسبت نه کيږي. اوس به راشو مرکبو کلمو ته، مرکبې کلمې هم دغه معنوي خصوصيتو نه لري او دا کلمې په پښتو کښې ډېرې دي مثلاً د "زړه توربدل" اصلي او حقيقي معنا متروکه ده او مجازاً په زړه بدبدلو کښې استعماليږي لکه چې وايي " له حميد څخه مې زړه تور شو). په دی مثال کښی غالباً د تور والي په نسبت کښې چې زړه ته شوی دی مجاز راغلی دی او دې ته په عربی کښی عقلي مجاز وايي. داسې مثالونه په پښتو کښی زيات پيدا کيږي خصوصاً ځينی مصدرونه او اسما په دغسې ترکيباتو او معنوي خصوصياتو کښې د جوهريت مقام لري او ښايي چې سړی ورته جوهري مصدرونه او نومونه ووايي. وروسته مونږ ځيني دغسې مصدرونه او نومونه له خپلو ترکيباتو او معنوي رنګونو سره ښيو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصدرونه:

1- (وهل) دا مصدر په ډېرو ترکیباتو کښې استعمالیږي چې اکثر مختلفي معناوې افاده کوي، مثالونه یې دا دي : لاس وهل، ګوتې وهل، جل وهل، جك وهل، بدې وهل، ځریکې وهل، زړه وهل، لاړ وهل، ډغرې وهل، رمبارې وهل، نارې وهل، رلی وهل، چینجو وهل، بزووهل، شخو نډوهل، شپېلۍ وهل، غوپه وهل، ککرې وهل، ګونده وهل، مرانی وهل، تندی وهل، سترګه وهل، ستن وهل، رګ وهل، پټکی وهل، لنګ وهل ، ټوپ وهل، پلتۍ وهل، جاج وهل، تلی وهل ، ځنګ وهل، میخ وهل، ټك وهل، پورې وهل، ټپل وهل، ختې وهل، پړك وهل، ځنډوهل، بډ وهل، ځپ وهل.

2- (اچول) لاس اچول، ډډه اچول، زړه اچول، انګتې اچول، تار اچول، پرده اچول، اړم اچول، ټال اچول، اچار اچول، پال اچول، ډاډه اچول، بچې اچول.

3- (لګول) لاس لګول، شالګول، ډډه لګول، زړه لګېدل، پته لګول، اور لګول، اړم لګول، مال لګول، خوله لګول، لرګی لګول، اوبه لګول ، شالګېدل، اړخ لګول.

4- (تړل) زړه تړل، خوله تړل.

5- (خوړل) زړه خوړل، ټکرې خوړل، بدې خوړل، قسم خوړل، سر خوړل، ټال خوړل، هوا خوړل، ګولۍ خوړل.

6- (اخستل) اور اخستل، په سر اخستل، بدې اخستل، لاس اخستل، پښې اخستل، بدي ورځې اخستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومونـه: ځینـی د ظاهري شـیانو نومونـه هـم د کلمـاتو پـه ترکیـب او د مختلفو معنا ګانو په څرګندېدولو کښې زیات تاثیر لـري او ډېـر ترکیبـات او جـلا جـلا معنـا ګـانې ځـنې معلومیـږي. دغـسې نومونـه یـو جـوهري خصوصیت لري چې د خپلې معنا په قوت ور څخه ډېر ترکیبـات زئیـږي. دا ډول نومونه زیات انساني اندامونه دي چې یو څو مثالونه یې دا دي:

1- (زړه): دا نـوم د ډېـر و کلمـاتو د جوړولـو د پـاره د اصـل او جذر درجه لري او یوه لړۍ کلمې ورڅخه جوړیږي لکه:

الـف : مـصدرونه: زړه کـول، زړه نیـول، زړه ټینګـول، زړه ماتېـدل، زړه چـاودل، زړه سـاتل، زړه وهـل، زړه تـرل، زړه کتـل، زړه خـوړل، زړه وړل، زړه ایستـل، زړه ټولـول، زړه لویـدل، زړه ښویـدل، زړه وتـل، زړه وخکل، زړه ختل، زړه بایلل، زړه تشول، زړه خوږېدل، زړه درېېدل، زړه سـړول، زړه سول، زړه بدول، زړه خړیدل، زړه ټکیدل، زړه بدېدل، زړه ورانېـدل، زړه خوربېـدل، زړه خوږېنېـدل، زړه سـپینېدل، زړه کړېـدل، زړه شـین کېدل، زړه رېږېدل، زړه تورېدل، زړه پړسول، زړه اچـول، زړه تـه لوېـدل ، زړه بد بد کېدل، زړه خولې ته راتلل.

ب : نومونــه او صــفات: زړه ور، زړه ورتیــا ، زړورتــوب، بــې زړه، زړوري، شـین زړه، زړه سـوی، زړه سـواندی، زړګـی، زړه سـر، زړه ټوټـه، زړه بدی.

2- (پښـه) پښـه نیـول، پښـې رااخستـل، پښـې خرل، پښـې غزول، پښـې ارتـه، له پښـو نه اچول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3- (خوله) خوله نیول، خوله لګول، خوله ماتول، خوله ور، بې خولې، لوی خولی، بې خولې توب.

4- (سترګه) سترګې سپینېدل، سترګه وهل، سترګې وتل، بې سترګو، سترګه ور، سترګو رپ، کلك سترګی، خړ سترګی، کوږ سترګی، سترګك، سپین سترګې.

5- (ژبه) ژبه کول، ژبه ماتول، ژبه ور، بې ژبې، بې ژب توب.

6- (غاړه) غاړه بندېدل، غاړه خلاصېدل، غاړه غړول، غاړه کېښودل، غاړه نیول، غاړه کول، غاړه وبنکل، غاړه اچول، اوچته غاړه ورل، غاړه غړې ورتلل، تر غاړې کېدل، تر غاړه وتل، غاړې کول، غندل غاړی، لوب غاړی، سندر غاړی، رنځور غاړی، اوږد غاړی، غاړه کې، غړوندی، غړانګه، پسته غاړه، جګه غاړه، د کمیس غاړه، د سیند غاړه، د غره غاړه او نور.

7- (مخ) مخ وهل، مخ کول، مخه بنه کول، مخه نیول، پر مخ تلل، مخور، مخوریز، مخامخ.

8- (سر) سرنیول، سرته رسیدل، سر خوړل، سرکول، په سرختل، سرتلل، سر خوړول، سرګرځول، سر لګول، سر سرتورول، سر په سرکېدل، سرټرونی، سر تور، سر په سر (مساوی).

9- (غوږ) غوږ نیول، غوږ ایښوول، غوږ نه ړیول، غوږ ور، غوږین، غوږوالی، غوږی، غوږو، لوی غوږی، سپر غوږی، تور غوږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

10- (لاس) لاس لګـول، لاس وهـل، لاس اخـستل، لاس پورتـه کـول، لاس ورکـول، لاس رسـيدل، لاس کېـدل، لاس پـورې کـول، لاس وينخـل، لاس نيوه، سمد لاسه، کينڼ لاسی او نور.

کتاب تمام شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مولف نور آثار

شماره	د کتاب ب نوم	کال هـ.ش	چاپ یا ناچاپ
1	پښتنې تور سرې	1318	نا چاپ
2	پښتو ادبیات – رساله	1318	په کابل کالنۍ کښې چاپ شوې ده .
3.	د مینو هینداره (ترجمه)	1320	نا چاپ
4.	پښتو نثر	1320	په کابل کالنۍ کښې چاپ شوی دی
5.	مومند عبد الحمید	1320	نا چاپ
6.	پښتانه شعرا دوهم ټوك	1321	چاپ شوی دی
7.	پښتو کلی شپږم سمستر (ګرامر)	1322	چاپ شوی دی
8.	د معارف د دریم ټولګي قرا ئت	1323	چاپ شوی دي (ترجمه)
9.	خوږې قصې	1321	نا چاپ.
10.	د پښتو د ادب تاریخ	1323	چاپ شوی دی
11.	د پښتو لومړی لیار ښوونکی (ګرامر)	1324	چاپ شوی دی
12.	د ژوند وظیفې ترجمه	1324	نا چاپ
13.	د معارف د شپږم دینیات ترجمه	1323	په کابل کانۍ کښې چا شوی ده.
14.	د پښتو ادب درې	1322	

(c) ketabton.com: The Digital Library

	مشهورې کورنۍ رساله		نا چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شماره	د کتاب ب نوم	کال هـ.ش	چاپ یا ناچاپ
15	د پښتو د اشعارو اقسام – رساله	1323	نا چاپ
16	د پښتو او سانسکریت ګرامری نژدیوالی رساله	1324	په کابل کالنۍ کښې چاپ شوی ده.
17	د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه	1324	چاپ
18	ځلاندې پلوشې	1324	ناچاپ
19	د پښتو لوی ګرامر په فارسي		چاپیږي
20	د پښتو او سانسکریت لغوی نژدیوالی رساله	1326	په کابل کالنۍ کښې چاپ شوې ده
21	د پښتو ننني لیکوال	1319	په کابل کلنۍ کښې چاپ شوې ده
22	د جلال الدین رومي تذکره – ترجمه	1318	په اتحاد مشرقی کې نشر شوې ده
23	افغانها و آزادې هند – په پښتو او فارسی	1327	

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ليکوال د دي کتاب له چاپ څخه وروسته د نورو آثارو فهرست

شماره	د کتاب ب نوم	کال هـ.ش	چاپ يا ناچاپ
24	د خوشحال خان بازنامه	1332	چاپ
25	د معارف د دريم ټولګي دينيات		څو ځله چاپ
26	د معارف د دويم ټولګي پښتو قرائت		څو ځله چاپ
27	د معارف د دولسم ټولګي پښتو	1345	څو ځله چاپ
28	د معارف د پنځم ټولګي پښتو قرائت		څو ځله چاپ
29	د پښتو قصي	1331	چاپ
30	د پښتنو مجاهدي	1330	چاپ
31	د پښتنو مجاهدي	1331	چاپ
32	پښتون يار	1331	چاپ
33	د پښتو مصدرونو لارښود	1344	چاپ
34	د هند سفر	1334	چاپ
35	د ژوند سندره	1330	چاپ
36	د پښتونخوا پيښي	1334	

(c) ketabton.com: The Digital Library

37	ژبنبودنه	1341	چاپ
38	د پښتو عروض	1344	چاپ
39	طب نامه	1344	چاپ
شماره	د کتاب ب نوم	کال هـ.ش	چاپ یا ناچاپ
40	تاریخچه ادب پشتو	1333	چاپ کابل کلنۍ
41	سوري شیرشاه (شیرشاه سوري)	1334	چاپ
42	د فراه پېژندنه	1326	چاپ
43	د علی خان پېژندنه	1336	چاپ
44	د پښتو قلمي نسخې	1347	چاپ
45	د پښتو پېژندنه	1356	چاپ
46	د ا لماتا سفر	1351	چاپ
47	د آریانا دایرۍ المعارف	1356	چاپ
48	د پښتو قلمي نسخو د څېړني لارښود	1347	چاپ
49	د قطغن سفر	1330	چاپ
50	پښتني لارښود	1365	چاپ
51	روښان ستوری	1366	چاپ
52	نومیالي پوهان او غازیان	1367	چاپ
53	د پښتو تاریخي سیمینار	1366	چاپ
54	د پښتو نثر هینداره	1342	1372 چاپ
55	نوې څېړنه	1358	چاپ
56	ادبي او تاریخي سموني	1371	چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

57	د پښتو ادبي مکتبونه	1368	چاپ
58	ادبي ليکونه	1373	چاپ
59	د مهتمم ژوند	1367	چاپ
60	د ننګرهار ننداره	(1328)	چاپ 1374
61	لرغونی پښتو	1373	چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شماره	د کتاب ب نوم	کال هـ.ش	چاپ یا ناچاپ
62	د ژوند پلوشې	1374	چاپ
63	نومیالي شاعران	1370	چاپ
64	خوږې وږمې	1376	چاپ
65	د ښکلا وږمه	1376	چاپ
66	د ژوند پلوشې دویم ټوک	1360	ناچاپ
67	په هند کې پښتو کتابونه	1359 1360	
68	خپلواك ژوند	1360	
69	نړۍ وال کانفرانسونه	1360	
70	د شوروي سفر	1336	چاپ
71	د مصر سفر	1337	چاپ
72	زما ژوند او هلې ځلې	1374	ناچاپ
73	نوې کتنه		ناچاپ
74	کره کتنه (تاریخي چارې)		ناچاپ
75	د هېواد ننداره	1358	
76	د زلمو وظیفې		
77	د ربتین د ژوند پېښې	1377	ناچاپ
78	د پوهاند ربتین مرکې	1377	ناچاپ
79	د بدخشان ننداره		چاپ
80	د الینگار او الیشنګ ننداره		چاپ
81	د خوست لیدنه		چاپ
82	د عشق آباد سفر		چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شماره	د کتاب ب نوم	کال هـ.ش	چاپ یا ناچاپ
83	انوك اردن		چاپ
84	نوی ژوند	1330	چاپ
85	د پښتونستان واقعات (پښتې)	1330	چاپ
86	د پښتو ادبیاتو تاریخ	1343	چاپ 1346
87	پیاوړي شاعران	1372	چاپ
88	وزم پوهنه		
89	پښتو ګرامر اول جز	1327	چاپ
90	پښتو ګرامر دویم جز	1370	چاپ
91	پښتو ګرامر اول او دویم جز (ژباړن هاشمي)	1372	چاپ
92	د اشعارو ډولونه	1374	چاپ
93	د جلال آباد تګ راتګ	1365	چاپ

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library